# نګارشاتِ چراغ

## ډاکټر چراغ حسين شاه

### سر ليکو نخښې


مائيتهالوجي........................................................................2

د افغانانو ديومالائي قيصې........................................................25

وروکے بخاره........................................................................35

پښتون او د پښتو ژبه..............................................................47

سليمان غر: اولنۍ افغان ټاټوبې..................................................61

قېسستان............................................................................74

روه روهي او روهېله................................................................84

د پښتنو د اصل نسل او د نسب سائنسي تجزيه...............................97

د بے ستون د کتې د تحليل سره ترلي کشالې.................................112

پښتو کښې د هنر خاوندانو مقام..................................................134

پښتو کښې حدي خواني.............................................................151

پښتو ادب کښې ملحمه..............................................................182

پښتو ادب کښې ادبي انځورګري (تصويري ادب)................................212

پښتون ناول..........................................................................241

انډو افغان سکول اف آرټ..........................................................265

پښتو شاعرۍ کښې غلوونکے متکلمانه عنصر....................................275

# مائیتهالوجي[1]

د میتهالوجي تورے مونږ ته د نورو ډېرو تورو په شان چې نن په کار راوستے شي، د زړو یونانیانو نه په لاس راغلے دے. اردو او پښتو کښې ددې ترجمه د یو مالا یا اساطیري قیصې کیږي. خو رشتیا خبره دا ده چې د نن سبا په نوو ژبو کښې په یوې کښې هم د دې صحي نعم البدل نشته دے. د دې توري د سم پوهې ښۀ طریقه به دا وي که مونږ د میتهالوجي په وجه تسمیه رڼا واچوؤ او داسې په دې باندې د پوهېدلو هڅه وکړو.

د میتهالوجي تورے د تقریر یا خبرو کولو د فن سره اړه لري او پینځمې صدئ شا و خوا د دې مطلب ؤ د قیصو یا د واقعاتو بیان۔ مؤرخ هیروډوټس به چې د زړو ایرانیانو او د یونانیانو په مینځ کښې د اوږدو جنګونو پوره داستان لیکل غوښتل، دې ته پرېشانه ؤ چې داسې نۀ وي چې دۀ نه چرته یوه نیمه واقعه پاتې نۀ شي. ولې چې هغې کښې ځنې واقعات دې بیخي رشتیا یا د اعتبار قابل ولې نۀ وي. هغه خپله خپل تاریخ کښې ددې خبرې اعتراف کوي چې خپل بیان کړي واقعاتو کښې د ډېرو

---

1 ړومبي چاپ: پښتو مجله، اکتوبر، نومبر، دسمبر ۲۰۰۴ کښه

رشتيني د يقين سره نشي ورکولے. خو هر کله چې دا ټول واقعات ډېر زيات زړۀ راښکونکي دي. نو دې د پاره دا پرېښودلے کېدے نۀ شي. د واقعاتو رشتيني يا غېر رشتيني دۀ خپلو لوستونکو ته پرېښودې دہ. چې د دوي خوښه ده چې کومې مني او کومې نۀ مني. نو داسې د شروع نه د مېتهالوجي مطلب يوه داسې زړۀ راښکونکې قيصه شوه چې د صداقت سره زياته اړه نۀ لري. خو صرف دې د خپلې زړۀ راښکونتوب په وجه سره ولوستلے شي. افلاطون دا خيال داسې څرګندې بوتلو چې کوم څيزونه چې زمونږ ذهن ئې قبلوي، دې رېښتوني اوګڼلے شي او چې کوم نه قبلولي هغه دې غلط يا دروغ اوبللے شي. وروستو زمانه کښې چې يونان کښې منطق استدلال او غوروفکر ته زياته توجه ورکول شروع شو. دې کښې هم د مېتهالوجي حېثيت فوري طور باندې کم نۀ شو. ځکه چې دا وخت دا مېتهالوجي د دوي د رواياتو قوي ورثه ګرځېدلې وه. نن به د مېتهالوجي مبصر دا وائي چې د يونايانو په مېتهالوجي کښې هغه هر څۀ موجود دي چې د هغې په بنياد زړو يونانيانو ځان يو بيل قام او بيل ځانته د يو تهذيب خاوندان ګڼل. هغه به دا هم وائي چې پاتې کلک رواياتو په شان د مېتهالوجي د طاقت او د رشتينې سرچينه د يونانيانو په ټولنيز فطرت کښې

وه. د نورو بیلو بیلو او ځاني قیصو په مقابله کښې د میتهالوجي بنیاد دومره ژور او زور ؤ چې ننداره کتونکي به د مخکښې نه دومره په یقین سره پوه وو چې دې ډرامو کښې به د فلاني کردار اخري انجام څۀ وي. ایتهنز والاؤ ته به دا هم د مخکښې نه پته وه چې د مذهبي تهوارونو په موقع د 'الیسکائي لس' او د سوفاکلین کښې دوي د یو مالائي عنصر ویني. د ټراۓ د جنګ انجام او ددې روستنو اثراتو یاد ایدې پس ویره ونکے انجام به یوناني تماش بین همیش مسحور ساتل چې څۀ وخت ایدې پس ته پته اولګي چې دۀ خپل پلار اووژلو او خپلې مور سره ئې واده اوکړو نو هغه د ایتهنز سره نزدې کولونس نومې کلي کښې د بوټو یو ځنګل کښې د ځان وژلو فیصله وکړي. دا خبره به یونانیانو د پاره ډیر ژوره مقصدي او د ذاتي دلچسپۍ باعث ګرځیدله. د دې المیې نه پس به یونانیان د جُرم سزا او د تقدیر په فلسفو باندې په غور کولو مجبور شو چې په اخر کښې د ایتهنز معزول کړے شوے بادشاه رها کړے شي.

څلورمې صدۍ قبل مسیح کښې یو همیرس چې د مقدونیه د بادشاه درباري فلسفي ؤ. دومره راسې اووې چې دا ټولې د یو مالالي قیصې اصل کښې د بهادر او د سرونو شیندونکو انسانانو دي څوک چې روستو قام د

عقیدت د پیرزوئنې په توګه دیوتا اومنل. دا دلیل عقل ته پرېوځي کله چې
مونږ د ټراے مشهور داستان لولو. نولسمې صدۍ عیسوي کښې ایشیاے
کوچک کښې د یو زوړ ښار کنډرونه راجوت شول چرته چې یو وخت
کښې د ټراے لوے ښار پروت ؤ. ایګامینن، ایجیکس، میني لاس،
هیلن، پیرس، ایکسیلس، هیکټر، نیسټر، او ډیس، پرائم د هومر د دواؤ
سترو قیصو ایلیډ او د اوډیسي کردارونه .... زرهٔ دا مني چې دا په ریښتیا د
ټراے د مشهور جنګ کردارونه کېدے شي. خو د حېرانۍ خبره دا ده
چې د هندوستان ستر رزمیه داستانونه مهابهارت او رامائن چې مونږ لولو نو
خاص کر رامائن او د ایلیډ قیصو کښې مونږ ډېر مماثلت وینو. ایلیډ کښې
د ټراے د ښار بربادي او رامائن کښې د رام په سري لنکا حمله او خپله
ښځه ستیا راخلاصول ښځي یو شان لګي. ایلیډ کښې هم د یونان بادشاه
پیرس خپله ښځه هیلن د ټراے د خلقو نه راخلاصوي. هیلن د دنیا د ټولو
نه ښکلې ښځه ګڼلې شي. داسې ښکاري چې هومر د قیصې او د هندوانو د
رامائن د قیبصې ماخذ یو وي. دا هم کېدے شي چې اګامینن اصل
کښې د مائي سینا بادشاه وي. خو کله چې هغه د یوناني فوځ د سر لښکر
د جوړېدو نه پس په ټراے حمله کوي او دې جګړې کښې دیوتا چې څنګه

په دواړو برخو کښې د وېش نه پس د انسانانو مرسته کوي نو مونږ ته ددې نه پس ته دا يوه ديومالا ښکاري که مونږ دې قيصې کښې د هېلن کردار په غور سره مطالعه کړو نو هېلن د چا په وجه چې دا جنګ کېږي دېوي زياته او بنيادمه کمه ښکاري. د ټمر دېوتا زيوس دا لور چې د يوې اګۍ نه پيدا شوې وي، د يونانيانو د زړو وختونو د بوټو يوه ديوي وه چا د پاره چې ټښتول او راخلاصېدل څۀ نوې خبره نۀ وه. د هغې اولنے ښتن ميني لاس چې د سپارټا بادشاه ؤ، عبادت هم يو وخت کښې د يو عذر په بنا کېدلو. دا خبره هم قياس ته نزدې ده. چې دۀ نه د بادشاه ايګاميمن ورور بيلو بيلو زمانو کښې د قيصې د بدلېدو په عمل کښې جوړ کړے شوے وي. ابليډ د دې ټولو قيصو اخېرنے شکل دے چې هومر ورکړے دے يعنې زړو قيصو کښې بنيادم او ديوتا دومره نزدې وو چې اوس مونږ ته د دوي بېلول يا د حقيقت او د افسانې فرق کؤل تقريباً ناممکنه دي۔

د متهٔ يا د ديو مالائي قيصې په لړ کښې د هومر دا پېچيده نظريه مونږ ته يوه بله خبره هم رايادوي او هغه دا چې متهٔ څنګه په بيل بيل شکل کښې باقي پاتې کېږي. دا په اصل شکل کښې مونږ ته رارسي. د مذهب يا مذهبي رسمونو يو مقدس روايت جوړېدو يا بيا داسې د يو تاريخي داستان په

شکل کښې مونږ ته رارسي چې د مذهب یاد تقدیس سره هیڅ تعلق نهٔ لري. رزمیه قیصې د مهم جوړې قیصې د پخواني لوئې کوره نو قیصې یا اسماني او غیر اسماني صحیفې دا ټول د متهس شاندار ترین مثالونه دي. د پخوانۍ زمانې اکثر علم مونږ ته د مته په توسط سره رارسیدلے دے. د جرمن دیومالا بیشتره برخه به بیخي تباه شوې وه که د انس لینډ عالم او سیاستدان سنوري سټرلوسن په دیارلسمې صدۍ عیسوۍ کښې د قبل مسیح د دیوي دیوتاګانو ذکر په تفصیل سره نهٔ وے کړے. هغهٔ خپلې او روستو زمانې د شاعرانو د پاره ډیره قیمتي پنګه د مته په باره کښې پرېښودې ده هغه د وائیکنګ Viking چې یوه سټره قبیله وه او قبل مسیح کښې د منځني ایشیاء نه یورپ ته لاړه او اباده شوه. د دور یعنې ۱۵۰ نه تر ۱۵۰ عیسوي پورې د وائیکنګ د مشرانو ذکر کړے دے. چې د هوښیارۍ او ښاغلتوب د کارنامو ګرد یو سټر مضبوط جرمن روایت ټاکلے شوے ؤ. دې کښې د چفر او دین او د یو قتل کوونکي هرو قیصې ډیرې اهمې وې. متهس د الوهیت او د خدائے په لور زمونږ پام راګرځوي او د دې نفس مضمون زمونږ نه دا سوال کوي چې مونږ څوک یو؟ دنیا څهٔ شے ده؟ او هغه ټول نظام څنګه دے چې دیوتاګان وربانديې حکومت

کوي. او دې سوچ نه تېښته نشته. زوړ سومرس چې نن عراق ورته وائي.
ددې ډېرې زړې ديومالائي قيصې مونږ ته دا وائي چې بادشاهي د اسمان نه
راغلې ده. دې ته د بادشاه د خدائے اختياراتو نظريه Divine Right of Kings
نظريه هم وائي. اکثر بادشاهانو به ځان ته ظل سبحاني يعنې د 'خدائے
سورے'. وئيلو او ديوتاګانو بادشاه خپل چوڼ کړې دنيا ته خپله نائب
رالېږلے دے. ٣٠٠٠ ق-م د عراق په هر ښار کښې ديو دېوي او ديوتا
مندر ؤ. چې هغه به د دې علاقې د پمه ولو (اوبو خور) ذمه وار ؤ. بادشاه
به صرف يو څوکيدار يا زغرنې والا به ؤ. دا مندر به همېش په يو اوچت
کمربانډې جوړېدو. چرته به د هغې خاص ديوي يا د ديوتا د خوراک
څښاک او د خلقو سره دملاقات انتظام کولے شو. اصل کښې هلته به
يو پادري ؤ چا ته چې انګرېزئ کښې Oracle او اردو کښې کاهن وائي.
خلق به صرف د هغه سره ملاوېدے شو ځکه چې هغه د خُدائے يا د
ديوتا ژبه وه. اربدو ښار کښې د دې مندر نوم اليسو ؤ. اليسو د هغې
خيالي خوږو اوبو د سمندر نوم ؤ، چې ددوي په خيال کښې د زمکې
لاندې موجود ؤ. د سومر اب وهوا نيم خشک او توده وه. باران بۀ کم
کېدلو چې د غلې کر د پاره ډېر لږ ؤ. ځکه د باغونو او د کرکيلې د پاره د

نهري اوبو ډېر زيات ضرورت ؤ. دې د پاره د نهرونو د کنسټلو لوګے او وارۀ سکيمونه جوړ شو. بندونه اوتړل شو. او د ډېرې مودې پورې د سستيم د پارنې په وجه د نهرونو يو ډک او مفيد جال اوپېرلے شو. دې د پاره د ايسو د مندر د اسماني مالک يا د ديوتا نوم 'انکي' پرېوتو چې مطلب ئې ؤ (د زمکې د فصلونو منتظم) حالانکې دا ټول کار خو به بنيادمانو کولو بادشاه به کولو خو نوم به د 'انکي' ديوتا کېدو. "انکي' ديوتا ؤ هم ډېر چالاک۔ هغۀ به د ځان نه زوره ورو ديوتاګانو يعنې انليل (د باد ديوتا) او نهر ساګا (د زرخېزی ديوتا) باندې صرف د خپلې چالاکۍ په وجه برياسے شو.

د يو روايت مطابق 'انکي'د زرخېزی د ديوتا نهر ساګا باندې د انسان د زېږنې په لانجې کښې بر شو. وائي چې د انکي د نهري نظام د قائم ساتلو د پاره به ديوتاګانو ته ځاني کار کول پرېوتل او هغه به ستړي شو. دوي انکي ته ګيله وکړه. پس د دې انکي او د هغه مور (نمو) د ديوتاګانو د سهولت د پاره انسان پيدا کړو. با د دې پېښې د نمانځلو د پاره د يو مېلمستيا بندوبست اوشو. چې هغې کښې دۀ او نوروديوتاګانو ښۀ شراب څښلي وو. نهر ساګا ډېر په نخر سره ووې چې زۀ په خپله خوښه سره يو بنيادم ښۀ او

بد جوړه وـلے شم , (ځکه چې هغه د زمکې د بنیادم د پیدائش او د زرخېزئ دیوي وه) انکي اووې چې داسې نشي کېدـے. پس مقابله شروع شوه. نهنر ساګا بۀ یو سړـے په ګوته کړو او هغه کښې به ئې یو څو کمزورئ واچولې. انکي به سمدستي هغه لرې کړې. او هغه سړـے به د دې جوګه شو چې ځاني روزي به ئې ګټلې شوه. قیصۍ کښې دا نشته چې څنګه؟ بیا انکي اووې چې اوس زۀ یو سړـے جوړه وم. تۀ هغه سم کړه. پس ددې هغه یو بوډا او کمزوـے بنیادم جوړ کړو او وې چې ته ئې اوس سم کړه. نهنر ساګا مقابله پرېښوده او منډه ئې کړه.

۲۰۰۴ ق.م کښې چې کله د سومر په سلطنت زوال راـغے او بابل اونینوا Assyrian ادوار شروع شو نو علاقائي دیوتاګانو د قامي اتلانو په شان خپل تشخص د قامي دیوتاګانو په توګه برقرار اوساتلو. خو د دوي د دنیا د انتظام کولو په باره کښې عقیدې کښې رو رو کمے راتلل شروع شول. د بابل مردوک او د نینوا اشور (دا اول بنیادمان وو) ټولې دوابې (د دواؤ دریابونو دجله او فرات د مینځ علاقه) کښې بې شانه طاقت اومونتو خو بیا هم د زړو دیوتاګانو قیصۍ دخلقو په ذهنونو کښې پاتې وې. څنګه چې انجیل کښې د نوح علیه السلام او د دوي د کشتۍ او د طوفان نوح علیه

السلام قصه موجوده ده. هم ښځي داسې قصه د عراق په سیمه کښې موجوده وه. وائي چې د ښارونو ابادي دومره زیاته شوې وه چې د دوي د شور په وجه انلیل دیوتا (د هواګانو دیوتا) ته به شپې ته خوب نه ورتلو. دې د پاره انساني نسل باندې ددهٔ تباه کوونکې حملې ډیرې مشهورې دي. وائي چې څهٔ وخت دے د شور نه ډیر تنګ شو نو دهٔ د دیوتاګانو یوه جرګه را اوبلله. او د دوي نه ئې په شریکه دا فیصله واخسته چې په انسانانو کښې دې ورو ورو طاعون خور کړي چې د دوي ابادي کمه شي او داسې د دوي شور هم، خو دوي کښې یو ډیر هوښیار بنیادم انکي ته دا خبره وکړه. د انکي په مشوره ټولو بنیادمانو ته اووئیلے شو چې هغه دې ښځې چپ اوسي. او د طاعون د دیوتا په مخکښې دې ډیر په عاجزئ سره زاري اوکړي چې هغه دې نهٔ راځي. پس ته د بنیادمانو د اجتماعي دعا په وجه نمتار (د طاعون دیوتا) جرګې ته ورنهٔ غلو. دې نه څهٔ وخته پسته چې شور ډیر زیات شو، (ځکه چې انسانان بهٔ اوس د ډیرې یرې غلي وی) نو انلیل ډیره سخته قحط سالي راوسته چې د هغې په وجه بنیادمان د لوږې مرهٔ کیدل شروع شو. انکي دیوتا یو ځل بیا دریابونو کښې دومره زیات کبان پیدا کولو نه پس د بنیادمانو سیمې ته راولیږل چې په دوي د قحط سالئ اثر

کم شو. خو انکي ته پته اولګېدله چې انليل انسانان پرېښودونکي نه دي. دې ځل خو هغه په عارضي توګه بچ شو خو اوس شايد انليل ټول ديوتاګان د يو ځاے کولو نه پسته يوه خطرناکه حمله وکړي. د دې نه وروستو هغه استراسس (هوښيار بنيادم) خبر کړو او هغه ته ئې مشوره ورکړه چې يو لوئے جهاز ساز کړي او هغه کښې خپل انساني قام چې څومره کېدے شي، سره د ضروري ځناورو کښېنوي. ځکه چې اووۀ ورځې او اووۀ شپې به زبردست بارانونه وي (د طوفان نوح په وخت څلوېښت ورځې او څلوېښت شپې بارانونه وو) دې د پاره هغې دانا انسان هم هغسې وکړل. او څۀ وخت چې ډېر ستر طوفان راغے نو هغه سړے. ددۀ د کور خلق ځنې نور خلق او ځنې ځناور بچ پاتې شو. د انليل سوا نور ټول ديوتا په دې تباهۍ ډېر پرېشانه شو او دې هوښيار بنيادم چې کله د طوفان د تېرېدلو نه پس خپل د کور خلق په اوچه کوز کړل نو دۀ د ديوتاګانو د پاره قرباني ورکړه (يعنې څۀ ځناور به ئې حلال کړې وو). ديوتا د دې قربانۍ په خوشبوئې ډېر خوشحاله شو او دوي د مچيو په شان د قربانۍ د غوښې او د پادري ګرد راغونډ شو.

په دې دوارو دیومالائي قیصو کښې ډېر ژور افاقیت او فلسفه پټه ده. کومې کښې چې ټوله دنیا تباه شوه او د یو انسان کورنۍ او ځنې ځُناور پاتې شو. دا دواړه قیصې خو د یو ستر او یو لحاظ سره اسماني موضوعاتو او مضامینو سره اړه لري. خو د ډېرې او د روستو زمانې قیصې د زمکې د موضوعاتو کړ ده چورلي. هغه د انساني شخړو او د غیر یقیني کیفیاتو کړده کړځي را کړځي او دیوتا صرف په پس منظر کښې اوسي. دې دیومالائي قیصو کښې بدقسمتي، کامیابي، ظلم، مینه، مرګ، کورني تعلقات، بې وفایانې، نوواو د زړو جنګ د ځوانۍ او د بوډا توب جګړه، جادو، طاقت، تقدیر، جنګ، اتفاق، لیونتوب، حادثات، لټون او بحري سفر خاص موضوعات دي. دې قیصو کښې پېښې دومره زیاتې او دومره خوندناکې وې چې د دې نه صفا د انساني ذهن د ښېرزاۍ پته لګي.

مذهبي قیصو اومیتهالوجي کښې د لږ ډېر مماثلت په بنا دا سوال پیدا کېږي. چې ایا دا زمونږ مذهبي عقیدې د دې دیومالائي قصو د انسان د کرشمه سازه ذهن د لاسه یو صفا شته او ملمع شوے صورت دے. او که دا اساطیري داستانونه د مذهبي عقائېدو مسخ کړوډ او تحریف او ترمیم

کړي يو قسم شاعرانه او اديبانه تخليلات او تصورات دي. د عقل او د وجدان داجګړه د هستۍ د ابتداء نه لا تر اوسه جاري ده.

د پوهانو د ديومالا ګانو په لړ کښې بيلې بيلې رائې دي.

د نفسياتو عالمانو ژنګ او رينګ ديومالائي قيصو ته د بني نوع انسان اجتماعي خوبونه وئيلي دي. د شلمې صدۍ په شروع کښې د کارل چنګ ورکړې دا رائې ډېره درنه معلوميږي. د دې جرمن نفسياتو ماهر دا خيال دے چې د بنيادمانو دوه شعورونه دي يو ذاتي او يو اجتماعي دد ۀ په ځاني شعور کښې خو هغه څيزونه يو ځائے شوي وي چې ددۀ د خپل ژوند تجربه وي. خو ددۀ ټولنيز لا شعور د زمانه قبل از مسيح واقعات. عقائد او روايات زمونږ شعور ته رارسوي. زمونږ سائيکي زمونږ د پلار نيکۀ شعور ده. چې د هغې وخت ژوند دنيا ديوتاګان او انسانان به ئې پيژندل.

ساده او اسان ټکو کښې ديومالا د هغو قيصو ګڼرو علم دے چې د ديوتاګانو سره تړلے شي. د ديومالا په وسيله بنيادم پخوانۍ زمانې کښې د کائنات سره جذباتي تړون پيدا کولو کوشش کړے ؤ. اي بي ټائلر واي چې غارونو کښې اوسېدونکے بنيادم فکري او ذهني لحاظ سره د ماشومالي دور کښې ؤ. څنګه چې ماشومان د خپل لوبو څيزونه د ځان په

شان قیاس کوي چې دوي ژوندي دي او د دوي سره خبرې کوي.
دوي سره خپل جذبات منسوب کوي. هم دا شان پخواني بنیادم هم
فطري مظاهر د ځان په شان روح او شعور لرونکي اوبا کل. او خیال ئې دا
کولو چې نمر سپوږمۍ غر سیند او بوټي هم دا شان د روح او د
شخصیت خاوندان دي. ددۀ په شان سوچ کوي او محسوس کوي. دې د
پاره دوي نه ئې دیوتاګان ساز کړل. او تیصې ګاري ئې ورسره اوتړلې.

رابرټس سمتهه ایندریولینك او چې جي فریذر په بیلو بیلو د اظهار طریقو
سره ددې نظریې توثیق کړے دے.

لینډریو لینك وائي چې د نړۍ ټول قامونو کښې د یو شان دیومالائي قیصې
مونتلې شي. ځکه چې هر ځائے د انسان د سوچ او د احساس انداز یو
شان پاتې شوے دے. د دې نه پرته د ټولو ملکونو د دیومالا بتیاد په
فولکلور وي. قیصو باندې ایښے شو دے. چې د بیل بیل قامونو تاجرانو او
سیلانیانو لرې لرې خورې کړې. په دې دیومالا کښې د علاقائي مذهبونو
رسمونو د راشه درشه د طرز فکر او د پوهې او د هوښیارۍ پنګه په لاس
راځي. کله چې یو ملک کښې د نورو قامونو قیصې په لاس راشي نو دا
ددې خبرې ثبوت دے چې دوي کښې د تهذیبي د راشي درشې خپلوي

قائمه وه.

دیوتاګان په دوه ډلو کښې وېش کېدے شي. (۱) ملګري او مرستيال، (۲) مخالف او موذي. د اسمان نمر سپوږمۍ وريځ زمکې . چشمې جهيلونو بوټي او د سيندونو پوجا «عبادت په ذوق او شوق سره کېدلو. ځکه چې هغه مهربان وو. طوفان د ګړزګوز مرګ او د مرضونو ديوتاګان خطرناک وو. د دوي د زړۀ خوشحاله ولو د پاره د دوي عبادت کېدلو. د ديوتاګانو د رضا او د مدد اخستلو د پاره د دوي په معبدونو کښې د قربانيو رواج شروع شو.

پخواني انسان بۀ زمکه ديوي خپله مور ګڼله ځکه چې د دې په غېږې کښې به فصلونه خوټېدل. زوړ مصر کښې امن رع د خدايانو خُدائے ؤ. انو اوان لل دسميريا لوئے ديوتا ؤ. بعل د بابل لوئے ديوتا ؤ. چې وجود ئې د غوسکي وزرې پرونه لرل او څهره ئې د بنيادم وه. شمس د نمر ديوتا او عشار د زمکې دېوي وه چې روستو د حسن او عشق ديوي جوړه شوه. د فونيقه ستر ديوتا مولک ډېر خونخوار ؤ يوناني ديومالا کښې دولس دېوي ديوتا وو. چې لوئے خدائے ئې زيوس ؤ چې روميانو به ورته جيو پيټر وې.

سمندرونو باندې دپوزیډون بادشاهي وه. د نمر دیوتا اپالو د صداقت او د نور مظهر ؤ. افرو دائټي د حسن او دعشق دیوي وه. د دې زوے کیوپډ د عشق دیوتا ؤ. ایران کښې متهرا (د هندوانو مترا) د نمر دیوتا ؤ. او اناهتا (ناهید) د عشق او حسن دېوي وه. د هند اریاؤ ستر دیوتا ګان اندر او اګني ؤ. روستو هندوانو د برهما شیو. ویشنو او ددوي د اوتارانو رام او د کرشن عبادت هم شروع کړو. د مېکسیکو لوے دیوتا لوپو ګلي د نمر دیوتا ؤ. د ناروے سویډن دیومالا کښې د ټولو نه ستر دیوتا اوډن ؤ. بالاړ د رڼا دیوتا ؤ. د دېومالاد تقابلي مطالعې نه پته لګي چې د پیدایش تکوین نړي وال سېلاب نیز دوزخ جنت شجر حیات د زمکې لاندې د بادشاهۍ روایات ټولو قامونو کښې کم و زیات یو شکل او صورت کښې پاتې شوي دي. مثلاً د عبرانیانو نوح علیه السلام د هندوستان مهانوو او د یونیانو د یو کلین یو دي چا چې خپلې کشتۍ کښې ځناور د سېلاب نه بچ کړل. د نړۍ په مذهبونو باندې د دیو مالااثرات ډېر ژور او دور رس دي.

په قول د کارل مارکس دیومالاد انسان د خپل تخیل د قوت په مرسته په فطرتي قوتونو د قابو راوستو کوشش ؤ. چې انسان سائنسي طریقو سره فطرتي قوتونو باندې برے اوموتتو نو دیومالاغائبه شوه. خو د نړۍ د قامونو

په شاعرۍ او ادبیاتو باندې دیومالا ئي قیصو ډېر اثر غورزولے دے. دا قبصې د تلمیحاتو په صورت کښې د نړۍ په ادبیاتو کښې داسې ورننه وتې چې نن هم شاعران او د قیصو ویونکي د دوي په حوالو سره د خپلو خیالاتو او د جذباتو اظهار لګیا دي کوي.

د قیصو دا درنه پنګه یقیناً د راتلونکي نسلونو د پاره ډېره زړۀ راښکونکې ډالۍ جوړه شوه او خاص کر زمونږ نسل د پاره ځکه چې مون دومره قسمت ور یو چې زمونږ شاؤ خوا کښې د ټولې نړۍ او د هرې زمانې دیومالا ګانې موجودې دي. مونږ د بیلو بیلو دیومالا ګانو ماتې ګډې کړیو مطالعه موازنه او مقابله کولے شو چې یو بین الاقوامي نقطه نظر سره مونږ ته د بیلو بیلو دیومالاؤ پټې لوړې ژورې او ګوټونه صفا ښکاره شي.

## د پښتنو میتهالوجي

سلطان محمد صابر صاحب خپل تاریخ 'قدیم پښتو او پښتون کښې لیکي:

سارګن یا سرجون چې د سرجیون، شرعون او د شېرعلي په نوم هم بللې شوے دے. داسې یوه تاریخي پیښه ده چې د لرغوني اثارو او کتبونه د نن زمانې محققینو ته راڅرګنده شوې ده. سرجون زوړ یا شیرغون ۲۳۰۰

ق م د سیمر بادشاه ؤ. دا قیصه د موسی علیه السلام د واقعې سره سمون خوري.

ترجمه: زما مور بدله وه. زۀ خپل پلار نه پېژنم زما د پلار وروڼه د غرونو سره مینه کوي. زما ښار (وطن) ازوپیرانو دے. او هغه د ایواپراتس (فرات) په غاړه پروت دے. زما بدلې مور زۀ په پټې طریقې سره اوزیږولم. زه ئے (اینا) په یو ټوکرئ کښې واچولم. او د هغې خوله ئې بنده کړه. هغې زۀ دریاب ته غوزار کړم. اوبو زۀ د اکي (د باغوان نوم) پۀ لور یوړم. اکی زۀ اوچت کړم. او زوئے په شان ئې اوپاللمه.

اکي (باغوان) زۀ باغوان مقرر کړم. زۀ څۀ موده باغبان پاتې شوم. بیا اېشتیا Ishtar (د پسرلو رب النوع) زۀ په خپلې مینې اونمائلم --- څلور کاله مې د بادشاهۍ اختیارات په کار راوستل.

سلطان محمد صابر صاحب د دې دیومالائي قیصې مطابقت په غل زوئي (غلځي) سرجون (خرشبون شرخبون) بیټ نیکۀ اکی ( د پښتو اکایاتره) یا آکا (قام) باندې کوي.

دلته يوه بله خبره هم د ياد وړ ده چې د ځينې مورخينو په خيال د سمير خلق د موجوده پښتونخوا د غرونو نه وتلي خلق وو. او ساي النسل نه وو. ځو د سرګون دزيږنې دا قيصه بيا هم د سمرين ديو مالائي قيصو برخه ده. چې د دنيا د ټولو نه زوړ تهذيب اثاثه ده.

داسې د پښتنو قبائلو ځانګه خپله شجره تر ضحاک تازي رسوي. ضحاک (زمانه ۳۰۰۰ ق.م) د شام د ملک يو افسانوي شهزاده ؤ. چې د جمشيد بادشاه د مړ کولو نه پس ئې د ايران په تخت قبضه وکړه. يو زر کاله ئې حکومت وکړو. اصل کښې ددهٔ نوم اجی دهاک دے چې عربۍ کښې ضحاک شوے دے. ضحاک عربۍ کښې زيات خندا کوونکي ته وائي.

وائي چې د ضحاک دوه غاښونه د پيدائښ د وخت نه بهر راوتلي وو. او داسې به ښکاريدل جوړې دے هر وخت خاندي. د خپل ظلم په وجه مشهور ؤو. د اجی دهاک مطلب په پخواني ايران کښې د مار کيږي. وائي چې ددهٔ د اوږونه به روز دوه اژدها راوتلي چې خوراک به ئې د بنيادموخوړل وو. کاوه نومې يو پشن (لوهار) د ضحاک د ظلمونو خلاف د بغاوت بيرغ اوچت کړو. د جمشيد د خاندان يو شهزاده فريدون ئې د بادشاهۍ د پاره تيار کړو. کاوه د خپلې بڼۍ نه د انقلاب بيرغ ساز کړو.

دې بیرغ ته به ئې درفش کادیاني وې. د فریدون فوځونو ضحاک ته ماتې ورکړه. زنځیرونو سره ئې اوتړلو. او د ماوند آتش فشان غرۀ ته ئې ورګوزار کړو. وائي چې تر قیامته به پکښې سوزي. دا قیصې د پرومیتهس باوند د دیومالا ئي افسانې سره ملاویږي. قلندر مهمند خپل دې اشعارو کښې دا تاریخي دیومالائي تلمیحات داسې په کار راوستي دي.

دا د ضحاک د وطن څۀ رواج دے

چې کاوه وژني کیقباد غواړي

دا بۀ د خوارې شیرینۍ برخه وي

چې مدام خپل مئین ناښاد غواړي

ضحاک د متي پښتنو نیکۀ ضرور بللې شي خو ددۀ دا متهس د ایران د تاریخ ورثه ګرځیدلې ده. او که څوک زوره ور پوهان محقق دا دیومالائي قیصې د ډیرو راښکلو او د مښلو پسته د کاسي یاد متي پښتنو سره اوتړي نو هغې باندې به د اردو دا متل صادق راځي چې:

کهاں کی اینٹ، کهاں کا روڑه --- بهان متی نے کنبه جوڑا

د پښتنو میتهالوجي د یونانیانو د هندوانو او د زردشتیانو د زړو قیصو نه متاثره ده. د پښتنو شفاهي قیصو کښې د تور دیوانو ذکر اکثر وي چې یو زردشتي تمثیل دے. داسې فتح خان او رابعه قیصې کښې د یونان د دیومالائي هیرو هرکولیس هم دا فتح خان دے. هسې فتح خان د سیکانو د وخت یو پښتون اتل ؤ. د ادم درخانۍ شهۍ دلۍ مومن خان شیرینو قیصې د مغلو د دور سره تړلي دي. خو یوناني مورخ هیرو ډوټس ته پښتون فلسفي شاعر غني خان یو طلسماتي او واهیات سړے وئیلے دے.

د مصر قیصې د جادو او ټوټکو په واقعاتو اډانه لري. د لقمان حکیم Aesop قیصې ټولې اخلاقي درس لري. ټول کردارونه بۀ ځناور او مارغان وو. چې په قیصه کښې به ګویان وو. پښتانۀ اوس هم دا نظربه لري چې پخوا به مرغان او ځناور ژغېدل. دا د نیکۍ بدۍ ظلم رحم اخلاص حرص او د بدنیتۍ علامتونه دي. د مذهبي کتابونو ټولې قیصې د انسان د اخلاقي او انساني معیار وچتولو او سمولو په لړ کښې لوئے کردار لوبوي. داسې د الف لیله قیصې قدامت اووۀ سوه ۷۰۰ کاله دے. دا قیصې عموما د جادو. پېریانو دیوانو او ښاپېرو وغېره مافوق الفطرت عناصرو باندې اډانه لري. وزیر او باچا سره د کوه قاف (کاکیشیا) د غر دیوانو او ښاپېرو ذکر هم

موجود وي. ډاکټر شېرزمان طائزے وائي چې د پښتو روايتي او ثقافتي قيصې په لړ بدل شکل کښې په پښتنه معاشره کښې مقبولې شوې. دې قيصو کښې ځنې داسې هم شته چې يوائې پښتنه معاشره کښې نۀ بلکې بېن المعاشرتي رنګ ئې خپل کړے دے. لکه د ګل صنوبر قيصه: ګل بکولي، ګل اندامه ښاپيېرۍ بهرام شهزاده وغېره او داسې ئې يو افاقي شهرت تر لاسه کړے دے.

پښتو کښې منظوم داستانونه شته چې هغه ټول روماني دي، لکه يوسف خان او شيربانو، موسیٰ خان او ګل مکۍ، مومن خان او شيرينۍ، ادم خان او درخانۍ، توردلے او شهۍ، جلاتے او محبوبا، وغېره پښتنو دې قيصو کښې خواه که هغه مافوق الفطرتي عنصر لري يا رومانی د ژوند کائنات خالق د کائنات او د موجودات په باره کښې خۀ خپل زړۀ راښکونکي خيالات او تخيلات نۀ دي وړاندې کړي.

د مېتهالوجي پښتون پوهان عبدالرحيم مجذوب ليکي: د پښتنو خپله مېتهالوجي د يو بل سره ګډه وډه شوې ده او بيا پښتنو د هغوي ديوي ديوتاګانو ته خپل پښتون وال نومونه ورکړي دي. بعضې مېتهالوجي د ايراني شاعرانو په وجه پښتنو علاقو ته راګډه شوې ده. داسې د هغو اسلامي قصو نه هم

ميتهالوجي جوړه شوې ده چې اکثر د هندوانو د ميتهالوجي په ضد کښې ليکلې شوې دي.

## د حوالې کتابونه


- Encyclopedia of World Mythology General edition, Arthur Cotterell.
- خرد نامه جلال پوري، علي عباس جلالپوري
- ژوندي خطونه د حمزه بابا
- ماضي کے مزار، سبط حسن
- موسی سے مارکس تک، سبط حسن
- د ډاکټر شېرزمان طائزي نه انټرويو او د عبدالرحيم مجذوب يو خط
- تاريخ ايران مصنف بريګيډير جنرل سر پرسي سائيکس
- اردوانسائيکلوپيډيا نوے ايډيشن د فېروز سنزلمېټډ

# د افغانانو دیومالائي قیصې[2]

مونږ د اکتوبر، نومبر، دسمبر ۲۰۰۴ د پښتو مجلې کښې چاپ یو مضمون میتهالوجي کښې د پښتنو په میتهالوجی هم ژغیده کړیده او دې خبرې ته مې اشاره کړې وه چې هر کله د پښتنو مینهالوجي د زردشتیانو، ایرانیانو، دیونانیانو او د هندوانو د متهس یوه ملغوبه ده نو افغان دیومالائي قیصو کښې سمیرین، سامي، بني اسرائیل، مصري او د عربي مذهبي او اخلاقي قیصو اثرات جوت دي داسې زمونږ دا نظریه ده چې افغان هله پښتانه وبلل شو کله چې دوي د پکتوت (پکتیکا) (موجوده صوابۍ او جهانګیره) په خاوره قبضه وکړه (دا ځان ته یو بحث دے).

بنو ښار کښې یو مشر ډاکټر سر انجام خان نومېدو انډین او وروستو پاکستان میډیکل سروس کښې ئې نوکري کړې ده اعلي تعلیم دپاره امریکې ته هم تلے وهٔ مونږ چې وارهٔ وو نو د بنو د مشرانو خلقو د خلو نه مو به دا اوریدل چې سر انجام خان ډاکټر د اعلي تعلیم دپاره د اېچ کافر په هډوکو کښې نوې دنیا ته تللے دے او واقعه به ئې داسې بیانوله چې اېچ کافر

2رومبي چاپ: پاخون مجله، ستمبر، اکتوبر ۲۰۰۹

دومره دنګ لوړ قدر لرلو چې د اسمان لاندې به تیټ تیټ ګرځېدو شېر د خداے (حضرت علي رض) سره ئې مقابله راغله. حضرت شېر د خُداے خپل قد دېرش ګزه ؤ، دېرش ګزه ئې د ذوالفقار توره وه او دېرش ګزه ئې اوچت ټوپ وکړو نو ایله د اېچ کافر ښنګري ته ورسېدو. د هغۀ پۀ ښنګري ئې ګوزار وکړو. اېچ کافر راپرېوتو او وجود ئې پۀ اوو سمندرو وېر خوراور پرېوتو.

زۀ د هغه وخت نه ددې دیومالاني قیصې د تاریخي ماخذ پۀ لټون کې وم یو څو میاشتې مخکې خپل یو ملګري پروفېسر عزیز ځان وزیر چې سم لوستے د کتابو چینجے عالم بنیادم دے، هغۀ راته ووې چې دا قیصه د بامیان (افغانستان) نه بنو ته راغلې ده او دا دوه کتابونه ئې را کړل:

۱) A historical guide to Afghanistan

۲) تاریخ ابن کثیر (اول جلد)

د دې دواړو کتابونو د تقابلي جائزې نه پته ولګېده چې اېچ کافر اصل کښې د بني اسرائیل قیصې کرداري اتل د عمالقه قام اوج بن عنق دے چې حضرت موسي (ع) د خپل عصا پۀ ضرب وژلے وۀ. بامیانو کښې

دا کافر اساطیري کردار يو اژدها دے او اتل شېر د خدائے حضرت علي رض ده بنو څو قيصې کښې کافر هم اېچ اوج بن عنق دے او هيرو سېدنا موسي (ع) پۀ ځائے شېر د خدائے علي رضي الله عنه دے۔

عدج بن عنق د عمالقه قوم يو وګړے وۀ چې بلا سورب وجود او اوچت دنګ قد ئې لرلو۔ اوج مطلب هم اوچت کېږي۔

هلال عيد بر اوجِ فلک هويدا شد

کليد ميکده گم گشته بود پيدا شد

اردو لغت د عمالقه پۀ باره کښې ليکي چې يو عربي قام چې د عمالق اولاد ګڼلے شي، د دې ذکر تورات کښې راغلے دے چې د بابل د مينار د پېښې پۀ موقع الله پاک دوي ته عربي ژبه ښودلې وه. فرعون د موسی عليه السلام هم د دې قام نه وۀ. دا ډېر زورور عربي قوم ګڼلے شي سېدنا موسي (ع) د دوي د تباه کولو دپاره پوځ استولے ؤ. د دوي مينځ کښې انغښتې تر ډېره موده جاري وې او تورات کښې د جزيره نما سينا پۀ قامونو کښې د عمالقه مدائينان او سابين عربستان ذ کر دے [3]۔

---

3 تمدن عرب پاڼه ۱۸۷۵ ۷۸

دا زمکه پخوا وختونو کښې د عمالقه وه چې د نړۍ ډېر زور قام ؤ۔ [4]

عوج بن عنق د حضرت آدم ع پۀ زمانه کښې پېداشوے وۀ او د حضرت موسي (ع) پۀ وخت کښې مړ شو. اصلي نوم عوج بن عوق دے.

تاريخ ابن کثير (جلد اول) ليکي چې د دۀ قد درې زره درې سوه دېرش ګزه او د يو ګز درېمه برخه وۀ . عوج بن عنق چې کله د بني اسرائيل پۀ لور روان وۀ نو اول د يو لوے غرۀ لمنې ته ورسېدو خو دا وخت چرته نه يو لوے مارغۀ راجوت شو او هغه دا غر ټکړې ټکړې کړو او د يوې ټکړې نه ئې د دۀ د غاړې حلقه سازه کړه او يا دا چې د موسي (ع) خپل قد لس ګزه ؤ. لس ګزه ئې هوا کښې ټوپ ووهلو، ايله د عوج بن عنق د ښنګري پورې ورسېدو اخر د هغة پۀ ښنګري ئې د خپل امسا ګوزار وکړو او داسې ئې ووژلو دا يوه ناقابل يقين مضحکه خېزه کيسه ده چې عوف البکالي صرف بيانه کړې ده. ابن جريد د ابن عباس پۀ حوالې وړاندې کړې ده خو د ابن جريد دا سند شکمن دے۔

ماته خپله د عماليق پۀ باره کښې د تفهيم القرآن (پانۀ ۳۸۱) دا بيان زيات معتبر ښکاري 'مصر باندې دا وخت (زمانه د يوسف ع) ۱۸۹۰ ق۔م ده

---

4 ۱۷ جوياے حق ٦٢

پنځلسم خاندان حکومت وۀ چې د مصر پۀ تاریخ کښې د ګډبانانو شپونانې بادچاهانو Hykosos Kigns پۀ نوم سره یادیږي۔ دا خلق عربي النسل وو او د فلسطین وشام نه مصر ته د تلو نه پس د دو زره کال قبل مسیح خواوشا زمانه کښې پۀ مصر قابض شو۔ عرب مؤرخین او مفسرین د قرآن دوي دپاره د اعمالیق نوم پکار راولي چې د مصریانو موجوده تحقیقاتو سره صحیح سمون خوري. عزیز د مصر د عمالیق او فرعون د مصر د قطبي خاندان نه وو.

## دریا اژدهر (Valley of the Dragon)

دا ښکلې وادي د بامیان نه د جنوب مغرب پۀ لور تقریباً د اتو کلومېتره پۀ مزل پرته ده۔قصه داسې بیانیږي چې پخوا زمانه کښې دلته یو اژده بلامیشت شو او د بامیان د خلقو دپاره یو آفت وګرځېدو۔ هغه به په دې سیمه کښې داسې حالات کښې ګرځېدو چې د خُلې نه به ئې د اور شغلې وتې او هر څۀ چې مخکښې به ورتل هغه به ئې خوړل. ډومره راسې چې اخر د علاقې بادشاه ورسره سودا وکړه چې بلا به نور چاسره غرض نۀ لري. کۀ بادشاه هغه ته روزانه یوه ښکلې ښاغسته پیغله، دوه ژوندي

اوښان، او ٦٠٠ پونډه نوره خوراکه ورکوي. وادي کښې امن راغے خو پۀ هغو کورونو غم خور شو چې دا قرباني به ئې ورکوله۔

کلونه پس يوه ورځ دا بلا د ناشتې دپاره ووته ځۀ کوري چې يو ځوان توره پۀ لاس د نازکې پېغلې دپارنې دپاره ولاړ دے۔ سمدستي جنګ شروع شو او هر کله چې د بلا د سپېرمو نه د اور شغلې ووتلې او پېغلې د خلې نه خدائے پاک ته فرياد ووتو چې مبادا دا ځوان د بلا خوراک نه شي جوړ۔ خو هغه حېرانه دريانه پاتې شوه چې ځوان ورمخکښې شو او پۀ بلا ئې د تورې ګوزار وکړو او د ده غټ وجود ئې دوه ځائه کړو۔

پېغلې وروستو کلي ته منډه کړل او وادي کښې ئې دا خبره وره کړه چې باميان ته شېر د خدائے حضرت علي رض راغلے دے. بادشاه سره د لوئې خزانې او مخلوق رعايا د دۀ د هر کلي دپاره راووتو خو د دوي د راتلو نه مخکې شېر د خدائے پۀ خپل اس دلدل باندې د هغه ځائے نه تللے ؤ۔

اوس د دې بلا د سر او رخسارونو نه د بهېدونکي وينې او د اوښکو څاڅکو نه د روانو معدنياتو چشمې جوړې شوې. د غرۀ پۀ سر کښې چې کوم ٩٠٠ فټه ژور چودون دے، هغه د حضرت علي رض د تورې د

ګوزار نخښه ده. دلته د ابشارونو د غورځېدو نه چې کوم اوازونه راځي هغه د دې بلا فريادونه دي. دلدل اس چې چرته قدم ايښے وۀ او ولاړ وۀ هغه ځائے يو زيارت دے.

د دې ځائے نه يو سل او نوي ۱۹۰ کلومېتره باندې د چشمو او د ابشارونو يو بل مقدس تفريحي ځائے دے. چرته چې د دې بل يو بچونګړے د حضرت علي رض د تورې د ګوزار نه مړ دے.

## شهرضحاک

دا اثار د باميان نه د مشرق پۀ لور د ۱۷ کلومېتيره په فاصله پراتۀ دي. دلښه د هفتاليانو، هنز، د چنګيز خان او د شنبعاني د وختونو زاړۀ کلي دي. د دې زړو اثارو سره د ضحاک بادشاه قصه تړلې ده. ضحاک يو عربي شهزاده وۀ چې د يوې بلا د اثر لاندې راغے او خپل پلار ئې وخوړلو. دې بلا د عقيدت نه دے پۀ دوارو اوږو ښکل کړو او بيا د نظر نه پناه شوه. ښکل کړي ځايونو باندې دوه مارانو سر را وچت کړو. د دې مارانو خوراک د بنيادم مغز وۀ.

د دې بلا د اثر پهٔ وجه ضحاک پهٔ ایران حمله وکړه چرته چې خانه جنګي لګیا وه. دهٔ ایران فتح کړو او زر کاله ئې بادشاهي وکړه. اخر فریدون بادشاه دے ونیوه او لرې غرونو کښې ئې واچولو.

کله چې ماران د نورو خلقو د مغزو د خوړلو نه محرومه شو نو پهٔ ضحاک ئې برید وکړو او داسې ئې مړ کړو.

د افغانانو پهٔ شجرو کښې دا ضحاک بادشاده د متي افغانانو نیکهٔ ښودلے شوے دے.

**بند امیر**

دا د بامیان نه ۷۵ کلومېتیره لرې د مغرب پهٔ لور پروت دے. دلته پینځه شپږ ډیمونه په یوه سیمه کښي پراته دي ۱ بند غلامان ۲ بند قنبر ۳ بند هیبت ۴ بند پنیر ۵ بند پودینه او ٦ بند ذوالفقار.

دا ټول بندونه شېر د خُدائے حضرت علي رض د کراماتو برکات ګڼلے شي. قدم جائے شاه اولیاء هغه ځائے دے چرته چې علي رض ولاړ یادیږي او د کوه هندوکش یو کافر بادشاه بار بر سره ئې مقابله کړې ده.

د بامیان د مزار شریف نه پرته قندهار په پۀ سیمه کښې د شاه مقصود زیارت دے چې د حضرت علي رض یو ملګرے وۀ. وائي چې حضرت علي رض د حفظ ما تقدم پۀ توګه څلور کفن تیار کړل. د شهادت نه پس د دوي تابوتونه پۀ څلورو اوښانو باندې ئې کېښودل. اؤلني اوښ باندې د حضرت علي رض جسد مبارک وۀ. هغه مزار شریف کښې ښخ کړے شو او درېو کښې یو دلته قندهار ته ورسېدو.

دا وضاحت ضروري دے چې د بامیان سیمه کښې زیات تعداد هزاره قوم دے او قندهار کښې تقریباً ټول افغان میشته دي. ورسره دا نکته هم اهمه ده چې حاکم د مرو ماهویه سوري د یزدګرد د وژلو نه پس د خپل حکومت دائره پۀ څلور لوري خورولو د پاره پۀ بلخ ، بخارا او هراتّ لښکر کشۍ وکړې او خپل حکومت ته ئې وسعت ورکړو. دا د حضرت علي رض د حکومت دور وه او ماهویه سوري به د دوي دپاره جزیه، خراج او مالیه راټولوله.[5]

## کتب استفاده

- اردولغت (تاریخي اصول پر) جلد سیزد دهم، ترقي اردو بورډ، کراچي

5تواریخ حافظ رحمت خان پاڼه ۵۵۵

- تاريخ ابن کثير جلد اول، البدايه و نهايه، نفيس اکيډمي کراچي
- تفهيم القرآن، مولانا مودودي
- An historical guide to Afghanistan, by Nancy Hatch Dupree, Revised and Enlarged, Afghan Tourist Organization, Kabul, 1977
- توراة حافظ رحمت خان، بمع حواشی معظم شاه او روشن خان

# وړوکے بخاره[6]

د تقدیس د علم او روحاني انوارو تجلیاتو په وجه نه مکے او د مدینے نه پس بخاره د اسلامي نړئ درېم مشهور ښهر یادېږي. د دے ځائے نه په اسلامي نړئے کښې وېر شوي سېدان نن ډېر په ویاړ ځانو سره بخاري سادات لیکي. داسے دلته د علم، حکمت، او د د شرعے نامتو فقهاء او محدیثین زیږېدلي دي. صحاح سته کښې اولنئ د حدیث مجموعه چې د قرآن پاک نه پس د ټولو نه زیات صحیح او معتبر کتاب ګڼلي شي، د دے راغونډونکے د محدثینو رئیس ابو عبد الله محمد بن اسماعیل امام بخاري هم د دے پاکے خاورے سره تعلق لرلو. هم دغسے د امیرانِ بخاره خپل یو تاریخي اهمیت او مقام دے. د دے تاریخي او مذهبي اهمیت د ښهر سره د مناسبت په وجه پښتونخواه کښې دوه کلمې د وړے بخارا په نوم به یادېدل. یو د ختکو شنوه ګډي خېل او دوېم کلے د یوسف زیو طورو مایار، دوه بېل بېل کلي دي خو اکثر یو ځائے لیکل شي. داسے شنوه

---

6روميي وار په پلوشے اګست ۱۹۹۹ کښې خپور شوی دی.

ګډي خېل هم مرکب نوم دے۔ شنوه بېل کلے دے او ګدي خېل بېل خو دے علاقے په ګډه شنوه ګډي خېل وائي۔

د چا چې په شنوه کښې کور نه وي، هغه دے داسے نه وائي چې کور ته ځم۔ خټک نامے کښې دا متل عام دے د دے متل نه په دے علاقے کښې د شنوے اهميت څرګندېږي۔

پخواني جاګير دارئ دور کښے به د معاشرے تهذيب او سماج او د انساني تمدن اډانړے pillars په درے طبقو باندے ولاړے وے۔ دا د عامو خلقو د لار ښودنے د پاره درے ضروري عناصر وو۔ چرته به چې دا درے واړه طبقے په ښه زور او جوبن کښې وے، هغه کلے به د علاقے په تمدني او سماجي ذيست کښې د اهميت حامل وو۔ دا درے طبقاتي عناصر به دا ؤو: خان، پير، او قاضي يا ملا۔

خان به د يو قوم يا د خېل د دنياوي شان و شوکت او د دبدب مظهر ؤو۔ داسے دنياوي پښتونولی معاملاتو کښې به د ده رائے حتمي او واجب د تعميل او احترام ؤو۔ پير به د آخرت د ژوند د کاميابۍ او د الله او د رسول ص د رضا د پاره واسطه او د دعاؤ د قبوليت د پاره وسيله وه، او د عامه خبره به کېدله چې څوک په دے دنيا بے پيره وي، هغه به

په بله دنیا هم بې پېره وي. دې پیر به د روحاني قوت په زور کرامات او کاشفې miracles ښکاره کولې. قاضي یا ملا به د فقهې یا د اسلامي قانون ماهر ؤو. د دین او د دنیا د مسائلو فېصلې به ئې کولې او داسې به ئې عامو خلقو ته د ژوند لارې ګودرې سمه ولې.

شنوه ګډي خېل او طورو مایار په دې تله ښه پوره ؤو. د شنوې په کلي کښې د څلوېښتو نه زیات جماتونه او مکتبونه ؤو، چې سحر ماښام به پکښې د قال الله او د قال الرسول ص خبرې، محفلونه، او درسونه کېدل، او د لرې لرې علاقو خلقو به ورنه فېض مونتلو. مازیګر به د کلي ځوانانو د کلي په خوړ کښې نېزه بازي او نشانه بازي کوله. د اوبو د چینو کثرت ؤو چې علاقه به ئې شنه او زرخېزه ساتله.

## ګډي خېل

د خېل غور نیکه ګډي په نوم ګډي خېل یادېږي. دا اول په بره څونتره کښې په ډم کلی (صابر آباد) کښې مېشت ؤو، هر کله چه د دوئي شمېر زیات شو او د دوئي ملکیت د دوئي د ګزارې د پاره کافي پاتې نه شو، نو دوئي رو رو د هغه ځائے نه د عیسی خېل د علاقې کلو څاپری ګرندی چشمئ او میته خېل په لور اوکوچېدل. هلته ئې شنډې زمکې

آبادے کړے۔ څه موده هلته پاتے شول بیا دوئي نه ځنے خېلونه غرونو کښې پراته مېدان او خوړه ته لاړل، او لاوارثه خو قابل کروندے زمکو باندے ئې قبضه وکړه۔

لکي مروت ضلع کښې د شموني خټک په نوم یو کلے دے۔ د دے کلي نیمه آبادئ د ګډي خېلو ده۔ تاریخ خټک کښې لیکلي دي چې ۱۸۶۴ء کښې د شنوے کلي اوسېدونکي شموني نوم ګډي خېل (منزئ بارک) د نواب خواجه محمد خان خټک یو کارواد (منشي) د خپل بد خوئي په وجه مړ کړو او د نواب صاحب د انتقام د ویرے مروتو علاقے ته د خپلو ځنے خپلوانو سره اوتښتېدلو او د کرمے دریاب په قطبي سیمے ئے په خپل نوم یو کلے آباد کړو۔ څه موده پس نواب صاحب د شموني قصور معاف کړو۔ او اکثر خټک بېرته خپل کلي ته لاړل۔ خو مقامي روایت دا ده چې د دے منشي د مرګ په وخت شموني په ټبري کښې د نواب صاحب سره ناست ؤو۔ د منشي نوم شېخ ؤو۔ یوے عوامي ټپے کښې دے تاریخي واقعے ته داسے اشره شوے ده چې:

شېخ منشي ئے مړ کړو په کمبلو کښې ئې ورېنه

شمونی په ټبري ده خلق زېري ته ورځینه

هر ګډي خېل د کافي زمکے خاوند وي۔ زمکه هم ښه ده دے د پاره زيات مال دار دي۔ د ملکيت د زياتوالی، د تعليم د کمۍ، او بل څه روزګار د نه لرلو باعث دوئي کښے د مرګ ژوبلے واردات ډېر کېږي۔

د دوئي چه کوم ملکيت په تهل علاقه کښ ده، هغه زمکه باراني خو ښه ده۔ ځائے په ځائے چشمے هم ملاوېږي۔ دا خلق نن صبا د نصرتيو په سوېل او سوېل نمر ختيز ته اوسي۔ ګډي خېل اصل کښ منزائی بارک خټک دي، ولے نن صبا ګډي خېل او منزائی بېلے بېلے څانګے دي۔ د دوئي په مېنځ کښ د زمکے وېش د دائی په نوم يو ډم کړے ؤو۔ لانديئ ټپے کښ دے واقعه ته داسے اشاره شوے ده:

دائی دائی دائی داسے وائي

سمه د ګډي، غر د منزئی

منزائی د بارک زوئے ؤو۔ خوشحال خان بابا چه پخپله هم بارک ؤو، د بارکو په باره کښ وائي:

تف په ژيره د همه وارو بارکو

لا د ما ژيره هم که زه بارک يم

ګډي د امن زوئے ؤو۔ د دوئي او د اکوړي داسے رشته ده:

بارک

╠ امن (منزائی)

║ ╚ ګډي

╚ ګل (ګل زئی)

╚ منډانړ

╚ اکو (اکوړي)

د ګډي خېلو خانئ کښ دران خېل، کمال خېل، مشرف، کوټانه، مینا خېل، مونا خېل، بشے خېل، او قتل خېل هم رائحي۔ نزدو وخت کښ سلطان جان ګډي خېل یو نوموړے ننګیالے او مېلمه پال ملک په دے ځانګے کښ تېر شوے دے۔

**شنوه**

د کلے د شنه غره په لمن کښ او د شنوے الګډے په غاړه پروت دے۔ دے د پاره شنوه ورته وائي۔ دا علاقه یو وخت کښبے د مروتو قبیلے ملکیت ؤو۔ د درېم شهباذ خان (د سرداري زمانه ۱۷۵۹ء نه تر ۱۷۹۹ء یا ۱۲۱۴ هجري په وخت کښ خټک په دے قابض شو۔ یو

روایت دا هم دے چې مروتو دا علاقه د احداد روشاني (چې د مغل بادشاه جهانګیر، زمانه حکومت ۱۰۱۳ هجري تا ۱۰۳۷ هجري، هم عصر ؤو) د شوکو او د ډاکو د تنګ راتلو نه پس پخپله پرېښوده۔ احداد په هغه وخت کښې د لواغر په غرونو کښې دیره ؤو۔

دلته چې کوم پیران صاحبان اوسېږي، هغه شویکی شریف کوهاټ کښې ښخ د مشهور بزرګ شیخ عبدالرحیم میانجي رح صاحب اولاد دے۔ او په وینا د صلاح الدین ابا خېل دا د مروتو قام اولنئ استانه وه۔ د دوئي تعلق د مروتو سره د هغے وخت نه معلومېږي چې مروت په ټول تهل علاقے باندې قابض ؤو۔ دے استانه کښې ډېر صاحب د کشف او کرامات او صاحب لوظ بزرګان تېر شوي دي۔ د مروتو د سپین ګیرو دا روایت دے چې مروتو کښې د مینا خېلو څانګے کښې د حکیم خان خېلو خانئ د شنوے د یو پیر د دعا برکت دے۔ داسے معین الدین مومن یار خټک څڅلئ رسالے کښې چاپ یو مضمون وطني ما کښې لیکي چې د خټکو د سیمې ملا نصیر الدین وطني ماما چې یو مشهور ټوق مار ؤو، عوامو کښې د ده د مقبولیت وجه د شنوے ګډي خېل یو پیر نور علي شاه دا دعا اوګرځېده: څه بچیه کوے به غل، کېږي به ګل۔

داسے د شنوے د قاضیانو صاحبانو خانزاده هم کافي مشهور ده چې اصل کښې د قاضي اخی الدین سلجوقي رح اولاد ده۔ چه اکوړه خټک کښې ئې نن هم مزار مبارک د عام او خاص خلقو زیارت ګاه دے۔ دے خانواده کښې ډېر علمی او د دیني شهرت حامله قاضیان تېر شوي دي۔ قاضي اخی الدین صاحب چې د ګنډي خانخېل لکي مروت کښې مېشته ؤو، د زکوړیانو استانه دار خانوادے مشهور قاضي ؤو، هم د دے علمي کورنئ سره ئې تعلق درلود۔ داسے د هنر او د کاریګرۍ په مېدان کښې هم د شنوے کسب ګر خاص کر زرګران ډېر مخته ؤو، لکه چې د دے ټپے نه جوتیږي:

د آشي[7] په شنوه کښې جوړیږي

خواترے[8] زرګره مات دے شه لاسونه

## آبادي

د یونین کونسل شنوه ګډي خیل ټوله آبادي کم زیات ۲۹۰۰۰ نفره ده۔ دا یونین کونسل د پټوار په حساب په دوه چکونو کښې وېشلے شوے ده:

---

7 د ښځو د لاس یوه ګاڼړه

8د سوېلي خټکو یوه علاقه

- چک منزائی
- چک شنوه کډي خېل

**کلی او دوئي آبادي په لاندې ډول ده:**

- چک منزائی (۲۱۹۰ نفر)
- شنوه کډ خېل (۲۰٦٦ نفر)
- مینا خېل (۱٦۸۸ نفر)
- کرمې ډنډه (۱۸۱٦ نفر)
- بنجغ غفور خېل (۱۷۲۸ نفر)
- جراسي (۱٦۷٦ نفر)
- پکی کډي خېل (۱۲٦٦ نفر)
- درشه خېل (۱۴٦۴ نفر)
- کیستر باندړه (۱۳۱۷ نفر)
- پائنده خېل (۱۴۱۰ نفر)
- بهرام خېل (۱۲۰۴ نفر)

- غرخان باندډه (۱۳۸۸ نفر)
- زرین کله (۱۳۸۴ نفر)
- ډګرسر (۱۳۱۸ نفر)
- مونا خېل (۱۱۷۲ نفر)
- شاه سلیم باندډه (۱۳۲۰ نفر)
- ډاک باندډه (۸۰۹ نفر)
- قاضي باندډه (۷۲۳ نفر)
- کوئی کله (۵۹۹ نفر)
- جنګریزي باندډه (۷۲۱ نفر)

**سکولونه او مدرسې:**

نن د خدائے پاک په فضل و کرم سره دے علاقې کښې دیني مدرسه او یو هائر سکنډري سکول په شاه سلیم کلي کښې دی او یو هائي سکول کریډنډه کښې ده۔ د دے نه پرته دلته دوه پرائمري سکولونه دي۔ د علاج معالجے د سهولت د پاره حکومت دلته دوه د صحت بنیادي مرکزونه

شاه سليم او مونا خېل کښې پرانستي دي چرته چه د نورو سهولتونو نه علاوه د بچو او د مېندو د پاره د حفاظتي ستنو د لګولو انتظام هم شته۔ د څکلو د اوبو او د پټو پنړه کولو د پاره ځانــۍ په ځانــۍ ټيوب وېلونه دي۔ عوام ته پکار دي چه د دے سهولتونو نه ښه د زړه د خلاصه او په ارت مټ فائده اوچت کړي۔

اميد دے چه دے تاريخي کلي او علاقــې نه به يو ځل بيا د هنر د پوهے او د معرفت پلوشے په تمام پختونخواه او خاص کر خټک نامے کښې خورېږي خو ورسره شرط دا دے چه دا خلق خپله دروغجنه پښتو، تربګنې، د قصد، او د حسد، مقدمه بازۍ، د قتل مقاتلے، او د غلط پېغور د عادتونو او خصلتونه پرېږدي۔ علم او تعليم ستر او اصل دولت او ښه صحت د خدائــۍ پاک لوئــۍ نعمت دے۔ اتفاق وروروليي او يو بل سره مرسته کښې لوئــۍ طاقت، فضيلت، او عزت پټ دے۔

نہیں ہے نا امید اقبال اپنے کشت ویران سے

زره نم هو تو یه مٹی بڑی زرخیز ہے ساقی

يوے نوے جذبے، اخلاص، حوصلے، او شوق سره د خپل تېر روښانه او شانداره ماضي په رنړا کښے د يو نوي تاريخ بنياد کېږدي۔ يو روښانه

سحر د دوئي په انتظار کښې ده۔ صرف د همت، زيار، او د يو مخلص ايمان داره کرشمه ساز ليډر شپ ضرورت دے۔

څانګه به نن صبا کښے ګل شي

ما ئے په سر کښې سرے غوټۍ ليدلي دينه

## حواله جات

- تاريخ خټک، مصنف سرفراز خان عقاب خټک
- څڅلئ، اوله ګڼه (ايډيټر وزير شادان، لواغر ادبي کاروان، کرک)
- زباني روايات، د پروفيسر ستار خان لواغري، قاضي سراج الدين صلاح الدين ابا خيل مروت
- د شنوے ګډي خيل په باره د ډي ايس وي EPI مير قلم خان خټک د موسيکانو راغونډ کړی اعداد او شمار۔

# پښتون او د پښتو ژبه[9]

د تاریخ علم په هغو روایاتو ولاړ وي چې تصدیق او ثبوت کښې ئې د درایت نه کار اخستې شي. د پښتون د نسل په باره کښې دوه نظرئیې ډېرې مشهورې دي. یوه اسرائیلي، او دویمه آریه نظریه[10]. او عجیبه خبره دا ده چې دواړه نظرئیې د لیک شکل کښې هغه وخت راغلې کله چې د پښتنو د دوه سخت مخالف قامونو اقتدار ؤو، یعنې بني اسرائیل نظریه د مغلو په زمانه کښې جوته د لیک په صوبت کښې مخته راغله، داسې آریائي نظریه د انګرېزانو په وخت کښې په وجود کښې راغله. صرف دا لا څه چې د پښتنو اولني لیکلي ادب او شفائي قیصې هم د مغلو د دور سره تعلق لري.

د خیر البیان نثر دے او که مخزن، د خوشحال شاعري، او که د رحمان د آدم درخانی، شاهی ولی، مومن خان شیر بانو قیصې، د مغلو دور سره تړلي دي. داسې د انګرېز مشتشرقینو کارنامې هم د پښتنو د تاریخ او ادب کښې د نوي نهضت دور دے.

---

9مقاله ړومبي وار په پلوشے، ستمبر ۱۹۹۴ کښې کښې خپور شوې دې.

10د آریاؤ خو تر اوسه دا پته نه لګي چې دا یو نسل ؤو، نظریه وه، او که یو مذهب، په حواله د جرمنیان بیا یو شول، علي خان محسود

مونږ دا نشو وئيلې چې دا ټوله سر خوږي د سياسي ضروریاتو لاندې اوشوه، هر کله چې يو وګړي يا قام يا نسل ته د خپل تشخيص د لټون مسله پيښه شي، نو داسې اعلى علمي کارنامې هم وجود کښې راشي۔ دے کتابونو کښې که څه لږ ډېر د خپل وخت د حاکمانو ثنا او صفت هم اوشي نو د دې دا مطلب نه دے چې دا هم د سياسي سازش تحت شوې دې۔ په نزدو وخت کښې د پښتنو د تاريخ دوه مشهور تاريخونه ليکلي شوي دي۔ دې کښې يو د هغې وخت ډکټېټر په نوم انتساب شوې دې، او دوئم کښې د ده د کارونو بلا ستائينه شوې ده۔ نو د دې مطلب دا نه شو چې مونږ دا کتابونه يو سياسي ضرورت يا پروپګېنډه اوګنړو۔ دوئي علمي حېثيت او دروندوالي نه انکار نه شي کيدے۔ مطلب مې دا دے چې مخزن افغاني د پښتنو په ننګ ليکلى شوې کتاب دے۔ فرق صرف دا قدر وو چې اول دا ټول روايات زباني وو۔ د مخزن افغاني مصنف دا روايات د خپله وسه د ډېر تحقيق نه پس تحرير په شکل کښې اوليکل او د ليکلي تاريخ درجه ئې ورکړه۔ اوس که دې کښې څنه بې خونده غلطيانې او خلاف د فهمه څنه خبرې دي نو دا ياد لرل په کار دي چې دا د دوئي مشرانو روايات

دي، او پښتانه نن هم يو بل پورې داسې ناشوندی خبرې تړي، خو مورخ چې څه اوربدلي يا لوستي وي، په هغې ئې څه پرده نه د اچولې۔

د پښتنو تاريخي رواياتو کښې د څلور شخصيتونو ذکر د دوئي د نسل په باره کښې د يوې نظرئې ټاکلو په باره کښې د يوې لارې نښان ښونه کوي، ضحاک، افغانه، قېس، او کړلاڼ[11]۔

د ضحاک حالات اګرچه د زمانه قبل از تاريخ شخصياتو په شان افسانوي دي، خو دا ثابته ده چې دے يو عرب شهزاده ؤو، چې د شام د لوري نه ئې په ايران حمله کړې وه، د قېس وجود د ابن اثير او علامه حجر عسقلاني د ثقه رواياتو په بنا ثابت دے، قېس بن عبس ؤو که قېس بن يزيد، نو دا هيڅ مسله نه ده۔ دا ټول عبراني نومونه دي او داسې عېص او يزيد هم تقريباً هم معنی الفاظ دي۔ عېص معنی د ګڼړو لاڼړو بوټو کېږی۔ داسې يزيد د زياتوالی نه وتے دے۔ پښتنو د يزيد نه عېص کړې دې۔دا د نومونو بدلون د يوې ژبې نه په بلې ژبې کښې يوه عامه خبره ده۔ تورات کښې د دؤو انبياء کرامو نومونه علي جاه او علي شاه ليک دی، چې عربو

11په يو روايت کړلاني هم ورته وئيل شي۔ (حبيب افغاني په حواله عبدالحليم اثر افغاني په حواله ارض القرآن، سيد سليمان ندوي) والله علم۔ دا دعوی مزيد تحقيق غواړي۔

ورنه اليسيا او يشح کړېدي۔ عزرا او عزيز يو نوم دې، يوناه Jonah عبراني نوم دے، عربيان ورته يونس وائي ۔ داسې ساول، سموئيل، او صالح يو دي، علي جاه، علي شاه، او ساول خو د عبراني نه زيات د پښتو نومونه ښکاري۔

دوارو ليکوالو دا روايت الکبير کتاب چې د بلخ د خلقو په فضائلو کښې ليکلې شوې ؤو، نه اخستې دے۔ کېدے شي چې اصل کتاب کښې د دے نه هم زيات تفصيلات موجود دي۔[12] هسې هم موصل کښې اوسېدونکي سړي نه دا اولاد روايت به زيات معتبر او مفصل وي۔ دې کتابونو نه دا ظاهرېږي چې دا روايت د قېس د اولاد بيان ؤو۔ مطلب دا چې ۲۳۹ هجري هم د کوه سلېمان خلق د سامي نسل نه ؤو او عبراني نومونه ئې لرل۔ دے غر نوم اول ستي پرلاد پربت وو، روستو چې کله دلته سامي النسل اسرائيلان آباد شول نو کوه سلېمان شو۔ او چې کله قېس بابا شهرت اومونتو، نو د دې غر نوم د کسې غر شو۔ مطلب دا چې د بني اسرائيل نظريه د مغلو دور پيداوښت نه ده۔

---

12 بلخ (بلوح) بن غبر بن ارنکسه (زيشت) بن سام يو ورور يقطان (قحطان) اولاد د يقطاني (قحطاني) فضائل بلخ په نوم ايران کښې چاپ شوې دے خو ما لا ليدلي نه دے۔

يو بل مثال ورکړم، راجپوت هم يو تاريخي قوم دے، يو اوږد ځلند تاريخ لري، شجري هم ورسره شته خو ئې دا شجرې د يولسم او دولسمې عيسوي زمانې ته اورسي نو د مسلمانانو راجپوتو د نيکونو نومونه د هندوانو شي، او دوئي هم دا مني چې دوئي د محمود غوري په زمانه يا د دې نه لږ روستو مسلمان شوي دي۔ پښتون د خدائې په فضل د رسول الله ص د زمانې نه مسلمان دي، او د دوئي رواياتو نه هم ثابته ده، د شجرو نه هم، او تاريخي سندونو نه هم۔ دلته پښتنو کښې ځنې ياران د قېس نه کېس جوړ کړي او بيئن د کافرستان د خلقو په شان د يو مذهبي پېشوا لقب ګڼي۔ هسې د ننئی پښتو ژبه د شمالي علاقو ژبو وارثه ضرور ده خو په دې باندې به روستو بحث راشي۔

داسې د افاغنه په لړ کښې هم مونږ اسرائيلي روايات بېخي مستند سندونه نه شو ګڼلي۔ دا ځمونږ عقيده هم ده، او تاريخي حقيقت هم چې دې کښې ډېر زيات کمے او مسخ کېدل شوې دې۔ د شجرو نومونو او لړو کښې هم څرګند اختلاف دې۔ نن اسرائيليات د کزب او د دروغ دوئم نوم ګڼلي شي۔ د افاغنه په باره کښې به مونږ د هغې اولاد روايات نه زيات اهميت ورکړو۔ خو ورسره د انساني نفسياتو په رڼا کښې دې کښې د لوند او

اوچې خیال هم ساتو۔ خو یو څرګند حقیقت یاد ساتل په کار دي چې دا اسرائیلي نظرئې ګمنام روایات نه دي بلکې د پښتون قام د مشرانو د تواتر سره ژوندي روایات دي۔ اوس که دا د تورات، بائیبل، او د تلمود د روایاتو سره سمون خوري خو ډېره ښه او که نه وي بیا هم مونږ اسرائیلي روایاتو نه د پښتنو مشرانو روایات زیات مستند ګڼو۔ دا وخت څما سره د حوالے کتابونه نشته فرصت هم نه لرم او د اعصابي ضعف په وجه زیات لیک هم نه شم کولې، خو تر دا وخت راسې زما نظریه دا ده چې پښتون قام خپل نوم، ژبه، ثقافت، تهذیب، تاریخ، میتهالوجي، او مذهب، هر څه د نورو قامونو نه اخستي څه چې قبضه کړې دې، قوم او ژبه په څو ورځو یا کالونو کښې نه جوړېږي۔ د دې رېشې یا جرې د زمانې په تاریخ کښې ډېر لرې لرې راسے تلے او ښخې وي۔ پښتون په اصل سامي دې او دا پښتون نوم دوئي خپل کړے دے چې کله دوئي د پکتیا په خاوره قبضه اوکړه، د یونانیانو پکتوک او د ویدیانو پکهت قام د نن د صوابۍ او د جهانګیرې په سیمه آباد ؤو۔ په نسل د راوړ ؤو او نن په شمالي علاقو کښې پراته دي۔ داسې ژبه ئې وئیله چې نن ئې ډېر ټکي آوازونه ژړونه او لهجې ئې د ننئې پښتو برخه ده۔ د راوړ د مؤرخینو په خیال د عراق د سیمې نه

راغلي د سمېري تهذيب خلق ؤو۔ دوئي د آرامي لهجې ځنې ټکي پخواني کتبو کښې هم وجود لري۔ The treasures of Yesterday د هنري ګرنټ تصنيف دے، هغې کښې ليکلي دي چې د جنوبي عراق (مېسوپوټميا) کښې چې زرګونو کاله کوم تهذيب ژوندې ؤو، هغې آبادکار د هندوستان د مغربي ارخ د غرونو نه راغلي ؤو۔ دا د افريدو، د مومندو، او د وزيرستان غرونه دي۔ مونږ پکښې د دير چترال او کوهستان غرونه هم شاملولې شو۔

د نن تحقيق دا ده چې د رحمان ډېرئ (ډي ائي خان) او د هړپه موهنجودارو او د مېسوپوټېميا تهذيبونو ډېر ژور تعلق ؤو۔ داسې دردي، پشاچی، او زوړ سندهي تهذيب يو بل باندې ډېر اثرات غورځولي دي، چې نن ئې سرائيکي او هندکو ژبې ئې باقيات دي۔ د پښتو د کافرستان، ګوجري سرائيکي او د هندکو ډېر ټکي يو شان دي۔ او ځنې خو بېخي يو شان دي۔ قلاشي ژبې کښې ميلو (ريچ) ته اِخ وائي۔ مروت او بيټني ئې نن هم اِژ بولي۔ داسې بيټن کالاش کښې مذهبي مشر ته وائي۔

د پښتونخواه په موجوده خاوره د ګندهارا تهزيب يو ځلند دور تېر شوې دې۔ د دې تهذيب په جوړښت کښې د ايرانيانو، د يونانيانو، او هندوانو

برخه ده. او ننورباندې ويار پښتانه کوي. پښتنو تاريخ د بني اسرائيلو خپل کړي دي، او اوس اصول دا دے چې کله د يو نسل يوه څانګه خپل وطن پريږدي نو تاريخ ئې هم سره ګډ وډ شي. د اصل ويښ خلق ئې يا خو ورک لا ولد او معقود الخبر اوګڼي او يا ئې بيا سرسري ذکر کوي. دلته هغه ورکه څانګه د خپل تاريخ ورکے کړئ په وچو او لوندو سره سموي. او د مبالغے نه هم کار اخلي.

د پښتنو ميتهالوجي د يونانيانو د هندوانو، او د زردشتيانو د زړو قيصو نه متاثره ده. مثلاً د پښتو يو متل ده، چې نوشېروان ئې بادشاه وي او بختک ئې وزير وي نو د ډېرو خونے به ورتی کړي. دلته د بختک نه مراد مزدک دے، چې د مزدکي نظام باني ؤو. او د نوشېروان د پلار قبار وزير ؤو. او د نوشېروان دلاسه دے او د ده يو لک منونکي مړه کړے شو. دے قتل نه هم پته لګي چې پښتانه د مزدکي نظام سخت خلاف ؤو. د سرمايه داري او جاګيرداري نظام حاميان ؤو. او ولې به نه ؤو چې رګونو کښې ئې وينه د يهودو وه.

پښتو شفاهي قيصو کښې د تور دېوانو ذکر اکثر وي چې يو زردوشتي تمثيل ده. داسې فتح خان او رابعے قيصې کښې د يوناني دېومالائي هيرو

هرکولیس هم دا فتح خان ده. هسې فتح خان د سیکانو د وخت یو پښتون هیرو ؤو. د پښتنو مذهب اسلام ده، چې پلوشې ئې د عربو د زمکې نه په تمامې نړئ خورې شوی دي. څو پورې چې د ننئ پښتو ژبې تعلق دے، نو دې کښې د هر هغه قام د ژبې تورې غړونه او حروفِ تهجي شته چې پښتنو ورسره د خپل مهاجرت په دور کښې واسطه پاتے شوے ده. د آرامي، عبراني، او د سریاني نه واخله تر زړې فارسي، ترکي، ارمني، کردي، اوېستي، سنسکرت، او د شمالي علاقو ژبو راسے د حرې ژبې باقیات دې کښې شته. عبراني توری پکښې کم دي ځکه چې دا خلق د ډېر پخوا د دوئي نه بېل شوی دي او د نورو اوسني ګواندیانو فارسي او هندي ژبو اثرات پکښې ډېر دي. دلته زه د الفنستن دے رائے سره متفق یم چې دا ننئ پښتو نسبتاً اوسنۍ ژبه ده ځکه چې کله د ګندهاره په زمکه د بدھ مت د ماهیانه فرقے لوئے کانفرنس کیدو نو د دې کاروائي کښې د پښتو ژبې هیڅ ذکر نه ملاوېږي. داسې چې کله پانیني د سنسکرت ژبې قواعد او اصول ټا کل، نو دلته هم د پښتو ذکر بطور برسیل تذکره یا ضمناً هم نه رائحي.[13]

---

13 ۳۰۰ ق.م. پانیني د سنسکرت د ژبے قواعد د ګندهاره د سیمے د دواؤ لوئے ژبو پکتیاں او هنیاں د تورو نه ساز کړل (انسائکلوپیډیا آف تاریخ عالم)، محققین دا پرا کرتو نه د نن

خو څه ذکر چې ما وړاندې اوکړو چې پښتو دے لحاظ سره یوه ډېره پخوانۍ ژبه هم وه، چې د دې ویښے د ژبو په تاریخ کښې د ډېرې پخوا زمانې نه صحي کېداۍ شي۔ دې کښې د داسې قامونو د ژبو اثرات چې خپل وخت کښې د ستر تهذیب او تمدن خاوندان ؤو۔ خو آریاؤ په خپلو زړو کتابونو کښې ورته د سختې دښمنۍ او د حسد له وجه، مېلچ داس، داسیو، دیو، وحشي، او پلیت وئیلي دي۔ او تاریخ الافغان دے رائے کښې څه لږ ډېر حقیقت وینم، چې لیکي:

پشتو زبان اُن وحشي اقوام کی ہے، جو جن اور دیو نسل سے تعلق رکھتے تھے۔ پہاڑوں کو تراش کر مکان بناتے تھے۔ پشتو زبان ان کی ہے۔ افغانوں اور پشتونوں کو یہ ورثے میں ملی ہے۔

څو پورې د قېسستان او د قېس د حقیقي وجود تعلق دے، نو هغه نن مونږ ته په کار دي چې دا د منلي شوي حقیقت په توګه اومنه۔ افاغنه قبر خو به چرته په فلسطین کښې وي، خو دے باوجود کله چې احمد شاه بابا او د دوئې ملګرو د پښتنو د پاره د وطن نامه خوښوله، نو باوجود د دې چې احمد بابا د پښتونخوا تورې څو ځله پخپلې شاعرۍ کښې استعمال کړې

---

پښتو او هندکو ګڼي۔ (حواله د مختیار نئیر، د هندکو ژبې محقق)

دي، د افغانستان نوم ئې ورته خوښ کړو ګرچه د ابګان، اوغان، اغوان، توري چې نن ورنه د افغان مطلب اخستې شي، دې تورې يا قبيلې باندې اعوان قوم هم خپله کلکه دعوه لري۔ څو پورې چې د پکتيوس، پکتيکا، او د هېرودوټس د ليک تعلق دے، نو هغې کښې چې د دې خلقو کوم قد، رنګ، طور اطوار، کار او وطن ښودلې شوې دې، د هغې په بنا غني خان په ځای درې چې ددې نظرئې او تعلق غندنه کړې او ئې اپوټه بابا ئې تاريخ هېرودوټس[14] ته يو طلسماني او واهيات سرې وئيلی دی۔ البته سدوزئ حکمرانانو دومره قدري ضرور اوکړل چې د زور پکتيوک نامه ئې د پکتيا صوبې په صورت کښې په توګه د تاريخي يادګار ژوندې اوساتله۔ هسې هم نن بلخ کښې اوزبک آباد دي چې په يو وخت کښې د پښتنو په شان اوچت لوړ دنګ ښاغلي او مثالي شاه سوار خو په عقل اوزبک خلق ؤو۔

زما ناقصه رائې دا ده چې مونږ ته درې زمکې او د پښتون نسل د تاريخ کښې فرق کول په کار دي۔ پښتون په توګه د نسل يو بېل تشخص لري او

---

14هېرودوټس د پکتوک خلقو کار ښودلے دے چې دوئي د شګونه سره زر چنړه وي۔ سکندر خان په خپل کتاب د اين اباسين کښې د اباسين د نمر ختيزې غاړې باندې د ځنې داسې خلقو ذکر کړيدے چې دا کار کوي۔ خو اوس ئې پرېښودے دے۔ ځکه چې کار ګران ؤو۔ او آمدنی ئې کم ؤو۔ دې خلقو ته ئې کيرے ګر وئيلي دي۔

په طور د يو قام د بيلو بيلو نسلونو مجموعه ده۔ د تاريخ په هر دور کښې په يوې زمکې د اولی درجې د دوئمې درجې او د دريمې درجې شهريان وي۔ مونږ ته د دې زمکې د تاريخ جاج اخستلو په وخت د دې خبرې خاص خيال ساتل پکار دي چې ذکر شوي وخت کښې پښتون د کومې درجې شهري دے۔ د اولې درجې شهري هغه وي چې خپل حکومت، بلکه سرکاري ژبه، قانون، تهذيب، او تمدن لري، د دويمې درجې شهري مشري او معتبري خو لري خو ورباندې حاکميت اعلی د بل قوم وي۔ قبائلوي سټيج کښې وي۔ بلکه قانون او سرکاري ژبه د ده خپله نه وي۔ او د دريمې درجې شهري فقط کرايه دار سپاهي وي۔ هم چو من ديگرے نيست۔ په ځان غلط دعوی خو لري خو د اقوامو په تاريخ او درجه بندي کښې د خبرې او د ابلهی يه مقام فائز وی څه مات ګډ رسم او رواج لري او يو بل سره مشت ګريبان وي۔

د دې مضمون لنډيز دا ده چې پښتون نسلاً سامي النسل ده چې ممتاز حېثيت ورکښې بني اسرائيل قيسيانو ته حاصل ده۔ البته د قوم په توګه (افسوس چې تاحال لا دا حېثيت ورته حاصل نه ده) پکښې يهود، ترک، کرد، يونانيانو، عرب، منګول، او ارمينيانو وغېره ګډ دي۔ قېس يو اصلي

او تاریخي شخصیت وو چې ورته د صحابیت نخر او فضیلت هم حاصل ؤو۔ په توګه د یو نسل پښتانه په یو ځائې مسلمان شوي دي، دا چې په بیل بیل ملکونو کښې د ځایونو او د علاقو تاریخي نومونه دي۔[15] دا ثقافتي آثار قدیمه دې یو ځائې په یو نوم وي دا نوم مونږ له ښئ چې کله د تاریخ په یو دور کښې هغه قوم چې د دې ژبې دا نوم په دې وطن کښې موجود ده۔ خو هغه قوم پخپله اوس دلته نشته۔ یو وخت کښې په دې زمکې پاتے شوے دے۔ اوس دا نوم ددې قوم د آثار قدیمه په توګه باقي پاتې شوې دے۔ ځمونږ مورخینو ته دا خیال ساتل په کار دي چې د پښتنو تاریخ د لیکلو په وخت د یو نسل د یو قام او د یو زمکې خاورې تاریخ لیکلو کښې فرق روا ساتي، زمکه، دریابونه، او غرونه په ځائې پراته دې نسلونه، قامونه، تهذیبونه، او ثقافتونه د اوبو د نیزونو په شان وي۔ یو د روستو او د پاسه بل نیز رائحي۔ او تیر شي۔ آخر زیم به په زمکه کښې پاتے شي۔ د زمکې د پاسه اوسیدونکو خلقو کښې کله چې د یو قومیت خیال پیدا شي

15مرګ ژوبله جنګجوئي او مذهب پرستي د پښتنو په سرشت کښې پراته فطري جبلتونه دي۔ اسلام دوئي په یو ځائې قبول کړے دے۔ او نن هم د خدائے په فضل چې پښتون وي نو هغه به خامخواه مسلمان وي، ګرچې پښتو پخپله نیم کفر دے۔ دا داسے فضلت او نخر دے چې عربو ته هم نه دے حاصل۔

نو د دې زيم نه فائده اوچته کړي او د يو ځلند ژوندي او د متحرک تهذيب او د تمدن بنياد کېږدي۔

# سلېمان غر: اولنۍ افغان ټاټوبې[16]

مخکښې ورځو کښې په يو تقريب کښې د ګومل يونيورسټۍ وائس چانسلر محمد اجمل خان سره ملاقات اوشو۔ اجمل خان صاحب د پښتونخوا يوې ډېرې درنې او قدرمنې کورنۍ سره تعلق لري۔ هغه د ستر باچا خان د مشر ورور ډاکټر خان صاحب نمسې دے۔ ما ورته خبرو کښې دا مشوره ورکړه چې پکار ده چې ګومل يونيورسټۍ د ارکيالوجي (زرغوني آثارو علم) څانګه (ډيپارټمنټ) اوپرانځي، ځکه چې ډېره اسماعيل خان او سوېلي پښتونخوا کښې ډېر زاړه او لرغونی آثار موندې شی، مثلاً رحمان ډېرۍ (پرويش شاهين ورته د رامائن ډېرۍ وائي)، آکره (بنون)، شوال (شمالي وزيرستان)، کانيګرم (جنوبي وزيرستان)، ګومل وادۍ، ميان نور دغر قبرستان، شاه را ډېرۍ، کنوړ ډېرۍ، ګُل حيات ډېرۍ، قلعه بل کافر کوټ، قلعه تل کافر کوټ، سلېمان غر (ډېره اسماعيل خان)، کټه واز (غزني)، برمل غر، شوال غر (وزيرستان)، غوره مرغه، غور، قندرهار

16مقاله ليک تاريخ: ۱۰ ستمبر، ۲۰۰۶، بمقام ډېره اسماعيل خان

(افغانستان)، پيشين، سور غر، قفص غر (مکران)، نيشا پور (ايران)، او داسے نور۔

وائس چانسلر صاحب اوفرمائل چې سالم ډيپارټمنټ خو ممکن نه دے، خو د يو ميوزيم جوړه ولو خيال مې شته۔ خير، مينځ کښې نورې خبرې راغلې او دا خبره په ځائې پاتې شوه۔ خو زما ذهن کښې دې اعتراض غزونه اوکړه چه هر کله په لرغوني آثارو باندې پوهېدونکي نه وي، نو تش د ميوزيم به څه علمي افاديت وي۔ دا حقيقت دې چې نن زمونږ يونيورسټيانو کښې د سائنس او د ټيکنالوژي د څانګو د پرانستو ډېر ضرورت دے، خو د دې باوجود د سماجي علومو د اهميت نه هم انکار نه شي کېدے۔ د دې علومو ضرورت په خپل ځائې دې۔ آسټريليا ته د تلو اجازت نامې په فارم کښې نن هم د آرکيالوجسټ او د سوشيالوجسټ نامې د ټولو نه سر کښې دي۔ او د سائنسي مضامينو نمبر روستو راځي۔ دويمه غټه اهمه فائده به دا اوړسي چه د افغانانو د زوړ روايتي تاريخ تصديق يا ترديد به اوشي۔ زاړه زباني روايات هر څومره مبالغوي، افسانوي، يا اساطيری رنګ لري، څه نه څه چې ډېر حقيقت پکښې پټ وي۔ زمونږ زيات تر مؤرخين د قطبي سيمې سره تعلق لري۔ نو تاريخ او آرکيالوجي کښې هم د پښتون قوم او د

ژبې لټون د هغې ځائې نه شروع کړي، چرته چې افغان يا پښتون د قبائلوي رواياتو او د مسلمان مؤرخين د ليک مطابق ډېر روستو کوچېدلي دي۔ جديد ګڼ مؤرخين د مفروضو او د خالي ځايونو ډکولو د فارمولو باندې قياس او د ګمان دا نظريه وړاندې کوي چې بلخ د پښتون د زېږون اولنۍ ټاټوبې دې۔ دې نظريې باندې د تاريخ، آرکيالوجي، د بشريانو او د لسانياتو د علومو په رڼا کښې ډېر بحث شوې دے۔

يو بل جديد اپروچ هم دې مسلې ته کېدے شي چې ډېر سائنسي طريق ده۔ هغه د جينياتو genetics علم دې۔ اورېدلي مې دي او داسې غېر مصدقه اطلاعات دي چې څنو ښاغلو دا کار هم ليبارټرو کښې کړې دې او دې نتيجې ته رسېدلې دي چې د پښتون د زېږون اصل ځائې افريقه ده۔ که دا معلومات صحيح وي نو بيا د تاريخ فرشته دې بيان کښې څه نه څه صداقت شته چې پښتانه اصل کښې د مصر قبطيان دي۔ د عربو په باره کښې هم د څنې جديد محققينو دا نظريه ده چې دوئې کښې هم د سامي وينې سره د هتيانو او د افريقنيانو وينه ګډه شوې ده۔ والله علم۔

خېر، زه خپل اصل موضوع ته راځم چې سلېمان غر او د سويلي سيمې نه پښتانه د دنيا هر ګوټ ته کوچېدلي دي۔ بلخ خو افغانانو ډېر روستو فتح

کړي دي۔ روشن خان د تواریخ حافظ رحمت خاني (پاڼه ۵۵۵) باندې لیکي، حاکم دمرو ماهویه سوري دیزدګر د قتل نه پس د خپل حکومت دائره په څلور لور خوره ولو د پاره په بلخ، بخاره، او هرات لښکر کشي اوکړې، او خپل حکومت ته ئې وسعت ورکړو۔ دا د حضرت علي رض د حکومت دور ؤو۔ او ما هویه سوري به دوئي د پاره جزیه، خراج، او مالیه ټوله وله۔

د کوه سلیمان زوړ نوم د تاریخ پښتون په حواله ستی پرلاد پربت ؤو۔ میجر محمد نواز وائي چې دکړه مارغر زوړ نوم بهیما دیوي پربت ؤو)۔ کله چې بني اسرائیل افغان دلته میشته شو، نو د دې غر نوم د سلیمان غر شو۔ او د هر کله چې د قیس بابا رض شهرت اومونتو، نو د دې نه پس دا غر د دوئي د نوم مبارک په مناسبت سره د قسې یا کسې غر په نوم یاد شو۔ هسې ما په یو تاریخ کښې چې مخکښې او روستې پاڼې نه لري، د دې غر ته ئې یو ځائې کوه کلاں هم وېلي لیدلي دي۔

قیس یو مسلمه تاریخي شخصیت دې چه د حدیثو او تاریخ کتابونو سره ثابت دې۔ عبدالحی حبیبي صاحب د پټے خزانے په سریزه کښې لیکي: دا چه کیس، معرب قیس، د پښتنو د نیکونو څخه یو نیکه د سلیمان له غرو څخه

د حضرت محمد صلعم په حضور مشرف شو۔ دا خبره د ابن اثیر په قول په اسد العابه (۲۳۹ هجري) او د حافظ ابن حجر عسقلاني په قول په الاصابه (۲۶۸ هجري) کښې ثابته ده۔ چې د دوئي د رویاتو منبع هم کتاب الکبیر دې، چې د بلخ د خلقو په طبقاتو کښې کښل سوی دی (فضائل بلخ ۳۱۷)، موزنه سو کولائی چې د دغو ثقه او معتبر کتابو روایات هم له یوه سره نالیدلي اوګنو۔ آقاۓ حبیبي ورسره په حاشئیے کښې وضاحت کوي چه پښتانه د سلېمان غره ته د کسی غر وائي۔ د حبیبي صاحب د دې بیان نور وضاحت کامل افغان مورخ دوست محمد خان کامل د تاریخ مرصع په دیباچه کښې او خداۓ بخښلي بهادر شاه ظفر کاکا خېل د پلوشے رسالے په یوه ګڼه کښې داسې کوي: علامه ابن اثیر په خپل کتاب اسد الغابه په جلد ۴، پاڼه ۲۳۸ کښې لیکي: ترجمه: د قېس بن یزید نه د هغه اولاد دا روایت کړې دې چه هغه (قېس بن یزید) د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او مسلمان شو او آنحضرت ﷺ هغه د خپل قام والي کړو او په سر ئې ورله د مخه مهربانی لاس لاښکلو۔ نو بیا هغه خپل قام ته راستون شو۔ او یو غره ته ئې راؤبللو چې نامه ئې سلېمان وه، او هغه هم مسلمانان شول، او د قېس د سر هغه ځائي وېښته چې حضور ﷺ پرې

خپل مبارک لاس راښکلي ؤو، د هغه (قېس) تر مړګه پورې سپين شوی نه ؤو (دا بيان ابو موسى راوړو)۔

حافظ ابن حجر عسقلاني په خپل کتاب الاصابه جلد ۵، ۲۶۸ پاڼه کښې دا واقع داسے ليکي:

ترجمه: قېس بن يزيد: د هغه ذکر ابو اسحق شملى د بلخ د پتو په خلګو کښې کړې دې، چې قېس بن يزيد اووېل چه زه په وادی بسع کښې د نبي ﷺ په خدمت کښې حاضر او مسلمان شوم، او بيعت مې وکړو او ما له ئې فرمان وليکلو او عصا ئې راوبخښله (نو دې نه پس) هغه خپل قام ته راستون شو او قام ئې په يو غره ته چې نامه ئې سلېمان وه، راأوبللو او د اسلام دعوت ئې ورکړو او هغوئي اسلام قبول کړو۔ ابو اسحق شملى نه دا روايت د عباس بن ذبناع په ذريعه او د هغه ته د خپله پلاره او هغه له ضحاک نه، او هغه د خپله پلاره، او هغه ته د فالک بن قېس نه رسېدلے دے۔

قېس رض د ۸۷ کاله عمر کښې په ۴۱ هجري (۶۶۲) کښې وفات شو (کتاب افغان يا پټهان، مصنف الله بخش يوسفي)۔ پښتو ادب کښې پروفېسر صاحب ده حميد الله ليکي: د پښتو د لمړي نيکه قېس عبدالرشيد

مزار د کسی غر (سلیمان غر) ژوب د څوکې تر لاندې په یو هواره پر ښه واقع ده۔ دا غر یولس زره ۱۱۰۰۰ فټ جګ دې۔

د کسی غر (سلیمان غر) د افغانانو اولنې ټاټوبې دے۔ کسی غر کښې اوسېدونکي افغانانو درې څانګې سړبن، غورغښت، او بيټني ؤو۔ دې کښې څنې قطب خواه ته د دامان او ډېره اسماعيل خان په لار اوسني سرحد ته لاړل، او نور د سهېل لور ته د لورالائي او پيشين ته اوکوچېدل۔ دا د پښتون د دويم ټاټوبې ؤو۔ غور او غوره مرغه د پښتون دريم وطن دے۔ د پښتونخوا وطن مونږ د خپل اسانتيا د پاره په سوېلی او قطبي سيمو کښې وېښو۔ آرکيالوجي د آثار لحاظ سره قطبي علاقه د بدهـ مت ډېر آثار لري۔ په سوېلي برخه کښې د بدهـ مت اثرات د نشته برابر دي۔ متي يا سوري پښتانو نيکه شنب اول عيسائي او بيا د بدهـ مت منونکي او روستو مسلمان شو۔ تاريخ پښتون ليکي چې د غور علاقې زاړه اوسېدونکي د ضحاک نژاد غوريانو دوه ټولي ؤو۔[17] يوه سوري فرقه چه شاهي خاندان ؤو۔ او دويم جمشيدي۔ اسرائيلي نسب افغان قوم فېروز کوهی او د تايمني راغلل او دۆی سره

17دا وخت افغان بلخ ته رسېدلي ؤو، څکه ئې د بلخ د پتو په خلکو کښې ذکر شوې دې۔

همسایه شول. روستو سوري فرقه د زمانې د ګردش په وجه کمه او معدومه شوه. او د دوئي ځائي هزاره قام اونیؤو.

## غور

پټه خزانه د دې بیان تائید چې لرغونی پښتانه او د تاریخ سوري په حواله ئې کړې ده، لرغوني آثارو د لټون په مدد سره کول پکار دي. لیکي: امیر کروړ د امیر پولاد سوري زوئې ؤو. چه په کال ۱۳۹ هجري کښې د غور په مندېش کښې حاکم شو. دا امیران له پېړیو په غور او بالتستان او بست کښې ؤو. او د هغوئي سور نومي اولاد دی چه د سهاک له پشته ؤو. امیر پولاد په هغه دعوت کښې شریک ؤو. چه ابو العباس سفاح د بني امیه سره جګړه کړله او ابو مسلم ئې هم مرستي ؤو.

ده ضحاک په خلوېښتم پشت کښې یو مشر بهرام شاه کوفې ته ځي او حضرت علي رض هغه ته د غوریستان حکومت ورلیکي. د سلطان بهرام کشر زوئې جلال الدین ؤو. محمد سوري د سلطان فخر الدین بن سام غوري نیکه ؤو. د فخر الدین په هندوستان کښې د سلطان شهاب الدین په نوم مشهور شو. د متي افغانانو شجره په دوه رنګه لیک شوې ده.

- شاه حسین بن شاه فخر الدین بن جلال الدین به سطان بهرام بن فریدون

- شاه حسین بن معزالدین محمد بن جمال الدین بن بهرام بن شنسب

د بهرام بن فریدون یو نسئ چه د ده نوم هم سلطان بهرام ؤو، سلطان بهرام بن سطان جلال الدین بن سلطان فخر الدین بن سلطان بهرام بن فریدون۔ دا سلطان بهرام د حضرت علي رض په زمانه کښې کوفه ته ځي۔ او حضرت علي رض ورته د غور د امارت سند ورکوي۔

**شوال**

شمالي وزیرستان کښې د یو غره او د وادۍ نوم دې، چرته نه چې تقریباً ټول کرلاني افغان لکه وزیر، محسود، خټک، بنګښ، افریدي، اورک زي، وغیره د شمال او د مغرب جنوب او د مشرق په لور خوره شوي دي۔ د حدود العالم مصنف د هندوستان د شمال برخې په باره کښې لیکي چې غرونه (بر کوه) ګردیز (د غزني په شمال مشرق کښې) د وادیئ سندھ په لارې کښې یو ځائې سوال یا سول دې، چرته چې افغان

اوسېږي۔ البیروني هم د سنده وادي د مغرب غرونو کښې د افغان قبائل ستوګنه ښودلې ده۔

مؤرخ مسعودي د لیک نه مونږ ته دا پته لګي چه کله دې سیمور (شاول Chaul) کښې په ۳۰۴ هجري کښې ؤو، نو حکمران شهزاده Djandas ؤو۔ یو بل ځائې مسودي لیکي د قندهار بادشاه چې د سنده او د دې غرونو باچاهان هم دي، چې Jaj Orchach Hahaj ورته وائي، او دا نوم د دې ملک ټول حکمرانانو یو عمومي نوم دې۔ سر ډېنزل ایبټ سن د جنرل کننګهم د محققین په لور اشارې پس د کابل او د هند بادشاهانو (چه مسودي بیان کړي دي) شناخت د جنجو هانو سره کوي۔ یعنې، د پېښور او د ګندهاره په شان په شوال هم هندو شاهي خاندان باچائي وه۔ او افغانانو ته لا سیاسي عروج نه ؤو حاصل شوې۔ عن چې د دوئي د راجه جے پال سره الحاق اوکړو، چې ذکر به ئې په خپل ځائې راشي۔

## سور غر

پانیني (۴۰۰ ق۔م) لیکي چې غرچنې Highlanders په روهي تیکیري Rohitagivi یعنې سور غر Red hill کښې اوسېږي۔ دا د روهي تیکیري تورې روستو روهه Roh شو۔

د فائیان ۴۰۰ ء د بیان نه جوتیږي چه د روهه ملک کښې د موجوده افغانستان ده دا سیمه راتله چه د ننګرهار (جلال آباد) نه د جنوب مشرق لور ته واقعه ده۔ خو د بنون پورې نه وه ویره۔

## کوهستان

تاریخ فرشته لیکي چه هر کله ۶۷۳ ء یا ۱۴۳ هجري کښې د افغانانو شمېر زیات شو، نو دوئي د کوهستان نه راؤوتو او د هندوستان په آباده زمکو لکه کرمې، پیښور، او شنواراں (دره خیبر) په وادیو قابض شو۔

روستو د هندو شاهي حکمران جے پال نه دوئي د لغمان ځنې صوبې لاس ته کړې (لغمان د غزنه په غرونو کښې د یو څو سیمو عمومي نوم دې)

مخزن افغاني لیکي چه شهاب الدین غوري چه کله پرتهوي راج ته ماتې ورکړه، نو په واپسۍ کښې ئې دوئي د روه، سلېمان غر، هشت نګر، او د باجوړ په سیمه کښې د کابل د حدود نه تر ابا سنده دریاب او د قندهار نه تر ملتانه آباد کړل۔ د تواریخ رحمت خان په پاڼه ۲۷۵۹ د اخبار الطول په حواله د قندهار سره په بریکټ کښې کوه سلېمان لیکي۔

روښن خان د خپل تالیف [18] په پاڼه ۴۳۰ د قوهستان، خراسان، او د سجستان۔ دې نقشې کښې قوهستان صوبه د هرات په مغرب کښې ښودلې شوې ده۔ خو مؤلف دا نه ښائي چه دا د صوبو د تقسیم د کوم وخته نقشه ده۔ د جمهوري اسلامي افغانستان د نن وخت په یوې نقشې (تاریخ طبع ۵/۷/۱۳۷۵ هجري کتاب فروشي کابل) کښې کوهستان د غلام قلعه سره جوخت د جمهوري اسلامي ایران د برید ته نزدې د هرات د ولایت کښې د یو ولسولي مرکز ښودلې شوې دې۔

## د حوالې کتابونه

- تاریخ پښتون د خورشید جهان اردو ترجمه مصنف شیر محمد خان گنډه پور
- مخزن افغاني، نعمت الله هروي
- پښتو ادب، صاحبزاده حمید الله صاحب
- پټه خزانه: محمد هوتک سریزه د پوهاند عبدالحی حبیبي
- تاریخ ډیره اسماعیل خان، قادر داد خان گنډه پور رانی زئي

18 تذکره، پٹھانوں کی اصلیت اور انکی تاریخ، خان روشن خان، طبع چهارم، جولائي ۱۹۸۳ء

- افغان پټهان، مؤلف الله بخش یوسفي
- Poppy cultivation in Swabi, Godoon Area, by Dr. Hussain Khan
- The Genesis of Roh, The Medieval homeland of Afghan, by Dr. Hussain Khan
- تواریخ حافظ رحت خان، مؤلف پیر معظم شاه حاشیې د روشن خان
- اردو کی تشکیل میں پشتونوں کا کردار، حنیف خلیل
- تذکره، پٹھانوں کی اصلیت اور انکی تاریخ، خان روشن خان، طبع چهارم، جولائي ۱۹۸۳ء

# قېسستان[19]

## قېس عبدالرشيد حقيقي او كه يو افسانوي وجود

رواياتو كښې راځي چې قېس بن عيس بن سلول د پښتنو غور نيكه وو. اوس قېس واقعي يو تاريخي شخصيت ؤو او كه دا د داستان ويونكو د ذهن تراشلے يو افسانوي وجود دے؟

كه پښتون يو نسل اوګڼلے شي نو پكار ده چې د دې نسل يو نيكه هم وي او كه يو قام اوشمارلے شي چې د بېلو بېلو نسلونو مجموعه ده چې تاريخي مجبورو په يوه ژبه، زمكه، تهذيب، او ثقافت باندې يو ځائې كړې دي نو بيا به هم دې قام كښې د يو نسل مشر نيكه خا مخوا وي او روايات دا دي چې هغه قېس ؤو. رښتيا خبره دا ده چې ډېرې تاريخي نظرئې د دې صدئ په شروع كښې د يو سائنسي يا د يو سياسي ضرورت په بنا وړاندې كړے شوې او مونږ ورباندې په ړوندو ستركو ايمان راوړو. خوا كه هغه روستو غلطې ثابتې كړے شوې او يا دې كښې ترميم او زياتوب اوشو. مثلاً د تخليق كائنات د خصوصي تخليق نظرئيې د ډارون نظريه د يو سائنسي

19 مقاله ړومبي وار په پلوشے، اكتوبر نومبر ۱۹۹۳ ګڼه كښې خپره شوے ده.

انکشاف په طور پیش کړے شوه او هم دغسې د بني اسرائیلو د نسلي برتري د دئیؤو خلاف د آریا نظریه مخې ته راغله، ورسره د خپلې خاورې د ځائمنو Sons of the Soil د نارے لاندې دا فرض کړے شوه چې د نړۍ په هر هېواد کښې صرف هغه کورونه اوسي چې هم هغه ځائې کښې اوزېږېدل، ده ئې اوموندله لوئ شو، پرخ تلګ ئې اوکړه، او د تقوین او د تشکیر د مرحلو تېر شو۔ دا هم د ډارون د نظرئې یوه منطقي، توسیعي، تتیجه وه ولې د هندوستان یو قوم هم دا دعوی نشي کولے چې دا هېواد د ده د زېږون ځائې دے۔ د راوړ ؤو که کول او که آریه۔ ټول د بهر نه راغلي دي۔

بحث کښې نښتل نه غواړو صرف دا وایو چې د پښتنو د نسل په باره کښې د صدیو د روایاتو په بنا ټاکلې نظریه رد کړے شوه او آریائي نظریه راوړاندې شوه او د روایاتو په مقابله کښې قیاس، ګمان آه اندازې ته فوقیت ورکړے شو۔

زما په خپال قېس یو ربنتونے وجود ؤو چې د غور په غرونو کښې مېشته ؤو او رسول ﷺ په زمانه کښې ئې اسلام قبول کړو او دې باره کښې زما معروضات او دلائل دا دي:

- نسل یا قوم د یو فرد نه په مخ دوانېږي۔ بنی آدم نه بنی آدم زیږیږي۔ پښتون د ځینې قومونو په شان څه مافوق الفطرت دعوی نه ده کړې چې هغه د لمر یا سپوږمۍ دېوتا د اولاد نه دے یا د اور نه د راوتلی سورما د نسل نه دے، یا د چمپینزي او د بیزو په شان غلیظ ځناور یو ارتقائي شکل دے۔ یو ساده شان قیصه بیانوي چې عقل ته اپیل کوی۔

- پښتون سره یوه شجره شته۔ دېکښې څه لږ ډېر ادل بدل د نومونو مخکښې دوستو کېدل یا یوه شجره کښې د بلې شجرې پیوند لګېدل څه دومره لویه عقل کښې نه راتلونکې مسله نه ده۔ او دې شجره کښې د غور نیکه نوم قیس ډېر جوت دے۔ قیس د هغې سترې بشری سلسلې یو نامتو او تاریخي وګړے دے چې یونانیانو ورته پختیږ یا پکتیز Pakties اووې۔ ایرانیانو ورته ابغان اپاکان د افغان نوم ورکړو او عربو د کوهِ سلیمان په لمنه کښې د اوسیدو په مناسبت سره د سلیماني په نوم اونمانځلو۔

- قیس چې یو معنی لرونکے عبراني نوم ؤو، دے خامخا د یو بې معنې تورې، کیس یو معرب شکل ګڼلو کښې کوم تک دے۔ د قیس

معنی ده د سختي لوړه، قېسرۍ د يو ستر عمر جسيم سړي ته وائي۔ اوس هم کسی غړ (سلېمان غړ) کښې چې څوک عمر تېروي، هغوئي به د سختۍ او لوړې ژوند وي۔

- قېس د چا زوئي ؤو، او د چا لمسے؟ کله اوزېږېدو او کله حق اورسېدو، عمر ئې څو کاله ؤو؟ چرته اوسېده؟ څنګه ورته د اسلام رڼا اورسېدله؟ څنګه دے مسلمان شو، رسول ﷺ ورته د عبدالرشيد نوم ورکړو او ده د عربو سره خپلوي اوکړه۔ د زېږېدنې کال ئې ۵۷۵ء او وفات ئې ۶۶۲ء يا ۵۴۱ ه ؤو۔ عمر ئې ۸۷ کاله جوړېږي۔

- د قېس ذکر د عربي ثقه او معتبر و تاريخي کتابونو کښې راغلے دے۔ ابن اثير[20]په اسد الغابه ۲۳۹ هجري او حافظ ابن حجر عسقلاني [21] ئې په الاصابه ۲٦۸ هجري کښې د قېس ذکر کړے دے، چې د سليمان د غرو څخه لاړو او د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شو۔ د دې رواياتو منبع کتاب الکبير دے۔ د دې معتبرو کتابونو رواياتو ته څنګه افسانه اووايو؟

20 علامه ابن اثير ۱۱٦۰ ء تر ۱۲۳۴ء په خپل کتاب اسد الغابه جلد ۴، ص ۲۲ کښې ليکي : قېس بن يزيد نه د هغه اولاد دا روايت کړے دے چه هغه (قېس بن يزيد) د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او مسلمان شو او آنحضرت ﷺ هغه د خپل قام والي کړو او په سر ئې ورله (د مخه مهربانئ) لاس راښکلو (نو بيا هغه) خپل قام ته راستون شو او يو غره ته ئې راوبللو چې نامه ئې سليمان وه او هغه هم مسلمانان شول او د قېس د سر هغه ځائې وېښته چې حضور ﷺ پرې خپل مبارک لاس راښکلے ؤو، د هغه (قېس) تر مرګه پورې سپين شوې نه ؤو (دا بيان اوبو موسى راوړو)۔

21 حافظ ابن حجر عسقلاني (۱۳۷۲ء ته ۱۴۴۹ء) په خپل کتاب الاصابه جلد ۵ ص ۲٦۸ کښې دا واقع داسې ليکي: قېس بن يزيد د هغه ذکر ابو اسحاق شملي د بلخ د پتو په خلکو کښې کړے دے چې قېس بن يزيد اووېل چې زه په وادي بسع کښې د نبي ﷺ په خدمت کښې حاضر او مسلمان شوم او بيعت مې وکړو او ما له ئې فرمان وليکلو او عصا ئې راوبخښلو (نو دې نه پس) هغه خپل قام ته راستون شو او د قام ئې يو غره ته چې نامه ئې سلمان وه، رااوبللو او د اسلام دعوت ئې ورکړو او هغوئې اسلام قبول کړو۔ (ابو اسحاق شملي نه دا روايت د عباس بن ذنباع په ذريعه او هغه ته د خپل پلار او هغه له له ضحاک نه، او هغه د خپله پلاره او هغه ته د فالک بن قېس نه رسېدلے دے۔

- د کسی غر چې د سلېمان غر هم ورته وائي اوس هم په خپل ځائے ولاړ دے او يو لوئې شخصيت ته منصوب دے۔ داسې شخصيت افسانه څنګه کېدے شي؟ د قېس غر (سلېمان غر) ژوب د څوکې څه لاندې په يو هواره پربنه د قېس عبدالرشيد مزار دے۔ که د قېس دا مزار په څه وجوهاتو او دلائلو متنازع اوګرځولے شي نو بيا په هم دې وجوهاتو او دلائلو مونږ د پښتنو د هر مشر زيارت ته د شک او د شُبې په نظر کتلے شو۔

- د پښتون قام ۴۰۵ قبيلې شمېرلے شوې دي۔ دې کښې د قېس قبيلو شمېر ۲۲۵، متياں ۵۲، او کړلاڼيان ۱۲۸ دي۔ اوس مونږ دې کښې څنګه د ټولو نه زيات شمېر قبائلو نيکه ته يوه افسانه اووايو؟

- د خدائے پاک رسول الله ﷺ د اسلام قبلولو نه پس د قېس نوم بدل کړو او عبدالرشيد نوم ئې ورباندې کېښودو۔ عبدالرشيد هم يو با معني او د سعادت نه ډک نوم دے، يعني د رشيد بنده۔ رشيد د خداوند تعلی يو صفاتي نوم دے۔ بمعني د هادي او د رهنما رائحي۔ رشيد عربی کښې هغه بني آدم ته وائي چې مرد د صحيح لارې وي۔ اندازه او قيافه لګولو کښې ډېر ماهر وي، او يو کار صحيح طريقه

سره سر ته رسوونکے وي۔ اردو لغت کښې د دې معنی داسې لیکلې ده: هدایت موندونکے، نیک، سعادت مند، بختاور، روایاتو کښې دا هم راځي چې د خدائے پاک دوست ﷺ دې قېس عبدالرشید ته د بطان خطاب هم ورکړو۔ اوس عربي لغت کښې د بطانه یو توره دے چې ډېرو معنو کښې دوه معنې د ولي (دوست) او د خاص بني آدم هم کېږي۔

- قېس سره چې کوم وفد عربستان ته تلے ؤو، د دې د وګړو شمېر معلوم دے چې اتیا (۸۰) کسان ؤو۔ دا کسان د خپلو خپلونو مشران ؤو۔ د چا په واسطه ئې دربارِ رسالت کښې حاضري اوکړه۔ د هغې لوئې شخصیت نوم هم معلوم دے۔ حضرت خالد بن ولید رض۔ قېس روستو یو عرب مشر سره خپلوي جوړه کړه۔ د هغه نوم هم په روایاتو کښې محفوظ دے۔ د قېس د ځامنو شمېر او نومونه هم معلوم دي۔
- د اسلام د راتلو په وخت کښې د پښتنو قبیلو شمېر اتیا (۸۰) وې، نو پنځلس سوه ۱۵۰۰ کلونو کښې د دوئي شمېر ۴۰۵ ته رسېدل د

حساب، جیومېټري، او د الجبرې هر ضربي تناسب د قانون لاندې څه غېر منطقي خبره نه ده.

- یو شخصیت چې بادشاه وي نه امیر او نه مذهبي لیډر، فقط د یوې قبیلې چې شمېرې کم وي (روستو چې د بیټ نیکه دعا دا وکړې ډېر کړے خدایه! قبوله شوه نو بیا ئې شمېر هم زیات شو، او قام هم ورنه جوړ شو. مشر دې ده هغه دومره لږ ډېر خو واضح او صفا حیاتي کوائف Biodata دا خقیقت څرګندولو د پاره کافي دې چې دے یو یعني قېس یو حقیقي وجود ؤو نه که افسانه.

د پښتنو په تاریخ کښې د قېس بابا ډېر لوئے مقام او اهمیت دے. د هر پښتون د پاره، خواه که هغه مذهب پرست وي، قام پرست وي، مترقي یا انقلابي وي، د دې نه پرته د پښتو د تاریخ محققینو سیاستدانو، او د علم آثار قدیمه د ماهرینو د پاره هم یو شان او یو برابر ضروري اهمیت لري. ولې چې دې شخصیت اول ځل اسلام قبول کړو. د عرب د صحرا نه په ډېر جوش، جذبې او اخلاص سره راپورته شوی یو انقلابي پیغام او د تحریک د اهمیت اندازه دې بزرګ ډېر په ښه وخت اولګوله، په ځاني د یوې جرګې سره د پیغمبر ﷺ په خدمت کښې حاضر شو. د نوي نظام او

د فکر مطالعه ئې اوکړه. ایمان ئې راوړلو، د عربو سره ئې وینه شریکه کړه. د خدائې تورے (سیف الله) ذوم شو. داسې د خپل قام سیاسي وجود او مستقبل ئې محفوظ کړو. د دې لوې، ویښ، او صاحب د بصیرت بزرګ کمال ؤو چې پښتو کښې دا نوے انقلاب تحریک ډېر زر خورشو چې پکښې د تورې زور او د جبر په ځائې تبلیغ، کردار او رضا، خپلوي، او د سیرت نه کار د اخستے شو. که صرف د تورې او د زور خبره وے، نو د پښتون په شان ضدي او کلک عقیده قوم یو بلې نظرئې او فکر ته راړول یو نا ممکنه کار به ؤو. نن هم چې یو زبردست مادي او طاغوتي طاقت دا غلطي اوکړه نو د پښتون د لاندې کولو په ځائې ئې خپل وجود درې ورې شو. د تاریخ محققین د پښتنو تاریخ داسې وېشلے شي. د قبس نه مخکښې زمانه او د قبس نه روستو دور. آثارِ قدیمه والاؤ ته هم د تحقیق د پاره د سلېمان د غرونو په لور راتلل پکار دي چې د پښتون د زېږون وطن او لنے تاتوبے دے. قبس پښتنو تاریخ کښې یو برید، یو نشان، یو اهم حواله او land mark دے. د بلوچستان او د سرحد او د سهېلي او د قطبي پښتنو تر مېنځه د نسلي تړون، د قام ګیرت، د پښتونولي، او د مینې یو روښانه مېناره

ده۔ د دې بابا کلیزه نمانځل پکار دي۔ د ده یوه تاریخي یادګار جوړول پکار دي۔

زما په خیال کښې د پښتنو د موجوده خاورې نوم د دې ځائې یو لوئې برکتي مشر او د پښتنو د زیږون د اولنې ټاټوبې د قېس غر د نومونو په مناسبت سره قېسستان کېښوے شي، نو د پښتونخواه د پټهانستان او د خېبر نومونو مسله به حل شي، او د بلوچستان او د سرحد د صوبو ټول پښتانه به هم ورباندې ډاډه وي۔ داسې د پښتنو د دؤو نورو لوئے څانګو متیانو، او کرلاڼو به هم ورباندې څه اعتراض نه وي، ځکه چې قېس او د ده اولاد د دې څانګو هم سرپرست، مربي او محسنان پاتې دي۔

# روه روهي او روهېله[22]

د یو وطن یا د ملک په جوړښت کښې یو خاص وخت، مذهب، ژبه، ثقافت، لساني تاریخ، د زمکې طبعي حالت، طبعي جغرافیه، او سیاسي زور ګیري لوئې کردار ادا کوي۔ دې کښې د بادشاهانو یا د قومونو سیاسي زور ګیري یو عارض کردار لري۔ مطلب دا دے چې سیاسي حقوق عارضي وي ولې لوئ لوئ غرونه او دریابونه اکثر د یو وطن د آخري برید کار ورکوي۔

تاریخ کښې د پښتنو دا موجوده وطن په ګڼو نومونو یاد شوے دے۔ یلهه، بلیهه، بلخ، باختر، پکتي ایکا، ایران باستان، خراسان، کوهستان، روهستان، ولایت پښتونخوا، افغانستان، افغانیه، سلېمانستان، قیسستان، وغېره۔ خو دې کښې د جغرافیه، نسل، ثقافت، او د ژبې په بنیاد بناشوي درېو اصلاحاتو ډېر ذکر کېږي۔ پښتونخواه چې ماخذ ئې د یوناني مؤرخ یو ټکے پکټوک، یا پکتي ایکا دے، چه د نسل او د علاقے د دوارو د پاره پکار

22 دا مقاله روهي وار د پلوشے اپرېل ۱۹۹۳ء کښې خپور شوي دې۔

شوے دے، ګندهارا، چې يو تهذيبي او ثقافتي اکائي ده۔ دې کښې روه چې يو طبعي جغرافيائي علاقې شناخت لري، نن زمونږ د بحث موضوع ده۔

د تورو د تاريخ او ويېښ د علم (علم اشتقاق الفاظ) په رو سره د ه تورے د سنسکرت د ټکي روهي ټيکړي (Rohitagtri) نه راوتلے دے چې معنی ئې ده سور غر (red hill)۔

دې پورتنې بيان کښې دغه دوه توری د وضاحت غوښتونکي دي۔ روه او سور غر۔ بابا هوتک وائي:

پښتنو هلی په غره جنګ دے

سور غر د دوئي وينو په رنګ دے

د پښتو اردو ډکشنری چې پښتو اکېډمی چاپ ده، د دوه معنې داسې کوي: روه (پښتو-مذکر) پہاڑ، پہاڑی علاقه، پشتونوں کے علاقے کا قدیم نام۔

د سر اولف کېرو په خيال د روه لفظ د ملتان په سرائيکي او د بلوچستان په بلوچي ژبو کښې غره ته وائي۔

د سرائيکي ژبې نامتو ليکوال، مؤرخ، او نقاد مہر کاچېلوي ليکي:

روھ سے مراد تو پہاڑ کے لئے جاتے ھیں یا ٹھیلے کی بھی لیکن و ٹھیلا یا پہاڑ جو بھر بھرا ھو۔ سرائیکی علاقے میں ریت کے ٹیلے ھیں۔ وہ ریت جس میں پتھر کا عنصر زیادہ ھے، یہ ریت قدیم دریائے ھاکڑہ کی پہاڑوں سے لائی ھوئی ریگ اور روہ سے بنی ھے۔

**سور غر**

راورټي په خپل کتاب Notes of the Afghan کښې د کوهِ سلیمان غر نمر ختیزې سیمې ته سور غر وئيلي دي۔

د سر اولف کېرو د بیان نه هم دا پته لګي چې سور غر (د کرپې کوهاټ) نه تر جتہ مالګین پورې د مالګې غر ته سور غر وائي۔ د دې متوازي غر ته شین غر وائي۔ دې نه پرته کوهاټ او کرک کښې لوئے غر یو لواغر هم شته۔ هم دغسې د مروتو او د ډېرې ضلعو په مېنځ کښې هم شین غر او سور غر شته۔ د تخت سلېمان د غرونو د سلسلې نوم دے۔ لیکي:

د ملتان او ډېره جاتو اوسېدونکو په پخپله ژبه کښې د تخت سلېمان د غرونو سلسلې ته دا نوم وې ځکه ترې په هند کښې د پښتنو علاقه مراد اخستے شوه۔

## د روه تاریخ او جغرافیائي بریدونه

د ټولو نه مخکښې د سنسکرت عالم پنیني (زمانه ۴۰۰ ق-م) مونږ په دې خبروي چې غر ځنی High Landers به په روهي ټیکیړي کښې اوسېدل۔ د وخت د تېرېدو سره روهي ټیکیړی تورے په روهه کښې بدل شو۔ عن چې یو چیني سیلاني فاهیان (زمانه ۴۰۰ء) دا علاقه د روه په نوم یاده کړې ده۔ د فاهیان د بیان نه پته لګي چې روه ملک د ننګرهار (جلال آباد) په سهېلي نمر ختیز لور ته پروت ؤو خو تربنون نه وو رسېدلے، ګرهېي دې بیان نه د دې ملک د صحیح حدودِ اربعه پته نه لګي۔

یو بل چیني سیلاني هیون سانګ دلته د یوې علاقې نوم پوکیان لیکي او وائي چې د دغې سیمې خلق په غرونو کښې میشته دي، او جدا جدا خېلونه او قبیلې ئې دي۔

ګنتګهم د الفاظ د پښتون سره سموي او وائي چې د هغې علاقې اوسېدونکي ؤو چې فاهيان ورته روهه وئيلي دي۔ د کتاب الحدود العالم مصنف د سلېمان غرونو حدود کښې په ساول نومې کلی کښې د افغانانو د استوګنې ذکر کوي۔ شاؤل يا د شوال غر د بنون په قطب لور د پيرغل غره سره واقع ده۔ نن صبا پکښې وزير آباد دي خو پښتنو د تاريخ د رواياتو مطابق، تقريباً ټول کرلاڼي پښتانه د دې غره نه کوچېدلي دي۔

د منځنی دور تاريخونه لکه تاريخ فرشته او مخزن افغاني د افغان قام په روه ملک کښې د آبادکارئ ذکر کوي او دې سره د روه بريدونه پلنېدل۔ تاريخ فرشته ليکي چې په کال ۱۴۳ ه (۷٦۰ ء) کښې کله د افغانانو اولاد زيات شو نو دوئ د کوهستان (د کوهِ سلېمان علاقې) د سيمې نه راوتل او د کُرمې، پېښور، او د خيبر په واديانو کښې مېشته شو۔

د پورتنی بيان د تجزئې او د فاهيان په بيان د دې تطبيق نه پس دا ښکاري چې فاهيان د روه نه مطلب د کوهستان (غرئيزه) سلسله ده چې د کال 143 ه (۷٦۰ء) نه مخکښې د افغانانو مسکن ؤ۔ پس د دې د روه حدود په ۱۴۳ه (۷٦۰ء) کښې د کرمې، پېښور، او د شينواريان (خيبر) په واديانو باندې محيط ؤو۔

دا وخت افغانانو د پېښور په غرونو کښې يوه قلعه سازه کړه او خيبر نوم ئې ورباندې کښېښودو۔ دا قله د دره خيبر په نمر ختيز سر باندې وه۔ د دې قلعې مقصد دا ؤو چې د خيبر درې په لار په لاهور ښهر باندې د ساسانيانو د حملو ته تدارک اوکړي ځکه چې د دې ځائې حاکم د افغانيانو سره سياسي اتحاد کړے ؤو۔ د لاهور د حاکم نه افغانانو د لغمان ځنې ضلعې لاس ته کړې وې او دې بدل کښې ئې ورسره وعده کړې وه چې د سرحدي پوله به د ساسانيانو د حملو نه ژغوري۔ نتيجه دا وخته چې ساسانيانو د خيبر درې نه په لاهور حملې بندې کړې او دوئ خپلې هلې ځلې د سندھ او د بولان په لور واړولې۔

په روه کښې د افغانانو دوئمه آباد کاري هغه وخت اوشوه چې جے پال او د حميد لودهي تر منځه د لوظنامې نه پس حميد لودهي د ملتان نه تر لغمانه امير اوټاکلو۔ شيخ حميد د لغمان او د ملتان په هرې ضلعې کښې خپل ګورنر مقرر کړو۔ د دې وخت نه پس افغانانو تاريخ کښې يو سياسي اهميت اوګټلو۔ د دې نه پس د روه حدونه تر لغمان (چې د غزني سره نزدې پروت دے) او په سهېل کښې د بنوں او د ډېره اسماعيل خان ته رسېدلے دے۔

په روه ملک کښې د افغانانو دوئمه آبادکاري د شهاب الدين غوري په وخت کښې اوشوه۔ مخزن افغاني ليکي چې سلطان شهاب الدين غوري پرتهوي راج ته د ماتې ورکولو نه پس په واپسۍ کښې افغانانو د روه او د سلېمان په غرونو کښې هشتنغر او باجوړ کښې د قندهار نه تر ملتان آباد کړل۔ د ده جرنېل ملک معز الدين غوري دولس زره افغانان د غور د غرونو نه راوستل او د روه په غرونو کښې ئې مېشت کړل۔ هشتنغر د دوئ اولنۍ آبادي وه۔ دا خلق ورځ په ورځ زياتېدل او کال په کال به ئې د قطبي علاقو او د هندوستان د کافرانو سره جنګونه کول۔ اوس دې منځنۍ زمانه کښې د روه بريدونو آخرۍ شکل واخستو۔ د قبلې غاړه ئې د باجوړ نه تر کابله او تر قندهار د شاه خوا پورې او د نمر ختيز غاړه ئې د نيلاب د ښهر (د سندهـ درياب نمر ختيز غاړه) نه واخله تر ملتانه ويره وه۔ د نعمت الله د بيان نه دا جوتېږي چې د افغانانو دلاسه د کټوز قبيله چې د چترال شاهي خاندان هم دے، نه ؤو۔ مسلمانان شو دې کښې هيڅ شک نشته چې افغانان په روه ملک او چترال کښې د اسلامي تمدن نقيب ؤو۔

د منځنۍ زمانې اولنۍ تاريخ چې پکښې د روه ځلورنۍ بريدونه ښودلی شوي دي، هغه طبقات اکبري (۱۵۹۳ء يا ۱۰۰۲ ه) دے۔ د دې يو عبارت دے:

د روه علاقه يوه غرئيزه سلسله ده چې د دې شروع د اوړدوالي په اعتبار د سوات او باجوړ نه تر د بهکر د سوۍ کلي پورې او د پلنوالي په حساب د حسن ابدال نه تر کابله پروت دے۔ قندهار د دې سلسلې په حدود کښې واقع دے۔

د دې پورتني بيان نه جوتېږي چې شپاړسمې صدۍ عيسوي کښې د روه په نمر ختيز حدود کښې د اټک (کيمبل پور) او د ميان والي ضلعې هم ګډې وې۔

د معدن اخباراحمدي (۱۶۱۱ء يا ۱۰۲۰ ه) کښې هم د روه حدود تقريباً دغه بيان شوي دي۔ ليکي چې: پښتو ژبې کښې روه غره ته وائي چې اوږدوالي کښې د باجوړ د شاوخوا نه تر سيوۍ پورې (چې د بهکر د قلعې لاندې راځي) او په چېړوالي کښې د حسن ابدال نه تر کابل او قندهار د دې افغان آباد دئ۔ دننه واقعه ده، او خلق دې علاقې ته روه وائي۔

دې بيان نه دا پته لګي چې پښتو د روه علاقې په شريکه ژبه Lingua Franca وه۔ نعمت الله دې بيان کښې د هشت نغر اضافه کړې ده چې مطلب ئې شايد د موجوده ګندهاب سلسله ښکاري۔ ليکي: روه د غره يوه سلسله ده چې اوږدوالي کښې د سوات باجوړ نه تر سيوۍ قصبې (د بهکر يوه برخه) او چېړ والي اعتبار سره د حسن ابدال نه تر کابل، قندهار د دې غر په حدود کښې واقع ده، او کوهِ سليمان او کوهِ اشنغر د دې غر په مينځ کښې پراته دي۔

حافظ رحمت خان روهيله په خلاصه انساب پاڼې ۹۰ نه ۹۱ ليکي چې د پښتنو ټول کورونه د يران توران هند او سندهـ تر مينځه دي او روه جغراشيائي حدود داسې راکاږي: د دې (روه) غر ختيز بريد کشمير دے او د دې قبلې پوله د هرات سره جوخت د هيلمند درياب پورې دے۔ دې دواړو ولايتونو مينځ کښې فاصله کم زيات د دؤو مياشتو ده۔ د دې قطبي حد قاشقاردے او سويلي سيمه ئې بلوچستان کښې د بروهي علاقې راسې دے او دې ټول ملکونو ته چې دے څلور پولو کښې ګېر دي۔ د روه ملکونه وائي۔

راورتي هم د روه حدود تقریباً هم دغه بیانوي: د روه په نمر خاته کشمیر، په قبله ئې هلمند سیندهٔ، قطب ته قاشقار، او په سهېل اړخ ئې بلوچستان پروت دے۔

شېر شاه سوري، خوشحال خان، او حافظ رحمت خان هم دې علاقې ته روه وئيلي دي او ښاغلے طائر نواز صېب د دې علاقې ادب ته روهي ادب وائي۔

## روهي او روهېله

پښتو اردو ډکشنري کښې د دوئې معنې داسې لیک دي:

روهي (پښتو اسم صفت) ۱۔ روه کا باشنده، پہاڑی علاقے کا رہنے والا، ۲۔ پښتون روهېله۔

روهيلے (پښتو اسم صفت) ۱۔ پہاڑ یا روه کا باشنده، روهېله، پښتون، ۲۔ مجازاً مسافر د ټولو نه مخکښې فاهیان د روه ملک اوسېدونکو ته روهي وئيلي دي۔

د تاریخ په بیلو بیلو دورونو کښې چې کوم پښتانه په هند کښې آباد شوي دي، هغوئي په روهېله نوم شهرت موندلے دے۔ راورټي لیکي (د روه) اوسېدونکو لا په هند کښې روهېلیان وائي۔

خوشحال خان په خپل فارسي کلام کښې د روهي او کله د کوهي تخلص راوړے ده

روهی امهان پیش خوبات چگل

می روم دل بیش شان بگزشتم

اشرف خان هجري وائي:

په اشعار ئې د پښتو فارسي تېرې کا

په هجري په ذات خټک د روه پښتون دے

د رحمان بابا شعر دے:

په امید د زلفو اونښتم په دام کښې

روهېلے وم ساده دل په هندو یار کړه

د سندهي، سرائيکي، اردو، او پنجابي اديب او محقق مهر کاچيلوي ليکي: روهی سے مراد بھربھری ریت والی سرزمین کے بنتے ہیں، اس طرح روهيله وهاں کا باسی (روهي نه مطلب ده بېرو شګو واله زمکه، هم داسې روهېله د دې ځائې اوسېدونکے)

د ښاغلي عابد علي يو مضمون (چولستان) تاریخي قلعوں کی سرزمين د جنګ مېګزين د ۸ جنوري ۱۹۹۳ شمارې کښې چاپ شوے دے۔ ليکي چې د صحرا اوسېدونکو خلقو ته د دوئي په ژبه کښې روهېله وائي۔ دې خلقو د معاش وسيله ميږي، وزي (ګډې بيزې) اوښ، غوا ساتل او د دوئي نه شوده کچ ايستل او خرخول دي۔

حضرت خواجه غلام فريد په خپل ديوان فريد کښې دې لوئې صحرا (بابا فريد دې ته صحرا استعارةً symbolically وئيلي دي)۔ دې علاقې کښې د غرونو په شکل کښې لوئ لوئ د شګو ټوپې sand dunes دي۔ ته د روهي لقب سلسلے دوئ کلام روهي تورے د علاقائي ثقافت يو علامت جوړ کړو۔ دوئي روهي ثقافت د چولستان او د بهاولپورثقافت ګڼي۔ د چوستان تاريخي آثار نه د برصغير د قديم ترين آباديانو پته لګي، چې د هاکړه درياب

په غاړه آباد ؤو۔ (دا درياب نن صبا وجود نه لري)، او رشته ئې د هړپه او د موهنجودارو تهذيب سره ملاوېږي۔

زه په خپله الفنستن او د اولف کارو رائے سره متفق يم چې روه د پښتو ټکے نه دے۔ دې د پاره د پښتو تورے غر دے۔ روه د سرائيکي ژبې ټکے دے چې اولف کارو ورته ملتاني او د سويلي پنجابيانو د ډېره جاتو والاؤ ژبه وائي۔

سرائيکي ژبې باندې د سندهي ژبې اثرات ډېر دي۔ ډېره اسماعيل خان سره نزدې د رحماني ډېرئ آثار قديمه دي او د ماهرينو خيال دے چې د دې ځائې آثار د هړپه او موهنجو داړو هم زاړه دي۔ د څه ناګهاني آفت په سوب د رحمان ډېرئ خلقو خپل وطن پرېښودے دے او هړپه کښې آباد شوي دي۔

د سليمان غره په لمن کښې يو کلے دے روهړي۔ شېر شاه سوري نيکونه د دې روهړي کلي نه هندوستان ته تلي ؤو۔ د روهړي توري سرائيکي وېښ ښکاره دے۔ دې سره زما ذهن د بادشاهانو بادشاه شېر شاه سوري يوې پېش ګوئي طرف ته لاړو، ستر پښتون سياستدان وائي (د

پښتنو مستقبل د منځنۍ اېشيا د وړو وړو او غېر واضح رياستونو سره نه بلکې د سنده د وادۍ سره تړلے دے۔

# د پښتنو د اصل نسل او د نسب سائنسي تجزیه[23]

د پښتنو د اصل نسل کتنه او څیړنه همېشه د قومي روایاتو یا د تاریخ په رڼا کښې شوې ده. د دوئي قومي روایات دا وائي چې مونږ اصل کښې بني اسرائیل یو، خو چې کله مشتشرقینو د دوئي د قامي ژبې پښتو چې کله څیړنه اوکړه، نو دا پته اولګېده چې پښتو د مشرق ایراني ژبو د ګروپ سره تعلق لري. او دې نه پوهانو دا نظریه را اویسته چې دوئي اصل کښې آریا دي، او دا هغه قامونه وو چې ۱۰۰۰ ق م زمانه کښې د مشرق درو نه هندوستان ته رانته وتل. خو سائنسي طریقه کار باندې د پښتنو د اصل نسل کتنه ډېره لږه شوې ده. په دې سائنسي عمل کښې نن سبا د DNA یوه ډېره اهمه او یقیني لار ده، چې مونږ ته دې لږ کښې د ډېر اهمه سوالونو جوابونه تر لاسه کوي. اوس DNA څه ته وائي؟ دا د ډي اوکسي رائیبو نیوکلئیک اېسیډ Deoxyribo Nucleac Acid مخفف دے. د دې مادي ساخت د امریکي یو سائنسدان جېمز ډیوي واټسن او د برطانئې یو سائنسدان فرانسس کریک په شریکه اپریل ۱۹۵۳ ء کښې معلوم کړې

23زه د دې مقالې په لیک کښې د خپل ملګري غازي مرجان خان مروت، او خپل کشر عمر عثمان خان تاجه زئي د مرسته ډېر منت بار یم.

ؤو او په دې لړ کښې دوئي ته په ۱۹۶۲ کښې د طب په شعبه کښې نوبل انعام ملاؤ شوې ؤو۔ DNA يو داسې ذره يا سالمه molecule ده چې هغه کښې دوه نيوکلو ټائيډ Nucleotide زنځيرونه يو بل سره تاؤ راتاؤ شوي وي۔ په هر يو نيوکليو ټائيډ کښې څلور نيوکلوبېس Nucleobase ممکن وي چې په دې لاندې ډول دي:

- ايډينين A Adenine
- سائټوسين C Cytosine
- تهائيمين T Thyonine
- ګوانين G Guanine

د بره ورکړل شوي اجزاء G, A, T, C نه هغه دوه زنځيرونه جوړ شي چې د هغو نه دا پته لګي چې يو انسان به څنګه ستربړي (لوئېږي)، او څه بيماريانې په هغه راتلې شي۔ د زنځير دواړه کړۍ يو بل سره تقريباً هو بهو، يو شان والې او مشابهت لري۔

**جين** Gene

د بره ذکر شؤو اجزاء نه چې کوم ترتیب جوړېږي، نو مونږ د ډي اېن اے هغه ترتیب ته جین gene وایو۔

**هیپلوټائیپ** Haplotype

دا هغه جین دې چې یو ژوندي ساري جاندار ته د هغه د مور او پلار نه ملاوېږي۔

**هیپلو ګروپ** Haplogroup

اوس که مونږ د ژوندي ساري یو ټولۍ واخلو، او د هغوئي هیپلوټائیپ معلوم کړو، او دا پته اولګي چې د دې ټولۍ څه داسې یو شان هیپلوټائیپ دي چې هغه په ټولو کښې یو رنګه وي، نو دا به د هغه نسل هیپلو ګروپ وي۔ هیپلو ګروپ د یو نسل ته اشاره ورکولې شي۔

د هیپلو ګروپ بېلا بېل درجه بندیانې شوې وي۔ مثال په توګه A او B د افریقي نسلونه دي، C د شمال مرکزي اېشیا او شمالي امریکه، D د جاپان او د تبت د پاره، H د هندوستان، نیپال، پاکستان، ایران، او وسط اېشیا د

قامونو د پاره، او داسې نور مثالونه په لټريچر کښې موجود دي۔ دې ټولو هيپلو ګروپ خپل مينځ کښې شجرې هم جوړې دي۔

## محققين څه وائي؟

- د شلم صدۍ په آخر کښې چې کله د اسرائيل يهوديانو د خپلو لسو ورکو قبيلو د لټون په لړ کښې دعوی ګير پستنو ته خيال شو۔ نو دوئي د هندوستان مليح آباد پښتنو په ډي اين اے تحقيق پيل کړو۔ او داسې يوې اسرائيلي ريسرچ سکالرې د دې سيمې پښتنو او د يهوديانو په ډي اين اے کښې څه مماثلت اومونتو۔ خبره په رسالو کښې خوره هم شوه۔ خو بيا د څه نا معلوم وجوهاتو په بنا دا تحقيق مخکښې نه لاړو۔ اوس ما د ډېرو هڅو باوجود دا تحقيق د ګوګل په پرده بيا نه ومونتو۔

- داسې يو ځل په هم دې ګوګل د کابل پوهنتون يو څيړنګار دا نظريه هم راکړل شو چې پښتونخوا د قطبي سيمې پښتانه د شمالي روس نه او د سوېلي سيمې پښتانه د جنوبي روس نه راغلي دي۔

- د Plos One تحقیقي ادارے مجلې په مارچ ۲۰۱۲ کښې د افغانستان د نسلي ټولو کښې د Y واۓ کروموسوم موروثي يو والي باندې تحقيق کړې دې. او د نتيجې لنډيز دا ده چې د زړې کاني ايز زمانې انسان د افغانستان په غارونو کښې د پنځوس زره Paleolithic Age 50,000 کالو پخوا نه اوسېدو. د شمالي افغانستان په دره دا دل دره چخماخ او نورو ځايونو کښې د مېنځنې کانړي ايز زمانو Middle Paleolithic ages اوزار مونتلي شوي دي. د لسو نه تر اوه زره 10,000-7000 کالو مخکښې د نيوي کاني ايز دور Neolithic age کښې دلته د کرکيلې Ploughing او د ګډو بزو د ساتلو وخت پېل شو. د پيتلو زمانې Bronze age څلور زره او پنځه زره کاله مخکښې د يور ايشيا مېدانو نه د آبادي د زياتېدو په وجه خلق راغلل او ځائې آبادي ئې سره ګډه وډه کړه. روستو په دې سيمې باندې د ايرانيانو، يونانيانو، د بختري، د پارتي، او د هندوستان موري خاندان بادشاهان راغلل. د دې نه پس عرب، منګول، او د ترکو منګولو يلغارونه شروع شول. اوس نن صبا افغانستان کښې پښتانه، تاجک، هزاره، ترکمن، بلوځ، او ځني نور قامونه مېشت دي. پښتانه د ټولو نه زيات يعني

۴۲ فیصد دي، او زیات تر د افغانستان په جنوبي او مشرقي سیمو او مغربي پاکستان کښې اوسېږي. دې مطالعې کښې د ۲۰۴ نفر افغان نمونو موازنه د نړۍ د نورو ګرد وړد پراته قومونو د ۸۵۰۰ نمونو سره وکړې شوه. دا نتائج دا ښائي چې موجوده ټول افغان ۶۰ فیصد یوه مشترکه پلارنۍ ورثه لري. او شاید د نوي کاني ایز دور د کورانو قیصه ده. افغانانو کښې د پښتون، تاجک، هزاره، او د ازبک تفریق او جنیاتي تغاوت د پیتلو دور کښې پیل شو (هر کله چې د کرکیلې او د اولني تهذیب دور راغے). روستو دې سیمې کښې د مهاجرت او یرغلونو دا نسلي تفریق او جنیاتي تغاوت نور سوا کولو، چې نن ئې افغانانو ته منځني ایشیا کښې ځانته یو بې مثاله شناخت اوبخښلو، او دې کښې پښتون او تاجک جنیاتي لحاظ سره یو بل ته نزدې دي. دا نظریه د پښتو د دې خاورې د زامنو sons of the soil دعوې ته هم تقویت ورکوي.

- د ډاکټر ناصر احمد د پي ایچ ډي مقاله: ډاکټر ناصر احمد د پښتون قام په DNA باندې ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کښې د پي ایچ ډي مقاله اولیکله. دې نن صبا د UET پېښور په کمپیوټر په څانګې کښې

اسستنټ پروفېسر په توګه کار کوي۔ ده د بيلو بيلو محققينو په دې لړ کښې آراء وړاندې کړې دي۔ په کال ۲۰۰۱ او ۲۰۰۲ کښې محي الدين او قمر وائي چې پښتانه هيپلو ګروپ RLA کښې شامل دي۔ RLA د يور ايشيا Eurasia علاقه ده چې د سکينډي نېويا Scandinavia نه تر سائبېريا Siberia پورې خوره ده۔ د دوئي دا دعوی د ۹۴ پېښور اوسېدونکي پښتنو د DNA د کتو نه پس وکړه۔

- فراسټ دوئي ګروپ د ۵۳ تنانو د پښتنو د ډي اين اے د کتو نه پس دعوه وکړه چې دوئي کښې اکثره د هيپلو ګروپ G سره تړلي دي۔ د دې درجه بندي قوقاز، ايران، اناټوليه، يونان، او اټلي سره کېږي۔
- د جنوبي افغانستان د ۹۷ کسانو پښتنو ډي اين اے درجه بندي هم RLA سره شوې ده، چا چې په يور ايشيا کښې دننه وسط ايشيا، جنوب ايشيا، شمالي يورپ، مشرقي يورپ، او د وسط يورپ نمائندګي کوي۔
- سيبه ټور Sabitov يو روسي محقق ليکي چې هيپلو ګروپ RLA-B نسل دا لاندني ګروپونه کېدئ شي:

- اندو آرین
- ساکا هومه ورګه Saka hammavarga
- ببدي چې د پامیر علاقې ته د چین نه راغلي دي
- کشان، چې په افغانستان ئې حملې کړې وې (یا د دوئي تربوران کېداري)
- هفتالیان
- د اوغوره ترکیان چې ممکن ده چې غلځي یا خلجي سره سمون خوري۔

- سیبه ټور وائي چې ممکن ده چې اصل په دوئي کښې یو نه، بلکه ټول وي۔ هغه دا هم وائي چې د یهودیانو او یونانیانو هیپلو ګروپ J1 او G او J وي۔ سیبه ټور وائي چې موجوده کار مطابق پښتانه د یهودیانو او د یونانیانو سره نه ملاوېږي۔ خو دا هم وائي چې که حتمي خبره کول وي، نو په کار ده چې د پښتنو ټول ۲۰۵ خېلونو DNA ټېسټ پکار دې اوکړې شي، ځکه چې موجوده ټېسټونه د ښار اوسېدونکو

باندې شوي دي او په ښارونو کښې بېل بېل نسلو خلق استوګن لري۔

- الیاس ګروپ په کال ۲۰۱۵ کښې د ۱۹۰ کسانو بلوچي، برهوي، هزاروي، کېلاشیانو، مکرانیانو، پښتنو، او سندهیانو د DNA په نمونو کار وکړو۔ په دې کښې د پښتنو په حقله وائي چې تېر دوه سوه 200 کالونو نه واخله تر تېر ۲۰ کاله پورې دوئي کښې یورپي جین زیات معتبر (حاوي) وو۔ خو تېر ۲۰ کاله نه اوسه پورې دې کښې د نور د شاوخوا قومونو په رنګه یوروپائي او اېشیائي جینونو یوه امېزه جوړه ده۔ او دا د نوي دور پښتون Modern Pakhtun عکاسي کوي۔

- سېن ګپته Sengupta په کال ۲۰۰۶ کښې د یهودیانو jews کښې زیات عام هیپلو ګروپ G2D په افغانستان کښې د وردک پنځه ۵ پښتنو، د خیبر پښتونخواه سیمې یو ۱ پښتون، او د هنزه یو ۱ اوسېدونکي کښې وموندلو۔ خو هغه وائي چې که د پښتنو اصل د بني اسرائیل نه ثابته وي، نو په کار دې چې هیپلو ګروپ G2D په دومره لږ مقدار کښې نه وے۔

- په مارچ ۲۰۱۸ کښې ۹۰ محققینو له رخه د جنوب او وسطي اېشیا قومونو جینیاتي ترکیبونو باندې تفصیلي مقاله مخې ته راؤته چې د بی بی سی اردو او انګریزی پاڼو هم ورباندې رپورټونه خپاره کړل۔ د دې مقالې ۹۰ محققینو تعلق د امریکې، سپین، هندوستان، قزاقستان، اټلي، برطانیه، روس، ازبکستان، پاکستان، کېنېډې، المان، کروشیه، پرتګال، آسټریا، او آئېرلېنډ کښې موجود بېلا بېل پوهنتونو، او تحقیقي ادارو سره دې۔ د دوئي تحقیق د پاره موجوده نه، بلکه د قدیم وختونو ۳۶۲ کسانو DNA نمونو باندې کار شوې دې۔ د دې قدیم DNA نمونو کښې دوئي ۱۳۲ د ایران، توران (ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان نه، ۱۶۵ د قزاقستان او روس نه، ۶۵ د سوات پاکستان نه آخستي دي۔ تر ټولو کښې زوړ ډي این اے ۱۲۰۰ نه تر ۵۶۰۰ قبل مسیح ایران توران سره، ۴۰۰۰ نه تر ۶۲۰۰ قبل مسیح روس سره، او ۱۰۰۰ نه تر ۱۲۰۰ قبل مسیح سوات پاکستان ادوارو سره وابسته دي۔ قدیم DNA نمونو نه دوئي د موجوده وسط اېشیا او جنوب اېشیا ژبو، قومونو، او تاریخ تجزیه وړاندې کړې ده۔ دوئي څرګندوي چې تاریخي اعتبار سره د یورپي اېشیا نه جنوب

اېشیا ته ۱۵۰۰ نه تر واخله ۲۳۰۰ قبل مسیح ته جینیاتي آثار منتقل شوي دي۔ په دې آثار منتقل کېدو کښې د بکتریا مرګیانه یا ایران توران خلقو څه جوت یا واضح جینیاتي آثارو ثبوت نه دې ملاؤ شوی۔ د دې دور نه پس، دوئي څرګندوي چې د بکتریا ایران توران جینیات جنوب اېشیا ته نه دي ترسیل شوي۔ د ترسیل کېدو دور نه چې کوم نسل مخې له راځي، هغوئي ته د مقالې محققین Indus Periphery ګروپ وائي، چې پکښې د دریاۓ سندھ او د ګندھارا تهذیبونو خلق شامل دي۔ د بکتریا مرګیانه خلقو په حقله مقاله څرګندوي چې دا خلق د دغې ځي مقامي خلق دي چې د تانبې وختونو راسې دلته آباد دي او د یورپي اېشیائي خلقو سره ئې څه تعلق نشته۔ البته دا دي چې د ۱۷۰۰ نه تر واخله ۲۱۰۰ قبل مسیح کښې یورپي اېشیائي خلق ئې د دوئي ګاونډیان جوړ شؤل۔ د جنوب اېشیا سوات سیمئیز خلقو په حقله مقاله څرګندوي چې دا خلقو تعلق د Indus periphery ګروپونه سره دې او د بکتریا مرګیانه خلقو ورباندې اثر نه دې، بلکه البته د دوئي خلقو په بکتریا باندې اثر دې۔ مقاله نګاران دعوه لري چې موجوده جنوبي اېشیا نسلونو کښې

جينياتي اثر هم د دې indus periphery نسلونو دې. د Indus periphery خلقو زوال نه پس د مقالې محققين وائي چې دوه قسمه نسلونه رامخې ته شول چې چې د دوئي درجه بندي احصائي statistical بنيادو باندې شوي دي. رومبي ګروپ ته ASI وائي چې هغوئي کښې ۳۹ فيصده جينياتي اثر يو رنګ دې، او دويم ګروپ ته ANI وائي چې هغوئي کښې ۷۲ فيصده جينياتي اثر يو رنګ دې. دا دوه ګروپونه تقريباً ۳۰۰۰ کاله مخکښې خپل مېنځ کښې ګډ وډ شوي دي او د ګډ وډ کېدو وخت هغه وخت ؤو چې د indus periphery تهذيبونه په زوال ؤو. ANI ګروپ تر ټولو کښې سوچه نسل کالاش دي، او ASI ګروپ ټولو کښې سوچه نسل مالايان (جنوب هند) دي. مقاله په دې هم رڼا اچوي چې اناتوليه او مېسوپوټيميه نه ايران ته هجرت ۸۰۰۰ نه تر ۹۰۰۰ قبل مسيح د زاګروس غرئيز سلسلے په لار شوے دے. دې خلقو ځان سره زراعتي او ځاروُو د پالنې هنر متعارف کړې ؤو. د ايران النسل خلقو اثر په سوات ګندهاره (indus periphery) باندې ۲۰۰۰ نه تر ۷۰۰۰ قبل مسيح شوې دې او په دې کښې اثر وجه شهرِ سوخته ښهر دے چې نن سبا موجوده

ایران کښې دے خو جغرافیائي اعتبار سره د افغانستان قندهار صوبے، او د پاکستان بارډر سره جوخت دے۔ دا ښهر د زاهدان زابل ستر لار او د هېلمند دریاب په غاړه هم پروت دے۔ د UNESCO له طرفه world heritage هم ټاکلي شوے دے۔

## خلاصه

د بره ورکړ شوي مقالو خلاصو نه دا خبره څرګندېږي چې د پښتنو او د جنوب ایشیا کښې مېشت نورو قومونو باندې تحقیق که مخکښې سوچه په تاریخي بنیادو باندې کېدو، خو نن سبا دا تحقیق په سائنسي بنیادو باندې زور اخستې دې چې دې کښې د مېډیکل جینیاتي پوه لرونکو، تاریخ پوهانو، کمپیوټر سائنس ماهرینو، او ژب پوهانو تر مېنځ ګډ کار روان دې۔ د دې تحقیقونو نه نوي حقائق مخې له ډېرې تېزۍ سره راځي او دا حقائقو باندې هم جدید سائنسي طرز باندې بحث پکار دې۔ په دې بحث کښې پښتنو مکتبه فکر او تاریخ پوهانو نمائیندګي نیشته برابر دے، او په خاصه توګه د شهرِ سوخته کړۍ د قندهار، او سلېمان غر سره تړل باندې

تحقیق ضرورت دے۔ خطره به دا وي که دې بحث کښې نمائیندګي نه وشوه، نو دا تاریخ رقم کؤلو د دے نوي سائنسي دور کښې به هم پښتنو اصل او نسب خبره پاتے راشي۔

## حوالے


1. Marc Haber, Afghanistan's Ethnic Groups share a Y-Chromosomal Heritage Structured by Historical Events, Plos One, March 2012
2. Julie Di Christofaro, Afghan Hindu Kush: Where Eurasian Sub-Continent Gene Flows Converge, Plos One, October 2013
3. Hameed Ullah Khan, Nasir Ahmad, Genealogical Study of the Origin of Pashtuns, Proceedings of 9th International Conference on Intelligent Computing Theories, July 2013
4. Muhammad Ilyas, Whole genome sequencing of an ethnic Pathan (Pakhtun) from the north-west of Pakistan, BMC Genomics, March 2015
5. Zhaxylyk Sabitov, The Origin of Pashtuns (Pathans), Russian Journal of Genetic Genealogy, Vol 2, 2011

6. Dhriti Sengupta, Population Stratification and Underrepresentation of Indian Subcontinent Genetic Diversity in the 1000 Genomes Project Dataset, Genome Biology and Evolution, November 2016

7. Vagheesh Narasimhan, Genomic Formation of South and Central Asia, BioRxiv, March 2018

# د بې ستون د ګټې د تحليل سره تړلې کشالې[24]

ګو بيستون کو ټال دے آګے سے کوهکن

سنګ ګران عشق اٹھايا نه جائے ګا

د ايران د ښهر شيراز نه څه کم زيات څلوېښت ميله په مزل د بې ستون زړه آثار پراته دي۔ دې کښې په يوې ستنې باندې د ايران د يو مقتدر باچا دارائے اول د زمانے (۴۸۶ ق۔م نه تر ۵۵۸ ق۔م) په دروژيو (بابلي علامي او فارسي) کښې يو مضمون په مېخی رسم الخط کښې په بيل بيل مخونو ليکلې شوې دې۔ د فارسۍ متن چې ټول ټال Ye کرښې لري، دې کښې درې جملې داسې ليک دي:

ئے لری که آهم

ئے داروچه نه آهم

ئے زوره که ره آهم

24مقاله په ۱۷ ستمبر ۲۰۰۶ کښې په ډېره اسماعيل خان کښې ليکل شوې ده۔

د دې ليکونو ترجمه جارج ګوډ وِټيټيند په کال ۱۸۰۲ کښې شروع کړه او سر راؤنسن Rowlinson په ۱۸۴۶ ء کښې مکمل کړه۔ د دې کړښو په باره کښې د مغرب او د مشرق پوهانو بېلې بېلې نظرئې وړاندې کړي دي۔

- دا کرښې د زړې فارسۍ په يوې لهجې کښې ليک دي۔ د راؤنسن نه تر لاوني او د کينټ راسې مشتشرقينو دا رائے ده چې دا د پخواني فارسي ژبې توري دي۔
- د ايران پروفېسر ډاکټر معين هم دا زړه فارسۍ اوبلله
- د افغانستان لوئ محقق آقائے حبيبي اول ځل په خپلې مجلې سروش کښې د بېستون د کتبې د تحليل وروسته په درې جملو کښې د پښتو اثر ښکاره کړو۔
- دې لړ کښې د ګران محقق عبدالکريم بريالۍ دا رائے هم ډېره درنه ده۔ هغوئ په خپل کتاب پټه خزانه حقيقت په آئينه کښې ليکي: کله چې د فارسۍ او پښتو تر لاس رسېدلي شعرونه وخېړل شي، نو هغه زيات يو بل ته نژدې معلومېږي۔ لکه د پښتو د امير کروړ او د فارسي خنظله باد عيسی شعرونه نوي زمانې ته نزدې ښکاري۔ ښاغلي

ورستو د خپلې راے وضاحت داسې کوي: دوهم د کتبو لوستنه ګټو پوهانو کړې ده، چې نتائج ئې بېل بېل راغلي دي۔ یو لیکوال د بل د مؤقف سره هم اختلاف کړې دې۔ لوني صاحب دا نه وائي چې د کېنټ او ډاکټر معین نتائج د کومې ژبې سره نزدیکت لري۔ د لویو اقتباساتو په ورکولو سره د شک پیدا کولو هڅه څه ابتکار نه دې، چه هغه باندې نوې علمي کنجکاوي هم نه وي او نه څه اضافي وي۔ فاضل لیکوال دا زیاتوي چه مشهور متشرق او فرانسوي عالم ډارمستېټر دا رایه لیکي چې پښتو له ژند سره تعلق لري او زاړه فارسي د نوې فارسۍ سره نزدیکت لري۔ هغه دا دلیل وائي چه پښتو د انډو ایراني ژبو له حلقے سره او د مشرقي ایران لهجے ته زیاته نزدے ده چې په هغه کښې د هند شمالي برخو عناصر هم په پکښې متعمل دي۔

- د قطبي سیمې پښتونخوا نامتو عالم ډاکټر شېر زمان طائزے صیب خپل کتاب د پښتو لیک دود او املاء په سریزه کښې اول خو د درد او د سوز نه ډکه دا ګیله کوي: څه مودې راسې محسوسؤم چې زما لیک د معیارو نه غورځېدلے دې۔ خداۓ پاک دِ داسې او نه کړي څکه چې د کتاب معیاري مواد نه خو ئې داسې نه پرېښي بلکه له خو تخیل

د حمزه تت نه دے۔ ډاکټر صاحب هم دا جملې د پښتو ګڼې او د ګوهر رحمان راز په حواله د دوئي ترجمه ئي داسې وړاندې کړې ده:

- ○ نه ما څوک بې آرامه کړي ؤو
- ○ نه زه دروغژن یم
- ○ نه مې څوک آزار کړي دي

• د پشائي Pashai ژبې محققین او شاعران چه پکښې ډاکټر نور محمد مجمن تمیل په شان نامتو د بشریاتو عالم هم شامل دې، دا دعوی لري چې پشائي ژبې اولنۍ کتبه د بے ستون ده، چه ۵۱٦ ق-م د دارا د زمانې سره تعلق لري۔ دې کتبې کښې چه کومه ژبه په کار راوستې شوې ده، دا ژبه اوس هم پشائي کلو او وسیتو کښې هم دغسې لهجې کښې ویلې شي۔ او د دې ترجمه ده:

- ○ چه ما باندې ظلم ولې اوشو؟
- ○ زه نا فرمان نه وم
- ○ زه دروغژن نه وم زه ظالم نه وم۔

د پشئي ژبې په روايات او ادب دا يوه ستره قيصه ده۔ د سندرې يادشنوي په شکل کښې ويلي شي۔ د استاذانو استاذ پروېش شاهين د دې قيصې په کتابي شکل کښ د وجود ذکر کوي او ليکي: يو ډېر مشهور کتاب دې، برهکت کشا، اصل خو ورک دې، سيزې سېزلې شوې دې، خو لسمه حصه ئې چې په زرګونو سترونو مشتمله ده، د پشاچي ژبې لوئې شاعر ګڼه ډهيه دا زړه راښکونکې او معرکه آزار زميه نظم Birhat Kalha لوئې داستان ليکلې دې۔ دا داستان په ړومبي صدۍ کښ په سنسکرت کښ ترجمه شوې دې۔ او بيا وروستو د نړۍ په ۴۵ ژبو کښ ترجمه شو۔ ډاکټر ګيان چند وربانډې کار کړې دې۔ ميکډونل ئې د سنسکرت ژبې او ادبه په تاريخ کښ ذکر کړې ده۔ د کوالا لمپور بدهيانو دغه پشائي قيصه کتابي کړې ده۔ دا ژبه هلته رسېدلې ده۔

- د بے ستون د کتبې په باره کښ د پروېش شاهين دا خيال ډېر معلقوليت او وزن لري چه دا خبره (چه د کتبې ژبه پشائي ده) د پشائي ويونکي کوي۔ بل مخ ته ئې فارسيان د خپلې ژبې يوه لهجه ګڼي۔ او حبيبي صاحب ئې پښتو ګڼي۔ زما په خيال د ټولې ژبو اول

سر کښې يو وې. نوکه اوس ورته دومره نزديوالي موندې شي، نو بې ځايه خبره نه ده. وطن يو، مېشته يو، دستور يو، د زمانې سره هره ژبه د بلې څخه جدا شوله.

- پښتون ماهر د لسانياتو ډاکټر خالد خان خټک خپل کتاب سندهي پښتو اردو کے لساني روابط د سندهي اديب سراج په حواله دا مصرعې سندهي ژبې ته منسوب کوي، او د دوئي مشابهت سندهي سره ښائي. د دې نه مخکښې مونږ د ډاکټر خالد خان پوره اقتباس وړاندې کؤو: يه ايک ايسى زبان کے الفاظ هيں جن کے اجزاء سندهى، پشتو، اور اردو تينوں ميں مشترک هيں، يہى وجه هے که تينوں زبانوں والے ان کو اپنى زبان کے الفاظ سمجهتے هيں (پاڼه ۲۴۵)

د دې نه مخکښې چه زه خپله رائې وړاندې کړم، بايد چه د پشائي قام او ژبې په باره کښې څه معلومات وړاندې کړم.

د هند لوئې محقق ګيان چند ليکي چه سنسکرت کښې پشاخ بهوت پريت، ديو، راکشش، غوښه خوړونکي دي، او تيټ خلق دي. او شيطان ته وائي داسې دوئې ژبې ته پشائي ژبه وائي. دې ژبه باندې د مغرب او د

مشرق لوئې محققینو کار کړې دې. چه پکښې جارج ګرئیرسن، مارګنسټئیرن، شتانډ Stuand او لائيټنر Leitner ، ګیان چند، عبدالمالک لاموال، او پروېش شاهین په شان لوئې او درانه محققین شامل دي. پشائي ژبه د دردي په نوم هم یاده شوې ده. چې دې ژبې کښې ئې معنی ده: غرځنې او کوهستاني. د دوئي دردیا درادا Drada نوم ډېر زوړ دې. او یوناني لیکوالو ئې ډېر زیات ذکر کړې دې. پشائي ژبه د افغانستان صوبې نورستان، کونړ، ننګرهار، او لوګر کښې وئیل کېږي. نورو صوبو کښې هم د پشائي ژبې ویونکو کلي شته. دوئي وطن د دردستان وائي، چه په دې ژبو کار کونکي عالم لائټنر Leitner ورته ۱۸۶۰ء کښې د دُرد په مناسبت ورکړې دې. زمونږ کلي تاجه زئي لکي مروت سره نزدې د یو کلي نوم د پشانو کلي دے چه د ګمبیلے دریاب په غاړه پروت دې. دلته اوس سالم پښتانه آباد دي. پش (لوهار) یو هم پکښې نشته. روستو چې مونږ به د اسواکا یا ساګا قام او د پشائي قوم د تعلق خبره کؤو. نو د اوسپنې سره د دوئي تعلق به هم ښکاره شي. داسې د یو کلي نوم د کوټانانو کلي دې. د دې وجه تسمیه به هم معلومه شي کله چې مونږ د جپسیانو gypsies او د پشانو د ژبو نزدې والې خبره به څېړو.

د پشائي ژبې لساني او ادبي تاريخ په زرګونو کالونو راتاؤ دې. دا ژبه د کوه هندو کش د غر په قطبې او سويلي علاقو کښې د آرياؤ حملو نه د مخکښې نه موجوده ده. قصه ګر د پشاچه د کاڼي د زمانې آدم خور نسل ګڼلي دي. زړو کتابو کښې د دوئي ژبه د پشاچي. داردي او د آرنيا په بېلو بېلو نومونو ياده شوې ده. پشائي اديبان د دردستان په نوم يوه درې مياشتيزه رساله هم راوباسي. د دې مجلې په ټنډه يو شعر ليکلې وي چه د پشائي قوم تاريخ او جغرافيه هم ځان کښې را ګردوي.

هندو کس که درے ته هرات جا پشائيان

پوړا ته نامے شي تاريخ کوچه دارستان

ترجمه: د هندو کش نه تر هرات راسې پشائي قوم اوسېږي. پخواني تاريخ کښې د دوئي د مېشتي ځائے مسکن او استوګنې ځائې ته دارستان ويلې شوي دي. درد پشائي ژبه کښې غره ته وائي. ستان د فارسي لاحقه ده. او داسې د دې معنی شوه غره ايزه زمکه يا علاقه. ډاکټر لائټنر او نور محققين دارستان کښې د چترال نه تر ګلګت او چلاس راسې علاقه هم ګڼه وي. پرويش شاهين ليکي چه آريانه Arnia د چترال او يا د کهوار

ژبې نوم دې، چې لیټنر ورکړې دې۔ خو بل څوک ئې په دې نوم نه پېژني۔

پشائي قوم سندھ کښې هم آباد پاتې شوې دے۔ او سندهي ژبه ئې هم متاثره کړې ده۔ حنيف خليل خپل کتاب اردو کی تشکيل ميں پشتونوں کا کردار پاڼه ۲۰۷ باندې ليکي چې څه وخت محمد بن قاسم سندھ فتح کړو نو دلته يوه کچھړی ژبه وه، چې پشاچي اثرات ئې لرل، او هم پې شور سينی (يو ببل پرا کرت)۔

د شاهين صاحب وينا ده چې د دې ژبې څه ويونکي نن هم د سندھ د لاړ په علاقه کښې موندلې کېږي۔ او عجيبه خبره دا ده چې د يورپ د جپسيانو ژبه يار وما او پنجابۍ ژبې هم د دې پشائي ژبې سره تړون لري۔ جپسيان زمونږ د پښتونخوا سهېلي علاقې نه وتلي خانه بدوش کوټاني دي۔

د پشائي ژبې د قدامت په لړ کښې لاندنيي دلائل ورکولې شي چه اصل کښې د دې خصوصيات دي:

- پشائي ژبه په ټولو هندي آرياؤ ژبو کښې زړه ژبه ده، چه په تحريري شکل کښې راپاتې ده۔

- پښتو پراکرت پاڼیني د سنسکرت د ګرامر پاره مدنږیز او چوڼ شوې ژبه ګڼلې ده۔
- اشوک راجه دا ژبه د خپلو ډبرو لیکونو د پاره غوره کړې ده۔
- مسلمان عالم البېروني خپل د دوایانو کتاب کښې د دې نمونه ورکړې ده۔
- د نورو زړو آریائي ژبو په مقابله کښې پښتو یوه اصلي او پاکه ژبه پاتې شوې ده۔
- جېسي ژبه د پښتو ژبې یوه څانګه ده، چه پکښې نورې ژبې هم ګډې شوې دي۔ نو داسې جېسي خلق په اصل پښتانه دي۔
- پخواني زمانو کښې چه دوید شهادت پکښې ډېر مستند دي، دا پښتانه خلق د ایسنا په نامه یاد شوي دي۔ څوک چه اوس هم اسنکار، ایشنک، او اله سائي په تاریخي درو کښې د دې نومونه سره اوسېږي۔
- په دې ژبې کښې بدهت کهتا او ملنډا پڼه غونډې تاریخي او مشهور کتابونه لیکلي شوي دي۔

- کومه ګندهاري ژبه چې د اوسنو ژبو مور ګڼلې شي، دغه ګندهاري د دې پشائي نه زیږېدلې ده۔

- دې ژبې خپل ځانته لیک دود لرلو، چې نن هم تبت کښې شته۔

- د ګلګت سنکراتي نسخه د پشائي ژبې ترجمه ده۔

- دا د دې سیمې ژبه ده، او هم دا خاوره د دې زوړ ټاټوبې دې۔ ډېرو ډېرو عالمانو د دې ژبې نوم لیکلې ؤو۔ او دا به ئې وئېل چې پنجابي، سندهي، هندکو، سرائیکي، کتراني هډ هم د د ې ژبې دي۔

- د افغانستان د کاپیسا ولایت و پشاچا د خلکو د مور نوم دې۔

- دا د بده مت د مذهب او ادب ژبه پاتې شوې ده۔

- د دې نوم نن هم په دې وطن کښې ډېر ځایونه لکه پېښبور، پېش پور، پشوړه، پشمال، پېش نور، پېشونی، نشتي پل، پشه پل، پټنګ، او پشتخره موجود دي۔

- پشائي ژبه د دواړو آریائي ګروپونو هندي او ایراني نه خو جدا ده، خو د دواړو خاصیتونه ورکښې یو شان موندلې شي۔ د نورو آریاؤ نه بېخي جدا، خو په ډېره زمانه کښې پشائي جدا شوې دي۔ او د ځان

له په غرونو کښې د پاتې کېدو په سبب ئې بيا د آرياؤ مذهب، دستور سره ترون نه دې پاتې شوې.

د بره خاصيتونو په بنا چه بېلو بېلو محققينو د پشائي ژبې بيان کړی دی، د دوئي نه زما په خيال دا تنيجه په آسانه سره اخذ کېږي چه هر کله پشائي اصلي، مونډېزه، سوچه او پاکه آريائي ژبه ده (زه ځاني د آريه ژبې او نسل نظرئې سره اختلاف لرم، هغه د علي خان محسود خبره چه لا تر اوسه دا پته او نه لګېده چه آريا د نسل نوم ؤو، د مذهب، او که د نظرئې)، نوره به دا خبره په دا طريقه اوکړم، چه هندي او ايراني کښې د پشائي ژبې خاصيتونه يو شان ملاوېږي. يعني پشائي ژبه ئې مورده او هندي او ايراني ژبې ئې لونړه دي. چه دې کښې د نن پښتو هم راځي. يعني د پښتو فارسي و سنسکرت په مقابله کښې پشائي نسبتاً اصلي يا د دېسي خلقو (Indigenous Native People) ژبه ده.

د تاريخ الافغان مصنف دا خبره په ډېر ساده انداز کښې کړې ده. پښتو زبان ان وحشی اقوام کی ہے، جو جن اور دیو نسل سے تعلق رکھتے تھے۔ پہاڑوں کو تراش تراش کر مکان بناتے تھے، پشتو زبان ان کی ہے۔ افغانوں اور پشتونوں کو وطنی ورثے میں ملی ہے۔

تاریخ تمدن هند (پاڼه ۱۲۴) دا خبره په دا طرز کوي: دردستان او یاغستان خلق داسې ژبه وائي چه د پښتو سره سمون خوري۔

## پشتو ژبه د ساکا قوم ثقافتي میراث دے؟

ساکا Sakas ۹۰۰ ق۔م زمانه کښې هندو پاک ته رادننه شو۔ او د سکندر اعظم د حملې په وخت د دوئي شمال مغربي بریدونو باندې اوسېدل۔ د دوئي د ډېر میشته کېدو تنیجه دې وطن ته د ټولو نه اهمه ورکړه د پشتو ژبه ده۔ ټائن بی او اولف کېرو دواړه دا نظرئېې لري چه پشتو د ساکاؤ یوه لهجه ده چه د شمال له لوري متعارف شوې ده۔ هغه دې د پاره Spalagodama او د Spalahore مثالونه ورکوي، چه د فارسي د په ل کښې بدل شي۔ داسې پښتو ژبه د ساکاؤ میراث ګڼي۔ د پکتیا هندو شاهي هم د ساکا قوم یوه څانګه ده۔ دې خاندان کښې کلر بامبر د د تخت نیشتی نه پس د اسپالائي لقب اختیار کړو۔ دې سپالاپتي سکې عامې دي۔ چه په هغو باندې د بادشاهانو نومونه په دیو نګري رسم الخط کنده دي۔ د جے پال او د انند پال د نومونو یوه سکه هم نه ده موندې شوې چه تاریخي شخصیتونونه دي۔ ډاکټر حسېن د سټین Stein په حواله لیکي چه ساکا هغه خلق دي چه هېروډوټس ئې د پکټیک Pactyric د پېښور علاقه او

کیسپټېرس Caspatyrus موجوده جهانګیره کښې د نورو هندوستانیانو نه د شمال په لور آباد ؤو، او طریق ئې د باختریانو Bactriak وې۔ روستو ویدي دور کښې ګندهاری Gandharvas شمال مغرب کښې د نوم څېښتن خلق ؤو چه بدها پرکاش ئې نسلاً دراوړ Dravidian بولي۔ د بدها پرکاش ورکړې دا اقتباس ډېر معني خېزه ده:

It is significant that the Gandharas are the people with the mouth of the horse. In fact Gandharva is an equinine genic. Hence, the resemblance of their name with a word for a horse has a unique significance. That the dravidian peoples once passed through the north-western regions of the Punjab is proved by the existence of an islet of their speech among the Brahuis. Probably, the word Gandhara also reflects the memory of their advance in that region. The equation of this word with that meaning a horse is in accord with the prominence of the horse in the northern regions. (Puranas)

ډاکټر حسېن روستو د هندوانو مقدس کتابونو پرانونو Puranas په حواله لیکي: چې د ګندهاره شهزادګان ورلۍ وید کښې ذکر د Druhyus قبیلې له اولاد نه دي، او مطلب ئې دا ترې نه اخذ کړي دې چه د ګندهاره عام خلق په نسل دراوړ ؤو، او سردامي elite ئې د Druhyus قبیلې نه ؤو۔

دا سوایا اشوکا په باره کښې پرویش شاهین لیکي چې عام مؤرخین دا خلق پښتانه او یوسف زي ګڼي۔ زما په خیال چه کله پښتانه اودرولا یو ځائې ؤو، نو دا نوم ئې ؤو۔ اوسپنه او اس هند ته دې خلکو راوړي دي۔ دا خلک وحشي بېخي نه ؤو۔ دا د علم، پوهې، او د فن خلق ؤو۔ په ټول هند کښې سکه coin هم د دې خلقو په سوات کښې موندلې شوې ده۔ چه ټول عالمان پرې یوه خله دي۔ د افغانستان په ژبو یو مستند عالم جارج مورګنسترین دا خبره اول ځل کړې ده چه ساک پستانه دي۔ او پښتو د ساکي میراث دې۔ پښتو د ساکي ژبې نه وتې ده۔ ډاکټر زیار په دې نظرئې یو ښه غټ کتاب لیکلي دې۔ پروفېسر مارګنستئېرن په روستی لیک کښې لیکلي ؤو چه زه پښتو د ساکی نه ګڼم۔ ثابتولې ئې نه شم۔ زما په خیال هر کله چه درد پشان او اسوا کایو شو، او اوسپنه هند ته دې خلقو راوړې ده۔ پښتو د ساکا نه وتلې ده۔ نو پښتو کښې نن هم د اوسپنې کار کؤنکو کاریګرو ته پشان (لوهار) وائې۔

## د پشانو او د پشائې ژبې د زوال اسباب

محققین لیکي چه د آریاؤ د دردي سره جنګ شوې ؤ۔ او دوئې ته ئې د پشاچه پشاخ Pesocha نوم ورکړې ؤ، چې معنی ئې آدم خور د او کچه

غوښې خوړونکو کېږي۔ وجه ئې دا ښائي چه دې خلکو ډېر ویدی رسمونه او عبادتونه پرېښودی ؤ۔ ځکه د هغوئي په نظر کښې د دې داروي او بې مذهبه خلک ؤ۔ او د دوئي ته ئې ملچ، داس، داسیو، دیو، وحشي، او پلیت وئیلي دي۔ خو مؤرخین دا نه ښائي چه پشاپانو وېدي رسمونه او عبادتونه ولې پرېښودل او دې لړ کښې مفروضې شته۔ چه اهمه دا ده چه آریا اول کښې د غوښه خوړونکي ؤ۔ وجه هر څه چه وي، دې جنګونو پشایان د هندو کش غرونو او وادیانو ته یو ځل بیا راغونډ کړل۔ د پشائي ژبې د زوال وجوه دا دې چه کله پانیني نور رائج پراکرتونه متروک اوګرځول، او صرف سنسکرت ئې ګرامري، ادبي او مذهبي ژبه برابره کړه۔ ورسره ایراني فوځونو یلغارونو فارسي په دې علاقه خوره کړه۔ او د اوستائي ژند ژبه ئې رائج کولو کوشش اوکړو۔ نو د سنسکرت سره ئې پشائي او نورو پراکرتونو ته هم ډېر توان اورسولو۔ آخر د اسلام د راتلك سره فارسي او پښتو په دې سیمه ښه غزونه اوکړه او داسې تقریباً پشایان په مکمل توګه د هندوکش غرونو ته وردیکه کړل یعني:

پہنچی وهیں په خاک جهاں کا غبار تها

## پښتو نسبتاً اوسنۍ ژبه ده

زه د تاریخ پښتون د دې خبرې سره جزوي اتفاق لرم چه موجوده پښتو تاریخي حوالې سره د پشائي، دردي، سنسکرت، او د ژند وغیرو ژبو په مقابله کښې نسبتاً اوسنۍ ژبه ده۔ او دې قام او د ژبې په عروج او ارتقاء کښې د اسلام ډېر لاس دې۔ ګرچه دا حقیقت هم په خپل ځائې دې چه د پښتو جرړې او رېښې یعني ګرامر، غړونه، او جوړښې ترکیب د زړو ژبو کښې تر لرې پورې موندې شي، چه زمونږ تحقیق ئې بیا د مفروضو، خالي ځایونو ډکه ولو د چلونو، لفظي، او لغوي ګرتبونو، او نور قیاس او د ګمان طریقو سره دا تاریخ تر زرګونو کالونو پورې رسوي۔ حالانکې حقیقت دا دې چې:

- د سنسکرت لوئې عالم او ګرائمرین پانیني د دې ځائې ؤو۔ خو د پښتو ذکر ئې نه دې کړې۔ چې زمونږ د پاره ترې حواله جوړه شي۔ ګرچه دا دعوی کېږي چه د هغه ټول کتابونه او بیا خاص ګڼه پیټه د دې علاقو جغرافیه او د قبیلو ذکر کوي۔ خو د قبیلو ذکر هم پځائې د اصل نوم د جغرافیائي نسبت سره کوي۔ مثلاً Highlander dwelt in Rohitagiri (Red Hill) معنی غرچنی به په سور غر کښې اوسېدل۔ دې

نه محققین دا مطلب اخلي چه کوهستاني افغان به په روه ملک کښې اوسېدل۔ نو اوس دا څنګه کېدې شي چه د پښتون ذکر څه نه څه شکل کښې د جغرافئي او د قبیلې په توګه خو وي، خو د ژبې ذکر ئې نه وي؟

- د ګوتم بدھ نه مخکښې په دې سیمه کښې کم زیات څلور مشهور پراکرتونو د وجود پته لګي۔ ۱) پالي او مګدهي مذهبي ژبې، ۲) مګدهي پشاچې شوریني ادبي ارزښت ئې لرلو، ۳) مګدهي شوریني د ډرامو ژبه وه، او ۴) پشاخي جولیکا پشاچي مګدهي چه قوی قواعد ئې لرل۔ داسې د ډېرو ژبه ګندهاري وه، چه لویه دردي څانګه ګڼلې شي او څنګه چې مخکښې ذکر راغلو، چه ګندهاري درعیت ژبه وه۔ خو بهرحال پښتو نه وه۔ داسې باختري، تخاري، پامیري، ازبکي، او تاجکي د چین، تاجکستان، ازبکستان، او ترکمنستان سره نزدې د بلخ یا باختر او د مزار شریف یعنی د نن په سیاسي اصطلاح کښې د شمالي اتحاد والاؤ ژبې وې او دي۔

- د پانیني سره منسوب دا لیک هم چرته وجود نه لري، چه ما د سنسکرت د قواعدو جوړښت کښې د دوه نمائنده پراکرتونو هنیاں او

پکتیان نه ټکي اخستي دي۔ دې کښې هنیان نه ښاغلي مختیار نئیر صاحب د هندکو او ځلمې حنیف خلیل د ښهو (Huns) ژبه مطلب اخلي۔ البته پکتیان مطلب د دواړو په رائې کښې پښتو ده۔

- وکشک باچا په وخت غالباً پیښور په مقام د بده مت د مهایانه فرقې غونډه شوې وه۔ دې کښې هم د پښتو ذکر نشته۔ او دا صرف یوه کمزورې دعوی کېدې شي چه بدهي ملکونو کښې نن کومه مذهبي ژبه ده، هغه د دې ځائې ده۔ چه مونږ د نورو ژبو سره ګډون سره پښتو ورته وئیلي شو۔

پښتو د زرګونو کالونو په تاریخ کښې د پنهان (پټه) پاتې کېدو د ټولو نه اهم سبب دا ده چه دا کله هم مذهبي، ادبي، سیاسي، تجارتي، دسکې، او د خطې ژبه نه ده پاتې شوې، د خبرو اترو (بول چال) ژبه وه۔ نو د دې هم څه مستند ثبوت نه لرو۔ ګنې پانیني خو به ئې د پرا کرت په توګه ضرور ذکر کړې وې۔ یا د بده مت د تعلیماتو یوه کتبه د عامو خلقو د تعلیم او پوهې د پاره به په پښتو ژبه کښې لیکلې موندلې شوې وه۔ [25] تواریخ حافظ رحمت خاني خو خپل دې لیک سره د پښتو د قدامت مسله نوره هم

---

25 رسم الخط ذکر به انشاء الله بیا چرته اوکړو۔

مشکوک وي چه: ملک احمد جو که فارسي گو فصيح الانسان اور خوش آواز تها، اس نے بادشاه کی مدح شروع کی (اردو ترجمه پاڼه ۱۵۵)۔

شکر دې چه تقريباً د زرو کالونو نه اوس دې کښې سم ډېر مذهبي او ادبي کار شوې دې۔ خو دا ژبه به هله د ترقي بام ته اوخېژي چه دا ژبه سرکاري سرپرستي اومومي۔ حکومتي او رياستي ژبه شي۔ د حکومتي واکمنو (بيوروکرېټس) او د مقتدره ټولي (Elite Class) ژبه شي، د سرکاري دفترونو ژبه شي، د تجارت، سائنس، او ټکنالوژي ژبه شي۔ که نن خوار و عاجزو اديبانو او شاعرانو دا ژبه پرېخوده، نو ډېر زر به دا ژبه هم د پشائي، شاړې، لغماني، او د واخي ژبه په شان د ورکېدونکو ژبه او اصلي دېسي خلقو ژبه Indigenous People Language په قطار کښې اوشمارله شي۔ او خدائے پاک دِ نه اوکړي چه بيا ئې ۹ ستمبر ورځ (د ورکولو ورځ) نمانځلو وال هم څوک پاتې نشي۔

پښتو ټينګه کړه پښتونه چه هم ژبه ده هم توره[26]

---

26 دا تورې د لهجې د لړ بدلون سره د دود دستور او قانون په مطلب کښې هم په کار رواستلې شي

ته پښتو ئې پښتون کړې ته هم را کړه مشوره

## حواله جات


- پټه خزانه د حقیقت په آئینه کښې (مصنف عبدالکریم بریالے)
- د پښتو لیک دود او ملاء، سرسري جاج، ډاکټر شېر زمان طائزے
- پشائي، مضمون د پرویش شاهین، مجله پلوشه جون ۱۹۹۹ء
- پشائي، مضمون د پرویش شاهین، مجله ورځ، پنځم کال، دویمه ګڼه، ۱۳۸۴ه
- پشائي، مضمون د پرویش شاهین، مجله ورځ، پینځم کال، لومړي ګڼه، ۱۳۸۳ه
- خطوط د ایاز داؤدزی او د پرویش شاهین په نوم د مقاله نګار
- پشائي او دارستان، کالم صدالصحرا روزنامه آج، ذیشان طارق
- تمدنِ هند، مصنف ډاکټر ګستا ولي بان، اردو ترجمه مولوي سید علي بلګرامي

- تاریخ پشتون، اردو ترجمہ، تاریخ خورشید جہان، تالیف شیر محمد خان گنڈہ پور
- تاریخ حافظ رحمت خاني، تالیف پیر معظم شاہ، ترتیب و حواشي خان روشن خان
- اردو کی تشکیل میں پشتونوں کا کردار، مصنف حنیف خلیل
- تاریخ الافغان، مصنف محمد اسلام خان جدون
- North India in the 6th Century BC, pp 12-13, Photocopy through courtesy of Parvesh Shaheen
- Ethnolographic Field Research among the Pashai people of Darrah-i-Noor, by Jan Qvesep
- Ancient India as described in Classical Literature, Jon W. McCrindle
- The age of Imperial Unity, R. C. Magnurdar
- Political and Social Movements in Ancient Punjab, Buddha Prakash
- Causes, Effects, and Remedies of Poppy Cultivation in Swabi-Gadoon Area, Dr. Hussain Khan
- Janjuas, their early Life, by Dr. Hussain Khan
- The Hindu Shahiyas of Kabul, Dr. Hussain Khan

- جرمنیان یو شول، مصنف علي محمد خان محسود

# پښتو کښې د هنر خاوندانو مقام[27]

ملت په هنر کا هنر په کار دے

مور پلار د به څه کړي هنر مور پلار دے

فخر په زر مه کړه په ښه پدر مه کړه

فخر په دا کړه که هنر دِ یار دے

که په اصل دے سید وي شهزاده وي

چه هنر ورسره نه وي مه ئے ستایه

د هنر او فن تعریف څه ده؟ علم او هنر کښې څه فرق ده؟ او د پښتنو په معاشرې کښې د هنر مند څه مقام ده؟

هنر د فارسۍ ژبې تورے دے چې معنی ئې ده: جوهر، لیاقت، او فن۔ د هنر خاوند فنکار، کاریګر، او لائق بنیادم ته وائي۔ فن د عربۍ تورے دے معنی ئې حال۔ طرح (کیفیت)، هنر، حیله، دستاکري، څانګه، علم او آرټ کیږي۔ جمع ئې فنون ده۔ جدیدي عربۍ کښې د راګ په معنی

27دا مقاله روميې وار پلوشے د دسمبر جنوري ۱۹۹۳ء ګڼه کښې خپور شوے ده۔

استعمالېږي. د عربی د قواعدو (باب نَصَرَ و ینصُرر) مطابق د دې معنې هم کېږي. د رمي پيئول (هانګا)، لرې کول، نقصان اوچتول، آراسته کول.

انګرېزی کښې فن ته Art آرټ او هنر ته technology وائي. دلته د فن مطلب کېږي. عملي علم skill ،practical knowledge (هنر)، advoirtness ، مهارت، هنر مندي، کاريګري، چالاکي، حاذق، زيرکي) صنعت، فن، هوښياري، تدبير، د زده کړې هغه ټولې څانګې چې کالجونو کښې ښودلے شي.

د آرټ دوه قسمونه دي. تور فن black art مثلاً جادو او سحر، او مهين ښائسته فنون fine arts، مثلاً موسيقي، مصوري، بت تراشي، او تعمير.

ټکنالوژي technology انګرېزی لغت کښې د دې معنی ليک ده: A treatise on the Arts فنون او د هنر کتاب، فن. خوشحال بابا هم په دې معنی په دې شعر کښې داسې استعمال کړے دے.

کتابونه د هر فن راسره نور شته

خو زما له بازنامې د سره سرور شته

د باز نیول، د دوې ساتل، او د ده علاج کول یو هنر دے او کتاب ورباندې لیکل یو فن دے، علم او فن (هنر) کښې فرق ده۔ د علم معنی کېږي آګاهي، دانائي، پوهې، پېژندګلو، حکمت، پوهې کول، یقین کول، تاړل، څارل، مضبوطول۔

د علم سره چې عمل ګډ شي نو بیا ورنه هنر جوړ شي۔ زما په خیال کښې تش علم د خبرو، د سوچونو، او د تصوراتو نوم دے۔ د عمل نه بغېر د علم حقیقت دا دے:

په خالي کیسه به نه رسي تر ګامه

څه حاصل که بو علي شي په کیسو

علم کل ده او فن یو جزو، دین د علم نوم دے او تصوف د هنر، شریعت علم دے او طریقت یو فن، د پخوا زمانے روحانیت د دې علم نوم ؤو چې وړاندې ئې تعریف اوشو او د نن مادیت د هنر، د عمل او د سائنس نوم دے چې د فطرت د قوتونو د تسخیر اسباب پیدا کوي۔ داسې هنر او اسبابو او د وزرو د حصول نوم دے چې تتیجه او مقصود ئې دا دي:

وائي لار د ختو نشته د آسمان ته

## زه به لار ورته پیدا کړم په هنر

علم او فن کښې فرق په دې مثال واضح کېږي چې پخواني یونانیانو د ایتم په باره کښې څه لږ ډېر علم لرلو، خو دوئي ایتم بم نه شو جوړولے. نن چې ایتم بم جوړ شو نو دا علم نه زیات د هنر د ترقۍ برکت دے.

مجله لیکوال د اپریل میاشتې په ګڼه کښې د یو فاضل ورور مضمون (پښتو موسیقۍ کښې نوي رجحانات) شائع شوے دے لیکي: مسلمان عالمان د فنون لطیفه د نورو اصنافو لکه ګډا، مصوري، سنګ تراشي، وغېره په شان د موسیقۍ هم خلاف ؤو، او موسیقۍ ئې شرک او بدعت ګڼله. موسیقۍ د خلقو په نظر کښې سپکه کړے شوه. او دې فن سره شوق لرونکي او بیا روستو دې کسب سره تړلي خلق ټولو کښې نیچ او کمتره ګڼلے شول او پښتو معاشره کښې چا ته ډم وئیل یوه لویه کنځل ګڼلے شوه. خو زما دې مفروضې سره سخت اختلاف دے. زما په خیال کښې قصور د مسلمان عالمانو نه، د پښتنو د خپل قبائیلوي نظام دے چې پکښې د هنر خاوندانو (کاریګرو، کسب ګرو) ته په سپک نظر کتلے شي، او ورته د دوئمې درجې شهري مقام ورکړل کېږي.دې کریګرو کښې ډم څه چې د هر فن

او د هنر خاوند پش، څمیار، ترکاڼ، کلال، کمهار، زرګر، دهوبي، درزي، پوؤلانے (نداف) وغیره راځي.

نسلاً چې پښتون وي، نو هغه به صرف پښتون وي، د پښتنو ډم، پش، او ترکاڼ خو کېدے شي خو پښتون ډم پش او ترکاڼ نه شي کېدے او نه ډم. پش او ترکاڼ پښتون کېدے شي. هم دا وجه ده چې نن کلو کښې کاریګر خال خال پاتې دي. اکثر لوئې ښهرونو کښې آباد شول ځکه چې یو خو کلیوال قبایلوي پښتون معاشرې کښې باوجود د خپل خدمت دوئي څه سیاسي مقام نه وي او ورسره ئې آمدن هم د محنت په مقابله کښې کم وي. دې ډمانو او نورو کاریګلو معاشرې کښې خپل فرائض او حقوق وي. ډم د پښتنو د خوشۍ، غمۍ، او د خېر خېرات په موقع د دوئي خدمت کوي. د پیغامبر یا د ایستاذي کار هم کوي. رشتې ناتې هم دوئي سره جوړوي. د نائي توب کار هم کوي. مجلسونو کښې ګډېدونکې لشتې یا وېرکې هم اکثره ډمان هلکان وي او د افسوس مقام دا ده چې کلو کښې زنانه او مردانه قحبه خانې هم د دوئ غریبانو کورونه وي. دې بدل کښې د دوئ د نورو نه د حفاظت، ننګ، او د خېر ښېګړې ذمه وار پښتانه وي. د ۱۸۷۶ء کښې لیکلي واجب العرض (هغه دستاویز چې د

انګرېزانو او د پښتنو مشرانو تر مېنځ يو قسم لوظنامه ده) چې وخت نه وخت پکښې تر ميم او اضافه کېږي د کمۍ (مکين چې د هندي تورے دے او معنی ئې د وړوکي ذات خلق کېږي) د فرائضو۔ د کار او د حق الخدمت تفصيل داسې ورکړے شوے دے۔

| کسب ګر | د کار تفصيل | حق خدمت |
|---|---|---|
| ترکاڼ | د لرګي کار، متعلقه آلات د زميندارۍ وغېره، لرګے مالک ورکوي او د ترنګل د غاښی لرګی ترکاڼ ورکوي۔ | فصل خريف، جوار (مکۍ) څلور ټوپه، فی هل، فصل ربيح، غنم څلور ټوپهه، فی هل پرته د خدمت دوه ګډی غنم، او که کوټه جوړ وي نو بيا مزدوري آخلي۔ |
| پش | د متعلقه آلات د زميندارۍ يا مرمت کار کوي۔ اوسپنه او کوئله مالک ورکوي۔ د | د ترکاڼ په شان |
| څميار | د څرمنې کار، متعلقه آلات د زميندارۍ۔ په مثل د زړې څپلۍ، د زاړه مشک، د څرمنې نارۍ | خريف: جوار (مکۍ) ۲ ټوپهه ربيع: غنم، ۲ ټوپهه نن صبا ځينو کلو کښې د څميار په زميندار هيڅ حق نه |

| | | |
|---|---|---|
| | | وي۔ په نقد قيمت څپلی جوړه وي او په نقد ئې اخلي۔ |
| نائي (حجام) | حجامت کول، پيغام رسول، د خوشۍ او مرګ په موقع روټۍ پخول | خريف: مکی ۲ ټوپهه، ربيع: غنم ۲ ټوپهه، يو ټوپهه برابر يو سېر يو پاؤ (1.25 سېر) |
| ډم | ډهول وهل، د واده او د غم په موقع پيغام رسول۔ ډوډۍ پخول | خريف: ۳ ټوپهه مکی، وزن ۱۵ کلوګرام<br>ربيع: ۳ ټوپهه غنم، دوه ګېډۍ غنم ورسره د خوشو بقدر ۴ کلوګرام۔ |
| جماعت امام | جاروب کشي او د جومات د رڼا ډيوې بندوبست کول | حسب توفيق، هر مسلمان د فصل د اوچتولو په موقع نسبت۔ د کم اختر وغېره بطور د خېرات د جومات امام ته ورکوي۔ څه خاص شمېر ئې ټا کلے نه دے۔ |

د دې پرته د لور د واده په موقع ترکاڼ، څمیار، پش، او حجام ته پنځه پنځه یا لس لس روپۍ د لور وال د زدئ وال نه د اخستو نه پس ورکوي. کاریګر د چېت د میاشتې نه واخله تره کال آخرون پورې خدمت کوي. کال مېنځ کښې نه خو کمین خدمت کول پرېښودے شي، او نه ئې مالک لرې کولے شي. که کال مېنځ کښې کمین خدمت پرېږدي، نو هغې نه هیڅ نه شي ورکولے. او که نالك ئې لرې کړی نو بیا څومره موده ئې چې خدمت کړے وي، د هغې هومره حق الخدمت وصول کورو خق دار وي. غېر مالکان چې د چا سره همسایه وي. د هغه زمکه کښې مال پلال څروي او ده نه هیڅ قسم د څرولو معاوضه نه شي اخستلے.

څو پورې چې د کسب ګرو او د کاریګرو د سیاسي حقوقو تعلق وي نو دوئي ته د پښتنو د جرګې یا مزکه کښې د رائې او د ووټ حق حاصل نه وي، نه دوئي ته باوجود د کمال، د هنر، د هوښیارۍ، او د ذهني صلاحیتونو د قام د مشرۍ موقع ورکړی شي، ګرچې د صدیو محکمې خوارۍ او پستې دوئي کښې د ډېرو ذهني صلاحیتونو اوس مفلوج کړي دي او اوس ئې په دا واقعې پوخ یقین داغلے دے چې د یو کاریګر زوی

د خپل پلار نه تپوس اوکړو چې د اوسنۍ موجوده ملک د مرګ نه پس به څوک ملک وي؟ پلار ئې ورته اووې د ده زوئے۔ او د هغې نه پس، د هغې زوئے۔ د زوی د بار بار د تپوس نه آخر پلار تنګ شو او ورته ئې اووې چې زه ستا په مطلب سر شوم خو که د کلي تمامې خلق مړه شي بيا به هم ستا د ملکۍ موقع رانه شي، ښه ده چې خوبونه پرېږدې، خپل کار سره کار لره۔ هاں د پښتنو شجرې او د دوئې د نيکونو د مړانې قيصې دوئ ته يادې وي۔ په نظم يا په نثر کښې ئې تېره وي۔ او داسې د دوئي د نيکونو ثنا صفتونو کولو سره د دې پښتنو زړونه خوشحالوي۔ د مړوتو د کسرونو خالق هم ډمان دي، ښه ژبه ور وي، کوم ماشوم چې ژبه نه شي زده کولے، نو هغې ته د دوئي سره ډوډۍ ورکړي او بيا د ټونه اکثر کاميابه پړ يو ځي۔

اسلام کښې د ذاتونو فرق نشته او کسب ګرو کاريګرو يا د هنر خاوندانو ته ئې خو د خدائې پاک دوستان وئيلي دي او اکثر پيغمبر ﷺ څه نه څه کسب ګړے دے۔ د آل داؤد عليه سلام د مزامير ذکر خو بخاري شريف کښې هم راغلے دے۔ د مزامير مطلب عربۍ لغت مطابق د دف، راګ، ګانې، باجې، او ښه آواز کېږي۔

د اردو لغت مطابق د حضرت داؤد علیه سلام د سندرو مجموعې ته مزامیر یا سفر المزامیر وائي۔ او په خپله داؤد علیه السلام دومره خوښ آواز ؤو چې د هوا مرغان به هم په وجد کښې راغلل۔ سلیمان علیه السلام په دربار کښې به جناتو د دوئ د پاره تماثیل جوړول۔ تماثیل چې واحد ئې تمشال ده، معنی کیږي: تصویر، نقش و نګار، شکل، مجسمه، دې تماثیلو ځینې مفسرین د جنګي نقشو او د عمارتی نقشو مطلب اخلي۔ خو ځینو پوهانو خو دومره راسې لیکلي دی چې د اتماشیل د مصوري د فنپارو په شکل کښې ؤو (لوئ لوئ محلونو، جوماتونو، قلعه ګانې، مجسم تصویرونه)۔ او ورسره د اهم یو حقیقت دے چې بادشاهي او مشري هم دې عظیم المرتبت پیغمبرانو کړې ده۔ علماۓ اسلام کښې هم ځینې ډېرو اوچتو صوفیانو د موسیقي سرپرستي کړې ده۔ فقهاء هم په ځینو موقعو دا جائیزه کړې څه چې ضروري ګڼلي ده۔ مثلاً د جهاد په موقع یا د څه اعلاون کولو د پاره یا د نکاح د تشهیر د پاره او مباح ئې ګڼلي ده۔

پښتون خو د مسلمانانو فوځ په اولنو دستو کښې شامل ؤو، د ده ګډا خاصکر د ختکو ډانس او د وزیرو مسعودو دریځ خو د مجاهدو او د غازیانو ګډا ده۔ هاں سفلي او حیوانی جذبات را پارونکے او شهراني خویونو ته

اشتعال درکونکې موسیقي په کلکه منع ده او هرې مذهبي معاشرې کښې پکار هم دغسې ده۔

پښتون د ژوند او د تاریخ او د معاشرت د هر دور (ښکاري، کوچې دهقاني، ذراعتي، او جاګیرداري) نه تېر شوے دے۔ اول کښې دے غارونو کښې پټ ؤو په ښکار ئې ګزران ؤو۔ بیا د غارونو نه راووتو او کېږدی ئې ښخې کړې۔ صحرا ګانو او بېدیا ګانو کښې ئې ژوند تېرولو۔ د ګډو او د بزو رمې به ئې ګرځولې، یعني شپونان ؤو۔ ډېر روستو پینځلسمې شپاړسمې صدۍ کښې هیله پاخه مېشته کېدل شروع شو او کر کیله او زراعت ئې پېشه شوه۔ اوس دې شلمې صدۍ آخر کښې د دئ کښې ځنو اوس د صنعت په لور مخ شو، حقیقت دا دے چې نن په دې شلمې صدۍ په آخرون هم پښتنو کښې د غارونو نه واخله تر ښارونو او د ښکاري او د شپونی ژوند نه واخله تر صنعت او د حرفت راسې د ژوند هره مرحله ملاوېږي۔ اوس چې کله دې غارونو او غرونو کښې اوسېدو نو دے یو نسل ؤو۔ د ذاتونو تفریق پکښې نه ؤو، ځکه چې دوئ ته د دې کسبونو

ضرورت نه ؤو، اوس هم د غرونو وزیرو محسودو کښې کاریګر او کسب ګر وجود نه لري۔[28]

کاریګر او کسب ګر هله پیدا شو چې کله پښتانه د فاتحینو په صورت کښې سمې ته راغلل او زراعتي ژوند ئې شروع کړو۔ دا د زراعتي ژوند خپل ضروریات ؤو، دا کریګر اکثر هغه خلق ؤو چې د مفتوح قومونو سره ئې تعلق درلود۔ یا داسې خلق ؤو چې د خپلې علاقې نه به د دښمنۍ یا د معاشي تنګدستۍ له وجې مجبور شو او دوئ سره به همسایه شو، هسې هم د دوئ مفتوحه علاقې د ثقافتي او تهذیبي لحاظ سره ډېرې مالداره او مخکښې وې او زما خو یا خیال دے چې ثقافت او تهذیب څه چې ژبه هم دوئ د مفتوحه قومونو والا زده کړه، اوس هم د ژبې، د ثقافت، او د ذهن لحاظ سره مخکښې خلق لا دا کریګر دي یا مذهبي خلق، دې مذهبي خلقو سره د پښتون د تعلق معیار لا بل قسم ده، پښتانه د مذهبي خلقو ډېر قدر کوي، په پښو ئې پرېوځي څه چې پکښې سم لوغړېږي۔ خو چې کله د سیاست، مشرۍ، معتبري، ملکی او د اقتدار خبره راشي نو بیا دا خلق هم

28 (جنوبي وزیرستان پندرهویں صدی میں، حصه اول، دوم) قبائل کی حالتِ زار، وزیرستان پبلشرز۔

دوئ خپل همسایه کَنِي او حکومت او تقدیس، اقتدار، او بزرګي، دواړه دوئ ته حواله کول د خپلې انا، پښتو، د امن او د عافیت خلاف او نا مناسب ګڼي۔ جوته ورته وائي (صاحبه بزرګي نه دې پرېږم، نیکه ته مې د سلام دے خو لوړ زور دې نه منم۔ ګرچې د دې مقدس کسانو په مشرۍ باندې روستو څکه متفق شي چې خپله کښې ئې اقتدار په یو بل نه ځلیږي، او د ځان په شان تربور مشري منل ورته ګرانه شي۔

پښتون بنیادي طور باندې د تاریخ په هر دور کښې تورزن پاتې شوے دے او زیات تره ګټې ذریعه ئې هم دا توره ده یا بیا ئې څه لږ ډېر شپونتوب یا زمیداره هم کړې ده۔ خو صرف د قوت لا یموت تر حده نن د صنعت د حرفت د کاریګرۍ او د هنر زمانه ؤه۔ د جسماني برۍ نه زیاته ذهني برۍ په کار رائحي، د تورزن مټ نه زیات یو هنرمند مټ د صبا ضرورت دے۔ کلاشنکوف په کار راوستونکے لاس نه د کلاشنکوف د جوړونکي لاس ډېر سود مند او قدرمن دے۔ اوس د ابن خلدون د هغې نظرئيې اطلاق په دې زمانې نه کیږي چې د غرونو او د صحرا ګانو غیر مذهب، کنوارجت، بې علم د فطرت، په غېږ کښې لوئ شوي ځوانان راپاڅي او د شهرونو تهذیب یافته، د آرام او د آسائش په ژوند عادي شوي خلقو باندې

بر شي او کله دا خلق آرام طلب او مهذب شي نو بیا وربانديې نور جفاکش غرځني (غرئيزه) فاتحين قابو اوومومي۔ او داسې د تاریخ چکر روان وي۔

جوش، جذبه، همت، او سخت ځانی په خپل ځائ اهمیت لري خو صرف د تش لاس او جسماني زور سره مشري او بادشاهي نه کېږي۔ سائنس، هنر، او فن ته ترقي ورکول په کار دي، په خپل لاس جنګي، حربي، او ایټمي هتیار او مشینونه تیارولو د اعلی دماغي او اخلاقي خاصیتونو خپلولو سره پښتون د نړۍ په قومونو کښې ځان ته د قدر او د منزلت مقام مونتلے شي۔

لیکوالو روښو ته هم پکار دي چې یوه مقاله لیکلو نه مخکښې د یو څو خبرو خیال اوساتي۔ قام پرستي یو ښه صفت دے خو دا تر د بت پرستۍ تر حده رسول پخپله ځان سره سرا سر زیاتي دے۔ داسې خپلې کمزورياني او نیمګورتیا ګانې د مذهب او هغه هم او د اسلام پورې تپل او پټول د سختې بے علمي، ناپوهي، او د غلطۍ پروپګېنډې نتیجه ده۔ مذهب هر دور کښې روستے پاتې او د مظلوم ټولې ملګرتیا ئې کړې ده، او معاشره کښې ئې د دوئ درجه د اوچتولو کوشش ئې کړے دے او لوئ لوئ قهرمانان ئې

د دوئ پښتو ته تيټ کړې دي۔ په هنر او په محنت ګټلے روزي ته ئې بهترين روزي وئيلې ده۔ مذهب او عالمان د دې ټولګو د فن او د کار هله غندنه کوي چې دا د روح د خوشحالۍ او جسماني آسانتيا په ځائ د انساني جبلتونو او عادتونو استحصال شروع کړي، او د شرک ، د حېوانيت، او د نفس پرستۍ په لور ئې روان کړي۔ او نن چې په دې زمونږ معاشرې کښې عمل نه کيږي، نو د نورو عواملو نه علاوه، زمونږ قبائلي نظام هم په دې لارې کښې لوئ خنډ دے۔

کاريګر، فنکار، کسب ګر، کيميا يا د هنر خاوندان د يوې خوشحالې معاشرې اهمې مټې او وزر دي۔ د دوئي عزت نفس ژوبل کول نه دي پکار۔ دوئ قدر او حوصله وده ول پکار دي۔ د پرون د کلو کسب ګر د نن زمانې د لوئ ښارونو انجنئيران، مصوران، او فنکاران دي۔ دوئ زمونږ ماحول د خوشحالو او د آسانتيا ګانو نه ډکوي۔ دا کمیان نه دي، د پاک خدائ دوستان دي۔ نن چې دنيا د مادي ترقي په لور روانه ده، د صبا عزت، بخت، او مقام د زړې دنيا د بانبړ او د کشتري نه ده پاتې۔ دا نوے دنيا اوس د وېش او د صنعت کار ده۔ داسې ښکاري، چې مستقبل کښې به دا بانبړان او کشتريان د دې کسبګرو مزدوران وي۔

که طالع او هنر دواړه سره کیږدي

زه خوشحال به پکښې ونیسم هنر

پښتون به هله د یو تهذیب او د تمدن خاوند شي چې کله دے خپل معاشرې کښې کسب کړو ته د عزت او د احترام مقام ورکړي۔

## حوالو کتابونه


- خوشحال خان خټک: فارغ بخاري، رضا همداني
- میاشتیزه لیکوال، اپریل ۱۹۹۲
- د قرآن پاک بیل بیل تفاسیر، د مولانه سید امیر علي ملیح آبادي، او علامه عثماني
- بخاري شریف
- واجب العرض د موضوعات بیګه تاجه زئ او آدم زئ
- مفتاح اللغات، مولانا ابو الفتح عزیزي
- اردو لغت، شیخ بشیر احمد لدهیانوي

- جنوبي وزيرستان، پندرهويں صدي ميں، حصه اول او دوم، قبائل کی حالت زار (وزيرستان پبلشرز)

- Popular Oxford Practical Dictionary

# پښتو کښې حدي خواني[29]

قرآن حکیم کښې قادر مطابق د خپلې صفاعي او د حکمت او د کاریګرې په ثبوت کښې دا دلیل وړاندې کوي:

افلا ینظرونی الی الابل کیف خلقت (الغاشیه)

ترجمه: (دا خلق نه مني)، نو د دوئې اوښانه ته چه ګوری، چه څنګه جوړ شو۔

تفسیر ئې دا ده چه د اوښ قط په قط هغې خصوصیات سره جوړ شوې وي، چه کومو خاصیتونو څناور ضرورت د عربو په دشتونو کښې میشته بنیادمو ته ؤ (تفهیم القرآن)

داسې د عربو په ثقافتي ژوند کښې د اوښ اهمیت ډېر زیات دے۔ عربي ثقافت، ادبي قدامت، او فصاحت د دې ارضي او آسماني دواړو خوبیو له وجه ده۔

29 دا مقاله ډاکټر چراغ په ډېره اسماعیل خان کښې ۴ ستمبر ۲۰۰۷ء کښې لیکلې ده۔

د زرډ پښتنو په معاشي او ثقافتي ژوند کښې هم دوه ځناور ډېر اهميت لري. قطبي سيمې کښې اس، او سوېلي پښتونخواه کښې اوښ. دومره راسې، چه د ځنو قبيلو نومونه د دې ځناورو سره د ډېر نزدې تعلق د لرلو په سبب کېښودلې شوې دې. اسوا کا يا ساکا ۹۰۰ ق.م کښې د هند و پاک په شمال مغربي بريدونو باندې اوسېدل. پښتو ژبه د سکاؤ ثقافتي ميراث ګڼلې شي. اساکين چه د سکندر اعظم په وخت سوات، و باجوړ کښې ميشته ؤو، داسې ايسپ زی يا د نن يوسف زئ. د دې درې واړو قبيلو د نومونو وېښ کښې د اس تورې نسبت جوت او ښرګند دے.

د سوېلي پښتونخواه سيمه اکثره صحرائي او مېداني ده. دلته اوښ د سورلۍ او د سامان راوړلو وروړلو د پاره ډېر پکاربږي. او دې ته صحرائي جهاز هم وائي. داسې د دې سيمې د ځنو قبيلو د نومونو ريشه او تعلق د اوښ سره ترلې دے، لکه استراني، سرواني[30]، شيراني، او د اوښ خېل نصر يا ناصر (لورالائي بلوچستان) وغېره.

30 داور خان داؤد ليکي د سر اولف کېرو مطابق سرواني نوم په دهلي کښې د سړبني بدل شکل دے. دلته دا هم ياد ساتل پکار دي سرواني د سوېلي سيمې نه کوچېدلي خلق دي.

د هرې ژبې د ادب د اصنادو ولې (جرړې) په خپلې زمکې کښې وي۔ د خلقو مزاج، رسم و رواج، آب و هوا، ثقافت، معاشرتي ژوند، او جغرافيائي حالات په دوئ ډېر اثر غورزوي۔ او دې ځائې (مقامي) چاپ نه دوئي د موسيقي او د شعر ردم زېږېږي۔ څنګه چه د لتمبر اوسېدونکي شمس الزمان شمس به د خپل مقامي زمکې په نسبت دا بيت وائي:

د للمې په ګلونو بارانونه راورېږي

د ډي آئي خان ښهر ميشته غلام محمد قاصر به خپل چاپېر په شعر کښې داسې ځايوي:

آبادي ميں رهنے والے سانپ بڑے زهريلے هيں

پښتانو خصوصاً د سوېلي سيمې اوسېدونکو په معاشرتي او ثقافتي ژوند کښې د صحرائي جهاز ډېر اهميت لري۔ دوئي ثقافت د اوښ په مله باندې دې۔ محمل، کجاوې، ادعماري کښې ناوې ودېږي۔ او د هجر او د وصال سندرې په صحرا ګانو کښ خورېږي۔

خوله به داسې ځائې کښې درکړم

چه اوښ غزېږي او کجاوورباندې وينه

د عربو او پښتنو په معاشره کښې اوس تر نزدو وختونو راسې د معاش او د اقتصاد په مېدان کښې په څارؤو او ډنګرو د انحصار زمانه وه۔ دې څارو کښې د اوښ اهمیت د پښتنو په ادبي او ثقافتي ژوند کښې هم د ښکلا سمبول اوګرځېدو۔ او د دوئي ابتدائي او فوکلور شاعرۍ کښې د ښکلا دا نشان هم د ذکر وړ دے

مور ئې کوچیانو ته مې ورکړه

د اوښ په شا به مې کابل ته خېژوینه

اوښانه بیا غاړې کږې کړې

چې پرې سورېږي اسپینې خلې زېړ پیزوانونه

## د حدی تاریخ

عربو کښې ادل آزاد نثر مروج ؤو۔ آزاد نثر نه دوئي د مسجع او مقفی نثر په لور راغلل۔ روستو ئې د مسجع نثر نه د رجز او د قصیدې په لور مختګ اوکړو۔ د شاعرۍ سرچینه غناء یا موسیقیت ده۔ د کوتر د آواز نه سجع او د اوښانو د چال او د حرکتونو نه رجز ایجاد شو۔ د شعر تورې په ځاني د عبراني ټکي شیر نه ماخوذ دے، چه معنی ئې راګ، یا بهجن کېږي۔

د شعر، شعور، او دا شعر مصدر، هم د ساروانانو مسکن پاتې شوې دے۔ د اوښ د څرمنې نه به ئې سائبان جوړه ولو او د ښئ او دکېن لور دوه پردو ته ئې بیت وې۔ هم دې ځائې نه حدي خواني اوزېږېده۔ دوئي به د خپلې سترې د لرې کولو او د اوښ د پاس پروت بار سپک محسوس کولو د پاره د دوئي مخکښ تلو او د دوئ رفتار د چاپک کولو په خاطر نغمې او سندرې ویلې۔ دا د حدي تکې د دوئي ایجاد دے۔

حدي خواني د پاره عربو (شاعری) کوم صنف اول ځل په کار راوستو هغه رجز ؤو۔ قوي ګمان دا دې چه د رجز وزن د اوښ د چال او د ده د حرکتونو نه اخز کړ شوې دے۔ دې د پاره د رجز نقطیع او د اوښ د قدمونو په چاپ کښې ډېر مناسبت او یو شان والې دے۔ د عربو خیال دے چه د رجز ابتدا مضر بن نزار هغه وخت اوکړه چه څه وخت دې د اوښ نه پرېوتو او د ده لاس هډوکي مات شو۔ نو د ده د خلې نه اووتل (وایداه وایداه) یعني، هائے ما لاس هائے ما لاس۔ د پاره د دې چه د ده آواز ډېر خوږ ؤو۔ اوښانو دا په غور سره واورېدو۔ او تېز رفتار سره روان شو۔ دې د پاره د حدی خواني د پاره ددې په دې وزن کښې

راګونه ساز کړل او د دې نوم ئې رجز کېښودو۔ د رجز وال لاندېني اشعار د مثال په توګه وړاندې دي۔

| | |
|---|---|
| دع المطايا تنسم الجنوبا | ان لها لبنا عجيبا |
| حينها وما شتكت نقوبا | يشهد ان قد فارقت جيبا |
| ما حملت الافتى كيبا | يستر مما اعلنت نصيبا |
| لوترک الشوق لناقلوبا | اذن لآثرنا بهن اليبا |

ان الغريب يعد الفريبا

سؤرلې پرېږدي چه د سوېل د باد نه تېرې شي، د شوق او د سترې نه د دوئي عجيبه حالت دے۔ هغوئي يو غمژن ځوان اوچت کړې دے، څوک چه دا خبر د پته ولو هڅه کوي۔ کوم چې دا سورلۍ ئې جوتوي۔ که جذب و شوق زمونږ زړونه باقي (پاتې) پرېښودل۔ نو مونږ به ضرور اوښې د دوئي روستو لګه ولې وے۔ دی د پاره چه د پردیسیانو مدد کوي۔

د عربو د نخلستانونو پراخوالي، د غرونو سنګيني، د رهګزارونو سختي، د بيابانونو وسعت، او دې کښې د اوچتيو اوچتو د نجورو د بوټو ټيکرئ (غنډ، جهنډ) نه د رجز موسيقي پيدا کېږي۔ عرب چه کله دې سره د

خپلو اوښانه د مست مکیز او خرام د محبوب د پښو (خپو) په شان نقش ثنا، صفت، او عبادت کؤو، د دې نه چه کومه نغمه پیدا کیږي، هغه د صحرا د بدو روح په وجد کړي۔ دې سندرې ته حدي وائي ۔

حضرت انس رض فرمائي چه د حضور ﷺ یو حدي خوان ؤو۔ چه د سفر په وخت به ئې د ازواج مطهرات د اوښانو مخکښې حدي خواني کوله۔ یو ځل ده د حدي اشعار اووې نو اوښانو باندې د مستي کیفیت خور شو او هغه تېز روان شول۔ سرورِ علام ﷺ خپل حدي خوان ته اوفرمائیل، ویحک یا انجشه ارفق بالقراریر (ترجمه: اے انجشه تا ته دې خیر وي، د شیشې نازک آب گینو سره نرمی کوه)۔ یعنی اوښان رو رو بیایه۔ داسې نه چه تکلیف وروړسي۔ (ضیاء النبي ﷺ مصنف پیر محمد اکرم شاه الازهري، پاڼه ۴۲۸، بحواله د سبل الهدی والرشاد جلد ۶، صفحه ۱۹۹، د محمد بن یوسف الصابی قاهره، ۱۹۲۷ء)

## د حدي لغوي معنا

مفتاح اللغات درې تورې د چاپیر چل د ټکو دا معنی لیکي:

- حَدّاَء: د اوښانو پارېي وال (هش هش مه ځه: ڈانٹنے واله)

- حَدُوٌ حُداء (ن) د اوښانو رمه (بهیر کاروان) د راټ وېلو سره مخکښې بوتلو وال، یوې خبرې باندې زور ورکول۔

داسې د عربي یو بل مستند لغت منجد کښې د حدي سره تړلي توري او ترکیبونه داسې بیان شوي دي:

- حَدَا (ن) حَدُواً، او حداءً، وحُدَاعً: حدي وېلو کښې د غړ اوچتول، وېلي شي (ما املح حداءُه)، د دې حدي وېل څومره خوند ناکه ده۔
- الابل و بالابل۔ سندرې سره رمه پېول
- العَدَّاء ۔ د حادي مبالغه او عادي هغه کس ته وائي چه اوښان د سندرې سره پیائي۔ الاُ حدوَه والا حدِیًه، د اوښانو د پیولو سندره۔

اقبال هم د حدي مطلب نغمه ساربان حجاز یعني د حجاز د اوښ بان سندره لیکلې ده۔

د اوو علومو ماهر صاحبزاده حمید الله د پیشن لیکي: په عربي لغت کښې د حَدَاوه او حَدَاوة معنی لیکلې ده۔ راگ گاکر اونټوں کو هنکانا، بس نور تفصیل نشته۔ نه د حُدّی قسمونه شته۔ بلکه حُدّی فارسي او اردو لفظ

وي۔ عربي ئې خدوه یا خذ وه ده۔ نابغه پښتون پوهان ایاز داؤدزے بیام مشرق کښې د علامه اقبال د حدي د ترانے د ځنې مصرعو لکه قافله هارا دراڈے، او مثل خضر راه دان، نه حدي مفهوم او مطلب د قافلو د لار ښود، رهنما، او لار پېژندونکي اخذ کوي۔ داسې د دوئي په خیال حدي دے هدی وران شوې شکل هم متصور کېدے شي۔ هدی او د هادي د رهنما او رهنما معنی ورکوي۔ پښتو لهجه کښې ح په ه بدلېږي۔ ځکه چه د پښتون حلق کښې د ح مخرج نشته ده۔ ځکه خو حوا ته هوا وائي۔

محمد ته مهمد وائي۔ والله اعلم بالصواب:

اقبال بانگِ درا کښې خپل مشهور نظم شکوه کښې وائي:

منزل دهر سے اونٹوں کے حدي خوان گئے

اپنی بغلوں میں دبائے ہوئے قرآن آگئے

د دې شعر نه معلومېږي چې اوس په عربو کښې د حدي خواني رواج ختم شوېدې ځکه اقبال حدي خوان گئے وائي۔ چې حدي خوان لاړل۔

مطلب دا چې د حدي خواني آرزنګے ماضي کښې اوریدې شي که داسې وي نو د صنف په لحاظ به حدّی فوکلوري سندره وي۔

## فارسي ادب کښې حدي خواني

فارسي ادب کښې د حدي خواني صنف لټولو د پاره مونږ اول فارسي ادب کښې د فوک سندرو لټون کؤو۔ پښتون پوهان اياز داؤدزئ ليکي: د فارسی ادبياتو تاريخونه په دې متفق دي چه فارسي واحده ژبه ده چې اولسي يا فوکلوري سندرې نه لري۔ دغه شاعري رودکی د عربي قصيدې نه شروع کړې ده۔ د دې دعوې بر عکس يو بل عالم پروفيسر اقبال ليکي: رود کيي فارسي کا پهلا شاعر مانا جاتا هے۔ زبان ايک dynamic متحرک اور ارتقا پزير ذريعه اظهار هے۔ جتني قديم کوئي زبان هوگي، اتني اس ميں لوک او فوک رنګ هوگا۔ ايراني زبان فوک ګيتوں کا مجموعه هے۔ وه مختلف لهجوں او لحن ميں ٹپے نما چيزيں گاتے هيں۔

ما خپله هم په يوې رسالې کښې د دې نمونې کتلې دي خو اوس راته نه يادېږي۔ د دې اصنافو په موجودګۍ کښې د يوې ژبې د قدامت فيصله کيږي۔ او دې خبرې نه انکار نشي کيدے چه پهلوي ژبه (زړه فارسي) ډيره پخواني ژبه ده۔

اوس مونږ فارسي ادب کښې د حدي خواني په لړ کښې د بېلو بېلو پوهانو رائې ليکو۔

همېش خليل ليکي: فارسي شاعري کښې د کوم شاعر حدي خواني په لړ کښې زما له نظر لا څه نه دي تېر شوي۔ اياز داؤدزے خيال دے: د پښتو اردو و فارسي په ادبياتو په تواريخو کښې د اقبال نه سوا د بل شاعر ذکر زما مخې ته نه دې راغلې۔ د عربي شاعري د تاريخ چې څومره مطالعه ما کړې دے، نو د هغې په جديد او زمانه جاهليت په شاعري کښې د حدي د شاعر ذکر مې وړاندې نه دې راغلې۔ پروفېسر اقبال د عرفي شېرازي يو شعر وړاندې کوي، چه پکښې د حدي ذکر راغلې دې:

نواراتلخ تر می زن چوں ذوق نغمه کم یابی

حدی راتیز تر می خوان چوں محمل را گران بینی

شاعري کښې علامه محمد اقبال ته پاک الله عربي لحن، د عجم ساز او هندي سوز بخښلې ؤو، چه د ده محبوب الفاظ هم دي۔ هم دا روايت د دوئي د خپلې د فلسفې او د فکر په رڼرا کښې د شعر په کالبوت کښې وړاندې کړې دے۔

د تاریخ ادب عربي مصنف لیکي: د حیرانکي خبره دا ده چه د اسلام آفاقي تصور چه څنګه رومي او اقبال په خپل کلام کښې جذب کړو، د دې مثال د صدر اسلام نه تر عباسي دور بلکه د جدید دور د عربي شاعرانو په کلام کښې په لاس نه رائحي۔

پیامِ مشرق کښې د علامه اقبال یوه ښکلې او مسحور کؤونکې سندره د حدي (نغمه ساربانِ حجاز) د سر خط لاندې زمونږ د نظر نه لاندې رائحي:

ناقه سیارِ من

آهوئے تاتارِ من

درهم و دینار من

اندک و بسیار من

دولت بیدار من

تیز ترک گام زن منزل ما دور نیست

دلکش و زیباستی

شاهد رعناستی

غیرت لیلاستی

دختر صحرا ستی

تیز ترک گام زن منزل ما دور نیست

در تپش آفتاب

غوطه زنی در سراب

هم به شب ماهتاب

تندروی چون شهاب

چشم تو نادیده خواب

تیز ترک گام زن منزل ما دور نیست

لکه ابر رواں

کشتی بے بادباں

مثل خضر راه دان

بر تو سبک هرگران

لحنِ دل ساربان

تیز ترک گام زن منزل ما دور نیست

سوز تو اندر زمام

ساز تو اندر خرام

بے خورش و تشته کام

پا به سفر صبح و شام

خسته شوی از مقام

تیز ترک گام زن منزل ما دور نیست

شامِ تو اندر یمن

صبح تو اندر قرن

ریگ درشتِ وطن

پائے ترا یاسمن

اے چو غزال ختن

تیز ترک گام زن منزل ما دور نیست

مز سغر پا کشید

در پس تل آرمید

صبح از مشرق د مید

جامه شب بر درید

بادِ بیابان و زید

تیز ترک گام زن منزل ما دور نیست

نغمه من دلکشائے

زیر و بمش جانفرائے

فتنه ربا فتنه زائے

اے به حرم چهره سائے

تیز ترک گام زن منزل ما دور نیست

ماهر عروض سلطان فریدي د دې سندرې عروضي تقطیع داسې کوي:

مغتملن فاعلن مغتعلن فاعلن یا فاعلات

ناقه سیار من آهوئے تاتار من

درهم و دینار من اندک و بسیار من

دولت بیدار من

تیز ترک گام زن منزل ما دور نیست (فاعلات)

بڑے مصرع کا آخری حصه فاعلات (یه بهی جائز ہے)

علامه صاحبزاده حمید الله لیکي: د علامه اقبال په نظم کښې چه تیز ترک گام زن منزل ما دور نیست راځي، نو هغه د فارسي حدي ده۔ نه عربي، او د دې تقطیع یا وزن دا دې: فاعلن مستفعلن۔ دره واره یا د درې واړه ښه ونه۔ د عربي رجز غوندې د حدي متعین شکل نه دا معلومېږي۔ درجز وزنونه دوه دي۔ یو اوږد، یو اوړ۔ دواړ مثال ئې دا دي: لکه نحن بنات الطارق، غشی علی النمارق۔ (په غزوه احد کښې د قریش ښځو رجزیه اشعار یا د نبي کریم ﷺ په غزوه حنین کښې خپل رجز:

انا النبي لا کذب انا ابن عبدالمطلب

دا دواړه یو وزن دي، یعنی مفعول فاعلات، یا قول فاعلات (یو بند)۔ د علامه اقبال فارسي حدي وزن یا تقطیع هم داغه ده چې فاعلن مستفعلن (د یو بند)

شايد د عربي څه ماخوذ وي او هلته هم داله حدي وي۔ خو دا هم د رجز وزن دې۔ خو زه نور معلومات نه لرم۔ زما يو تپوس په ځواب کښې پروفېسر اقبال د اقبال د حدي خداني د بحر په لړ کښې ليکي:

آپ کہتے هيں که حدی خوانی کے لئے بحر رجز پسند کيا جاتا هے۔ اقبال کی نظم حدي بحر منسرح کے وزن ميں هے (ذکر ئې د دې نه مخکښې راغلو)۔

## پښتو شاعري کښې د حدي لټون

حدي په هغه سيمو کښې مونده شي چه صحرائي يا شګلاني وي۔ چرته چه اوښ ته د صحرائي جهاز درجه حاصله وي۔ پښتو شاعرۍ کښې د حدي خواني په لړ کښې ما چرته لوستي دي او نه اوريدلي۔ البته يقيني توګه باندې د عربي (ادب برخه ده، چه اقبال فارسي ته اړه ولې ده، او دې نه سلطان فريدي د زرولې ده)

پښتو فوکلوري سندرې يا ټپې دي۔ يا نعرې او غاړې وغېره دي، ټپه د پښتو هغه مخصوص صفت دې چه د يو پښتون ټولنې مزاج او د کلتور هر اړخ رانغاړي۔ خو باوجود د دې موضوع او فکري جذباتي همه ګيريت ټپه

بیل شے دے او حدي بیل۔ د حدي مفهوم او د هر بند د اوښ د چال سره تعلق لري۔ هر کله چې ټپه دا مقصد نه پوره کوي۔ همېش خلیل لیکي چه پخوا به د مروتو د علاقې نه ډېره اسماعیل خان ته د څه ضرورتونو له مخه د اوښانو قافلې تلې راتلې او ما اورېدلي دي چه د سفر په دوران دغو ساربانو به هم څه وئیلې چه عام اود لرې علاقو خلق به وربانديې نه پوهېدل۔ ځنګه چه مخکښې هم ما دا ذکر کړو چه د سوېلي سیمې پښتانه د اوښ نه د صحرائي جهاز کار اخلي۔ د اوږدې مزلې د شپې مال کېږي۔

اوښ سوار د اوښ د پاسه څه ټپې، غاړې، یا لغړې وغېره هم په اوچت ترنم آواز سره وائي۔ خو د دې سره د اوښ چال یا منډه نه تېزېږي۔ اوښ با صرف د شغل، د وخت تېرولو، د هجر او د فراق کېفیت بیانولو او د زړه براس د باسلو د پاره د اشفاهي سندرې وائي۔

محترم ایاز داؤدزی بیان دے، ژمي موسم کښې به د افغانستان نه غلجیان او کوچیان راتلل۔ دوئي سره به اوښان ؤو۔ دا قافلے د سره به اوښ ناست سلار غاړې وئیلے۔ غاړې د هل مونږ قلقلے، ته وئیل لکه چه د قرآن پاک په تجویدي زده کړه کښې قاریانو ته به ترتیل تلاوت کښې د قلقلے زده که هم ورکولې شوې۔ دغه غاړې یا حدي به ما د دغه قلقلو په

سبب خوښولې. د دغه رنګ غاړو وئيلو چل به کوچيانانو زده ؤو. چې د افغانستان نه به ژمي کښې راکوزېدل.

اوس قلقله څه ته وائي؟ د دې وضاحت د تجويد قرآن په رسالو کښې داسې راځي: جمال القرآن ليکي: ا درجن حروف ميں صفت پائی جائے. ان کو حروف قلقله کهتے هيں اور مطلب اس صفت کا يه هے، که حالتِ سکون ميں ادا کے وقت مخرج کو حرکت هو جاتی هے اور ايسے حروف پانچ هيں، جن کا مجموعه قطب جد هے.

د تجويد القرآن يو بل درسي کتاب د قلقله تعريف داسې کوي: اس صفت کے حروف کے ادا هوتے وقت مخرج ميں ايک جنبش سی هو جاتی هے. يعنی سکون کی حالت ميں آواز هل جاتی هے. اس صفت کے حروف پانچ هيں، جن کا مجموعه يه هے: قطب جدٍ اور ان کو حروف مقلقل کهتے هيں.

معلم التجويد د قلقله سر خط لاندې ليکي: يه صفت ان پانچ حروفوں ميں پائی جاتی هے: ق، ط، ب، ج، د. اور ان کا مجموعه قُطبُ جَدٍ هے. اور ان کو حروف قلقله اور حروف مقلقل بهی کهتے هيں.

زه دلته یوه کاکړی غاړه لیکم۔ او بیا فیصله خپلو ګران لوستونکو او محترم لیکوالو سیال کاکړ، صاحبزاده حمید الله، او سید محمد عارف ته پریږدم۔ چه د عزتمند ایاز داؤد زئ د خیال او د مشاهدے تائید یا تردید اوکړي۔

خلکی زما د خوری ئې ګران

د خلکو کوم کیږي تاوان

ور به کم دواړه خوښی

ګرانه چار ګل وړي که ډیډی

د یو ځائې قاري دینا ده۔ چه زمونږ استاد به قلقله مثال داسې ورکولو لکه چه فټ بال په دیوال اولګي او بیا راستون شي۔ د دې نه چه کوم آواز پیدا کیږي، هغه ته قلقله وائي۔

اوس مونږ راځو لغرو ته۔ او دوه مثالونه اخلی چه آیا دی نه د حدي مقصد لاس ته کیدے شي او که نه؟

کار دانه د بکو پر دشت تیریږي

کار وانه د بکو پر دشت تیریږی

ښادي خان ورسره نشته

په انور کاروان می مینه نه ماتیږي

زما ارمان ښادي مې بائیلو

یا دا نعره:

کاغه ورشه په بیو مې سلام وایه

په صورت روغ یم په زړه بیمار یم

بلبو ستا د بې نیاز په بې نیاز یمه

دا ژړے ښادي بندي اصفهان دے

## اولسي سندرے

پښتو کښې ځنې داسی اولسي سندرې هم شته چه د اوښانو او د کاروانونو ذکر پکښې راغلې دے۔ یوه مشهوره سندره داسې ده:

پړي ئې واچول اوښانو ته

کډې باریږي

داسې یوه بله معروفه سندره ده:

اوښه اوښه ډانګه، لویه دې غړانګه

بیره کښې ټال واچوه صبا بېګاه پرې زانګه

ایاز داؤدزے لیکي: د ماشومانو سندره ده، چې فوکلور ده، اولسي لیکوال ئې نه دي معلوم۔ زمانه ئې هم نه ده معلومه۔ او دغه سندرې بل څه شعر هم معروف نه دي۔ همیش خلیل هم تقریباً دغه رائې ده۔ لیکي: د اوښ په باره کښې کوم شعرونه چې تاسو اورېدلي دي، دا د ماشومانو په سندره کښې رائحي او چونکې زمونږ په علاقه اوښ نن هم ماشومانو د پاره یو نادر او عجیبه ځناور دے، او کله چې دوئ اوښ اوویني، نو د ډېرې خوشحالۍ نه دا شعرونه وائي۔ د دوارو لاسو په تپولو سره ئې وائي۔ هسې اوښ پحقله یو متل هم شته او ځوک چې وران کارونه کوي، په ځنو موقعو ورته وئیلې شي چې اوښه اوښه څه دې سم دي چې لا پاتې دې سوخه؟ خو دا متل اوس په دغو الفاظو بزمهزب کړې شوې دې یعني اوښه اوښه څه دې سم دي چې لا پاتې دې لګې۔

دا د ماشومانو شاعري ده لکه الي نالتي (لعنتي) په خرتم کښې دې پیتي، نیمه ستا یمه د سپي۔

د عربي استاد ډاکټر یعقوب خان مروت دا نظریه لري، چې پښتو خاص کر مروتو کښې د حدي خوانۍ دا کار د تیره والے نه اخستې شي۔ اوس

تیره والا څه شے ده، نو د مروتو نامتو شاعر افکار بخاري لیکي: تیرا واله د شاعرۍ څه مخصوص صنف نه دے۔ دا د ټپے د یو خاص طرز نوم دے۔ چه اکثر په پهاړي راګ کښې وئیلے کېږي۔ او مجلس د طرز د برابرولو د پاره د یو عامې ټپې سره د وائي وائي یا هائے هائے یا جار جار یا داسې نور ټکی ګډ کړي۔ نه یم خبر چه دې ته تیره والا ولې وائي۔ کېدې شي چه د تیراه د لوري نه دا طرز مروتو ته راغلې وي۔ مروت خلق په تیره واله باندې ډېر مئې کوي۔ خصوصاً د مروتو د کلو زاړه خلق خو تیرا والے ته ژاړي۔ ما ته ښځپله یاد دي چه وړاندې په مروتو کښې د ورا و د ژنې په موقعه به په مېدان کښې تماشے وے۔ نو د پښتو عوامي مجلسیانو به د مجلس په آخر کښې په قراره شپه تیره والا ضروري ګڼله او اکثر خلق به د تیره والے په طمع ناست ؤو۔ ما ښځپله محسوس کړي دي چه د شپے په آخر پیر کښې تیره واله ډېر اثر غورزوي۔ په مېدان کښې به ډېرو کسانو پیریان راغلل او نعرې سورې به ئې پورته کړے۔ د مجلس اختتام به په تیراه والے پسې په لنډئ باندې کېدو۔ په مروتو کښې د تیراه والے دوېم انداز ته ارسلا خان وائي۔ کېدې شي چا ارسلا خان سندر غاړي تیراه والا په دې طرز کښې وئیلې وي۔ زه ئې د فرق انداز په ټکو کښې نه شم

بیانوــلےـ موسیقي د اوریدو سره تعلق لري۔ مجلس به چه کله ارسلا خان طرز کښې تیره واله وئیله نو روستو به ئې ورپسې لنډئ وئیله چه اکثر به داسې ټکي ؤو:

موسمه! خېژه غره ته خېژه

دربانديې کېږي د بوری ټوپک ډزونه

وائې وائې

داسې زرسانګے او د اکبر خان په اواز کښې یوه سالار خانئ د ریډیو په چپو خورېږي۔

د برګو سترګو د کوکرے شه وائې

زه دې په وره کښې تېرېدم نه دې لیدمه (زرسانګه)

مئینو زړو ته دې سلام وي

ته چه شپه او ورځ په ځان غمجنه تېروینه (اکبر خان)

کله به یم کله به نه یم وائې

د ناستې جاځے مې یادوه دریاد به شمه (زرسانګه)

نا، ته په وطن خوشحاله اوسې (وائې)

یا که په ما ټول عمر د غم وي تېر به شینه (اکبر خان)

(یه) جانانه وـلے لیوـنے شوـئے (وائې)

لا دِ څه ورک دي لا دِ زه لیدلے یمه (زرسانګه)

په ما د څه کړي دي یاره (وائې)

چه نه دِ وینم لیوـنے ګرځم مئینه (اکبر خان)

نوټ (وائې) نا، چه، وغېره د طرز برابره ولو د پاره راغلي دي۔ زرسانګه غېر تعلیم یافته ده۔ د پښتو ټکي پخپله لهجه کښې وائي۔ یعني شمه (یمه)، لیدمه (لیدنه) وغېره وغېره۔

## د اوښ بانو د کورس سندره

تل روان، تل روان تل روان تل روان

دا د ژوندون کاروان

دا د ژوندون کاروان روان به وي روان مدام

روان به وي دا کاروان صبح و شام او پشا مدام

تل روان تل روان تل روان روان روان

دا د ژوندون کاروان

دا سیلۍ او د طوفان ژوند غلے غلے غلے

د عدد برق او دا باران ژوند زلے زلے زلے

تل روان تل روان تل روان روان روان

دا د ژوندون کاروان

کله چې دې نظم غاړې ته عروصي شکل ورکړو، نو داسې به وي:

تل روان، تل روان تل روان، تل روان

دا د ژوند کاروان تل روان، تل روان

دا د ژوندون کاروان وي روان به مدام

وي روان کاروان وي روان په خدام

وي روان کاروان صبح و شام، شامدام

تل روان تل روان تل روان په روان

وي روان تل روان دا د ژوند کاروان

د بنو نامتو شاعر او د موسیقۍ ماهر غازي سیال لیکي:

تل روان تل روان تل روان تل روان

دا د ژوند کاروان، تل روان، تل روان

دا په موسیقۍ کښې هم یوه ماتره کیږي۔ لکه څه رنګ چې د شاعرۍ د پاره د سیلاب ضرورت وي، داسې په موسیقۍ کښې هم ماتره ضروري وي۔ چې بغیر د ماترې نه یو راګ هم نه شي موزوینده۔ د تیلې تیکه ئې یک تالا ده، چې په دولسو ماترو کښې موزوینت موندې شي، خو د

تل روان تل روان تل روان،

دا د ژوند کاروان، تل روان تل روان۔

باندني مصرع ئې دولس ماترې پوره کیږي او لاندني مصرعه یولس ماترې ده، چې په دا لحاظ یوه ماتره کښې رائحي۔ خو بیا هم دا په پهاړي، او بهیرون کښې شمېرلې شو۔ د تیلې تیکه ئې نرتکی ده۔ دا په هر راګ کښې موزیندې شي۔

ارسلا خان چې د زرسانګے او نورو په آوازونو کښې اوریدلې او اودئیلې شي، دا هم په پهاړي کښې ښه موزوینډ ئې شي، چې یو انګ او یو رنګ لري، ټیکه ئې چغل ده۔

آخر کښې زه ځانی دې نتیجې ته رسم چه پښتو کښې څه ځائې داسې صنف نشته، چه هغه د حدي متبادل وي، خو تیراه واله ټپه داسې ټکی لري او داسې طرز ادراک سره ویلې شي چه هغه سره د اوښانو چال او حرکت کړندې کیدې شي۔ وائي وائي، هائے هائے او جار جار داسې ټکي دي چه د تکلیف او د درد په حالت کښې د خولې نه اوځي۔ او دې چغو سره د اوښ رفتار تېز شي۔ د دې مثال د عربو په صحرا ګانو کښې د اوښانو د ترپ هغه ظالمانه رسم دے چه د اوښ د پاسه ماشومان اوتړلې شي او د هغو د چغو، فریاد، او د ډار څړیکو نه د اوښانو چال او رفتار چابک او کړندې په منډه شي۔ د دې نه پرته د سروانو د کاروانونو د دې ترانې هم د حدي کار اخستل کیدې شي:

تل روان تل روان　　　　　تل روان تل روان

دا د ژوندون کاروان

او دې نظم ته عروضي شکل هم ورکړل کېدې شي.زما برې او پوهه په دې مضمون تر دې حده اورسېدو. نور تحقيق او پلټنه هغو پوهانو ته پرېږدم چه محققين او شاعران دي. د عروضو، د بحرونو، د موسيقي د راګونو، سرونو، او د فوکلوروي ادب ماهران او استادان دي. پښتو سره سره د عربي فارسي او اردو ادب او تاريخ باندې هم کامل لاس برې لري. وما توفيق الاباالله.

د پښتو د ادبياتو استاد ډاکټر يار محمد مغموم د پښتو يو متل وړاندې کوي چه: د اوښ په هن به څه اوشي، خو زړه ئې ښه شي.

او د دې پس منظر دا بيانوي چه د اوښانو د رواني قافلې چه کله رفتار د شپې وخت سست پرېوځي، نو ساربان د هن هن (هون هون) آواز اوباسي. مطلب دا وي چه زه ويښ يم. او دې سره د اوښ رفتار هم ګړندې شي. داسې دوئي يوه بله قيصه هم بيانوي. چه د چا لس اوښان مړه شو. ساربان په يو کس دعوه اوکړله چه ته د دوئي د مرګ ذمه وار ئې. او واقعه داسې وه چه تا صحرا کښې سپېلۍ غږه وله. هغې سره زما د اوښانو رفتار چابک او تېز شو. د ډېرې تېزې منډې نه دوئي تږي شو. او داسې له ډېرې تندې نه مړه شو. مطلب دا دې چه کله د شپېلۍ آواز

اوغړېده، د ماشومانو او دردمند د چغو او د ډار ځړيکې او د بيلتون او د وصال داخ او د وخ فرياد موسيقي د ټپو، غاړو، او نعرو د سوز او ګداز د ټکو سره يو ځائې شي نو د ساروان د روح سره اوښ هم په وجه او مستۍ کښې راولي۔ دا ځيزونه د اوښ د پاره د accelerator چابکتوب کار کوي۔

## حواله جات


- تاريخ ادب عربي از استاد احمد حسن زيات ترجمه عبداالرحان طاهر سورتي
- تفهيم القرآن، مولانه ابو الاعلی مودودي
- جماليات، يو نظرياتي جاج، مصنف قېصر اپريدے
- ښکلا، ريډيائي ډرامے، اياز داؤدزے
- مقاله ځيرنې ځيړنه، ليک د سيد لياقت علي تابان، چاپ ميشتيزه پښتو مجله ليک کوټه، ګڼه ځلورمه، اپريل ۱۹۹۶ء
- پښتو درې مياشتنی مجله، اکتوبر دسمبر ۲۰۰۶ء جنوري مارچ ۲۰۰۶ء مضمون پښتانه او غوريا خېل مومند، داور خان داؤد

- پیام مشرق، علامه اقبال
- ضیاء النبي، پیر محمد اکرم شاه الازهري
- منجد، یولس معلوف
- مفتاح الافات
- جمال القرآن مکمل مع حاشیه زینت القرآن مصنف حکیم الامت مولانه اشرف علي تهانوي
- تجوید القرآن برائے سکنډري کلاسز
- معلم تجوید، قاري محمد شریف
- خطونه د آیاد داؤدزے، صاحبزاده حمید الله د پښین، همېش خلیل، پروفېسر محمد اقبال، سلطان فریدي، داور خان داؤد، غازي سیال، افکار بخاري، او د پروفېسر همایون هما سره د ډېرې منني
- زه د محترم الطاف شاه ریډیو سټېشن ډي ائي خان، ډاکټر یار محمد مغموم او د ګران ډاکټر یعقوب خان مروت استاد د عربي د کومک او د معلوماتي مرستې هم ډېر زیات منتبار یم۔

# پښتو ادب کښې ملحمه[31]

ادب کښې ملحمه اپیک Epic [32] رزمیه او د حماشه په مترادف معنو کښې په کار راوستې شي۔ نن په دے مضمون کښې به مونږ د کوښښ کؤو چه عربي، فارسي، یوناني، لاطیني، انګریزي، او پښتو ادب کښې د دې لږ بل متبادل تورو تعریف او توضیع د خپل خپل ادب په رڼا کښې اوکړو۔ په دا څه حد راسې د یو بل مترادف او متبادل دي۔ دوئ کښې مماثلت تر کوم حد راسې دہ، او دا اختلاف کومو ځایو کښې دے؟ او بعض نقادو په کوم بنیادونو دا یو اهم معنی اصطلاح او صنف ګڼي؟ پښتو ادب کښې حماسه چه دا تورې هم د عربي لغت نه اخستې شوې دے، د اپیک صحیح او مکمل تصور، فکر sense فني لوازمات او اړخوګړي وړاندې کوي او که نه؟ پښتو ادب کښې تر اوسه خالص اپیک لیکلې شوې دے او که نه؟ او د دې وجوهات څه دي؟

د عربي معروف لغت منجد فی الادب د ملحمه صنف داسې تعریف کوي: المُلحَمَه جمع مَلَاحِم، اَلمُوقِعَةُ فِی الحَرب، یعني جنګ کښې داسې یوه

31 مقاله مصنف په ډیره اسماعیل خان کښې په ۲٦ مارچ ۲۰۰۳ کښې لیکلے دہ۔

32 د ملحمه انګریزي لغوي معنې دي: Carnage, Great Slaughter, Fierce Battle

ستره واقعه چه پکښې خلق د يو بل سره ګډوډ يا انخلي، نه ماخوذه ده۔ څنګه چه کېږا سره اوپيژلې (اودلې) شي، مراد ترېنه ګمسان (خونړي) جنګ ده۔ او دا يوه کنايه ده۔ يو اوږد نظم چه د بېلو بېلو اشعارو نه مرکب کېږي، هغه اشعار چه د يو جنګ په وصف کښې ليکلې شوې وي، کومو کښې چه شاعر هغې جنګ کښې د فوځونو، د ښاغلو اتلانو او د هغو ځايونو چه جنګ پکښې شوې وي، بيان کوي۔

زړې عربي کښې د ايپک يا ملحمه صنف نشته۔[33] البته د عباسي دور يو نامتو شاعر متبنی قصائد حماسي رنګ لري۔ عربي کښې د ملحمه تقريباً

---

33 د عربي يو بل نعت العجم الوسيط د الملحمة معنې او تشريح داسې کوي: سخت او خون ريز جنګ کو کهتے هيں۔ اس کی بنياد دقصی شاعری پر هے۔ خاص اصول او قواعد کے تحت بهادروں کا ذکر کيا جاتا هے۔ بادشاهوں کی تعريف کی جاتی هے۔ اسميں يونانيوں نے اپنے معبودوں کا ذکر کيا هے۔ اور ان کے خوارق عادات اور معجزات کا ذکر هوتا هے۔ قصصی شاعری کی دو قسميں هيں۔ کبهی يه نثر ميں هوتی هے، کبهی نظم ميں۔ يونانی شاعری ميں اسکی مثال هومر کی ايليڈ هے، او فارسی ميں شاهنامه هے، جسے فردوسی نے لکها هے۔ نثر ميں اس کی مثال عربی ميں سيرت عنتره هے۔ يه شاعری کی ايک قسم هے جس ميں چهوٹے چهوٹے نغموں ميں جنگ کے حالات بيان کئے جاتے هيں او بهادروں اور بادشاهوں کی تعريف کی جاتی هے۔ ميدان جنگ کا ذکر هوتا هے، اور ان مقامات کا ذکر بڑی طوالت سے کيا جاتا هے، جهاں جنگ لڑی گئی۔ يه شاعری کا ايک طويل سلسله هوتا هے۔

شلمه صدۍ عیسوي کښې رواج مونتې دے۔ دې کښې یو څو مشهور ملاحم دا دي:

- د هومر د ایلئیاډ ترجمه عربي کښې سلیمان البتاني کړې ده۔ د لیک کال ئې په لاس رانغلو۔
- ملحمه شعرية عبدالمسيح الانطاكي (۱۸۷۵ نه تر ۱۹۲۳ء) من سوريا چه سپږ زره شعرونه لري۔
- ملحمة المهابهارته، د کامل یوسف حسین العربي (۱۹۹۶ء)
- ملحمة الاسلام فی الهند، مؤلف ډ۔ عدنان علي رضا النحوي (پنځه ابواب لري، آخري باب نظم دے چه ۱۳۳۶ اشعار لري)
- ملحمة الجهاد الافغاني تاریف د ډ۔ عدنان النحوي۔
- دیوان خبسر علي نهردرينا، ملحمة الاسلام فی البوسنية، چه شاعر ئې د مراکش (معزلې) الدکتور حسن الامراني دے۔ د ده دیوان د سرنامے د اول برخه جسر علی نهر درينا د بوسنيا، یوګوسلاویه ناول نګار آندر ریفتش د ناول د عنوان نه ماخوذ ده۔ الیغو آندر ریفتش په ۱۹۶۱ء کښې د نوبل انعام هم ګټلې دے۔ دے ناول کښې د

خلافت عثمانیه د زوال په زمانه کښې بوسنیا د مسلمانانو د مصائبو مشکلاتو او قربانیانو عکاسي شوې ده۔ ډاکټر حسن الامراني په خپل دیوان کښې د بوسنیا هرزوګوینیا په مسلمانانو د سربو د لاسه شوي ظلمونه او مصیبتونو ذکر کړې دے۔ دلته د دے خبرې ذکر کول به بے ځایه نه وي چه هم دے ډاکټر الامراني د علامه اقبال په شان کښې هم یوه قصیده لیکلې ده

## فارسي او اردو ادب کښې رزمیه شاعري

د رزمیه لغوي معنی ده رزم سره نسبت لرونکې۔ رزم د فارسي ټکې دے، چه معنی ئې د جنګ، شخړه، یا معرکه۔ د رزمیه شاعري نه مراد هغه شاعري ده کومې کښې چه د جنګ د واقعاتو ذکر وي۔ رزمیه نثر او نظم دواړو کښې لیکلې کېدے شي۔ ډېرو ژبو کښې د رزمیه نمونې مونتې شي۔ فارسي کښې د فردوسي شاهنامه چه پکښې فردوسي د زوړ ایران تاریخ ژوندې کړے دے، ۲۰،۰۰۰ اشعار لري۔ داسې اردو کښې حفیظ جالندهري د شاهنامه اسلام په نوم یو څو جلدونو کښې اسلامي تاریخ نظم کړے دے۔ داسې شوکت واسطي د جرمني مشهور شاعر ګوئټے طربي خداوندي Divine Comedy د اولنې برخې ترجمه د کربیضربیه او د ملتن د

پیراډائیز لاسټ ژباړه د فردوس ګم ګشته په نوم کړې ده. شوکت واسطي صیب د قلم کا قرض په نوم یو طبع زاد اپیک هم لیکلې دے چه ۱۸۰۰۰ اشعار لري. داسې جمیل الدین عالي هم د یو اپیکس په لیکلو ئې پیل کړے دے او تر اوسه ئې د اشعارو شمېر لس زرو ته رسولې دے. نوم ئې ده انسان کا المیه.

## د انګریزۍ اپیک Epic

انګریزۍ ادب کښې رائج تورې داسم په تور په کار راوستې شي، چه پخوانی لاطیني ژبې Edicus او د یوناني Epikos دے. یوناني کښې د Epos معنې دي، تورې، بیان، نظم. اپیک عموماً د رزمیه یا د حماسي نظم مترادف او هم معنی ګڼلې شي.

## د اپیک تاریخ

د اپیک وېښ (بنیاد یا بنسټ) زمانه قبل از تاریخ کښې مونتې شي. دا د دیوتاګانو او د مافوق الفطرت څیزونو کیسې وي چه د تهوارونو او د رسمونو په توګ ئې دې د پاره وېلې شوے چه د حاکم بادشاهت ډېره موده قائم وي. د فصلونو، اولاد، او نور دنیاوي دولت کښې زیاتوالي او برکت

راشي۔ یا بل کښې د کائنات د زیږون او د بنیادم د پیدائش کیسه Creation Epic زمانه ۲۰۰۰ قبل مسیح او میسوپوټمیه د علاقې سمېرین تهذیب زمانه ۲۸۰۰ قبل مسیح، د ګلګامش اساطیر د دې اپیک د تاریخ اولین پیل ده، چه د لرغونی اثارو د علم ماهرینو په تختیو باندې کنده لیک په صورت کښې مونتلي دي۔

## د اپیک تعریف

Advanced Literary Essays کښې د اپیک تعریف داسې کوي: اپیک epic هغې اوږد بیانیه نظم ته وائي چه یو قامي ننګیالي اتل (هیرو) د نباغلو جنګي کارنامو سره اړه لري۔ داسې شاعري د یو هېواد په پخواني اولنی قسمه لیکلې شاعري نه وي۔ د هومر ایلیاډ Iliad او اوډېسي Odyssey د ورجل ائېنیډ Aenied رامائن او مهابهارت د اپیک مثالونه دي۔ څنګه چه بیلډ Ballad مصرئیزه شاعري کښې یوه لنډه کیسی وي، داسې اپیک یو اوږد شعري داستان وي۔

Dictionary of Literary Terms د اپیک تعریف تعریف دائره نور پراخه وي او لیکي: یو اوږد بیانیه نظم چه د بیان طرز ئې اعلی او اوچت وي۔ او مضمون منشا یا مدعا ئې بیاوړتوب، دلېري، او غزا وي۔ یعنی داسې یو

اوږد نظم چه د یوې پېښې یا د مسلسل پېښو کیسې بیانوي. خواه هغه تاریخي وي او که تصوراتي او خیالي. د کردار یا د کردارونو عمر په پیاوړتوب بنا وي. عموماً اوږدې زماني باندې ویر وي.

## د اپیک قسمونه

د اپیک دوه قسمونه وي

- په مخ وده کوونکي اپیکس Epics of Growth
- فني اپیکس Epics of Art

په مخ وده کونکي اپیکس په اول کښې د ځنې قامي ننګيالو په باره کښې په عام خلقو کښې خوارې کیسې وي چه کلي وال سندرغاړي ډمان ئې د سندرو په شکل کښې د خلقو مخکښې وائي. روستو یو ستر شاعر راشي او دې سندرئیزو کیسو ته د باقاعده فني نظم وحدت تاثر او شکل ورکړي. د دې کیسو یا سندرو بنیاد تصور یا وینا د یو کس فني شعوري شاعرانه کوشش نه وي. یوناني اپیکس Illiad د شاعر هومر ساز کړې نظم دے. چه وړو وړو ټکړو ته ئې فني وحدت وربخښلې دے. دا قسم یو بل اپیک

انګلوریکس اوږده رزمیه کیسۍ Beowulf دے چه د راغونډونکے شاعر نوم ئې معلوم نه دے۔

د دې اپوته فني اپیک د یو مستند اپیک یا په مخ وده کونکي اپیک د طرز او د انداز یو فنکارانه نقل وي۔ دا د یو بنده کار وي چه د پخواني شاعرانو نقل یا هغې کښې نوره اضافې کوي۔ د رومن شاعر ورجل Aenid او د انګریزۍ شاعر ملټن Paradise Lost د دې فنکارانه اپیک جوت مثالونه دي۔

ځنې عالمانو د اپیک وېش داسې کړې دے:

- روایتي یا خالص اصلي اپیک
- ادبي یا ثانوي اپیک

د یونان د هومر الیاډ او اوډیسي او د پخوانو انګرېزانو Beowulf اول قسم کښې راځي او د ورجل Aenied او د ملټن Paradise Lost د دوېم قسم اپیک دي۔

نور مشهور اپیکس د ډانټے ډیوائن کامېډي، مهابهارت او رامائن، د Aviosto اورلېنډو فوریوسو Orlando Furioso او فارسي ادب کښې د فردوسي شاهنامه راځي۔

## د اپیک لازمي توکي (لوازمات)

- دا یو اوږد بیانیه نظم وي۔ او اکثر په دولس کتابونو کښې وېشلي شوې وي۔ د هومر او د ملټن اپیکس دواړه په دولس کتابونو مشتمل دي۔

- دا د یو قامي اتل (هیرو) یا یو قامي یا بین الملي شخصیت د فوځي هلو ځلو یا د پیاوړتوب کارنامو بیان وي۔ د اپیک هیرو یو غېر معمولي انسان وي۔ او غېر معمولي د ځوانمردي او د ښاغلتوب کارونه کوي۔ د هومر الیاډ د ټرائے جنګ کښې د یونانیانو او اوډیسي کښې د اوډیسس یا اوېسس بادشاه د ښاغلتوب او کارنامو ذکر دے۔ د ملټن پیراډائیز لاسټ یو کائناتي تناظر وحدود لري چه د ټول بني نوع انسان د تاریخ زړه راښکونکي واقعات لري۔ دې لحاظ سره دا نړي وال اپیکس کښې یو جوګت ځائې لري۔

- سنسني پورته کونکي، اثري، جوشي، او هنګامي واقعاتو سره د اصر مضمون نه د زياتوب مواد په يو تسلسل او رواني لړۍ کښې ځايه وي۔ ډېره زياته مبالغه لري۔ شاعر داسې غېر معمولي مهماني واقعات او د بهادري کارنامې بيانوي چه د ستائنې او د حېرت فضا قائمه کړي۔

- د زياتوبونو او د تجاوزاتو باوجود اپيک يو جوت وحدت او جوړښت لري۔ ټول واقعات او مهمات د يو مرکزي کردار چه د اپيک هيرو وي، ګرد ګرځي۔ د دې نکتې په بنياد اپيک په دؤو قسمونو کښې وېشلې شي: کلاسيکي اپيک، او رومانټک اپيک۔ کلاسيکل کښې واقعات د يو بل سره ډېر کلک تړلي او پيرلي وي۔ خو رومانوي اپيک کښې دا تړون ډېر کمزورې، سست، خوشې، اخوا دېخوا او وير پروت وي۔ په مرکزي کردار توجه کمه ورکېږي۔ د کردار او د عمر يو والې پکښې لټول ګران وي۔ د شاعر سپنسر Spencer فېري کوين د دې يو مثال دې۔

- د ماقوق الفطرت قؤوتونو (ديوتا ګانو) د خل اندازي په کيسې کښې يو جوت کردار لوبوي۔

- اپیک کښې د خپلې زمانې روح موجود وي۔ داسې دا د خپل وخت د یو معاشرتي دستاویز حېثیت لري۔

- د اپیک مقصد اخلاقي وي۔ دا د وطن او د قام سره مینه پیدا کوي۔ څنګه چه د هومر مقصده ده۔ سپنسر یو ننګیالي ځوان کښې ښه صفتونه او ښائسته ډسپلن پیدا کوي۔ داسې ملټن د بنده سره د خدائے پاک د سلوک او د منصبي وکالت کوي۔

- د اپیک مضمون منشا او مدعا ډېر اوچت او اعلی وي۔ او داسې د دې کښې هم رفت او عظمت لري۔ د اپیک اشعارې حوالې اشارې ایمانیت عجوبه لفاظي او پیچیده کلامي خاص د لاطینوي او یوناني طرز ادا کانې او شوې لري۔

- اپیک کښې د کیسې د بیانولو خپل خاص ترتیب وي چه د اپیک روایات مکمل شي۔

  ◦ شاعر کیسه د مېنځه نه راواخلي۔

- شاعر پیل کښې د خپلو جذباتو د انګېخت او مدد د پاره د موسیقۍ یا د سندرو دیوي Muse ځان ته راولي او د دې نه د یو رزمیه کیسې پښتنه کوي۔

- شاعر خپل بیان کښې د کیسې لیکلو مقصد، مدعا، منشا، او غایت ښائي۔

- ځواب سره کې پیل اوشي او داسې مخکښې واقعات روستو په مناسب موقعه بیانېږي۔

- عمل د هیرو سره تعلق لري چه د قد و قامت او د اهمیت خاوند شخصیت وي۔

- د کیسې په دوران هیرو ډېرې اعلی کارنامې سر ته روسي چه یوه پکښې تخت الثراء ته سفریا ورکوزېدل وي۔ چه مقصد ئې مافوق الفطرت قوتونه د مدد د پاره رابلل وي۔

- دا هم کردارونو درجه بندي او بیان کېږي۔ دوئي کښې اکثر معتبر درانه مخصوص تقریرونه کوي۔ چه دې نه د دوئي د

ګردارونو سر ګندونه کېږي۔ دې کښې اکثر درنې جګړې وي چه ديوتاګان پکښې ځاني برخه اخلي۔

- روستو شاعر د مضمون او د مدعا مطابق يو معزز واضح او عظيم الشان طرز بيان خپلوي۔
- هم دغسې د لوبو واقعات، د ګردارونو اشاريه، او جرګې مرکې هم د ايپکس روايات دي۔

## نهضت د دور (عهد نشاط ثانيه) ايپکس

د هومر او د ورجل د ايپکس نقل يا ترجمې دې دور کښې ډېرې اوشوے۔ Beowulf چه شاعر ئې معلوم نه ده۔ د ټولو نه بهترينه ژباړه جارج چپمن اوکړه چه روستو ئې ډيکټس تخيل لمبه کړو۔ ډينئيل Danial زمانه ۱۵۶۲ء تر ۱۶۱۹ء، ډريټن Drayton 1563-1631 او سپنسر کوششونه اوکړل چې ايپکس اوليکي خو د دوئي صرف اوږد بيانيه نظمونه اوليکل۔ د ډينئيل مشهور کار Civil Wars دے چه اته بابونه لري او د اووه زرو نه زياتې مصرې لري (۷۰۰۰)۔ د وطن سره د مينې جذبې باندې ليکلې شوې دے۔ ډريټن Drayton د تاريخ په ځائې د انګلينډ جغرافيې ته د

شاعري جامه ورواغستله۔ دا اورږد بيانيه نظم يعني Poly-Olbion د ډېرشو نه زيات بابونه لري او مصرو شمېر ئې د يو لک ۱۰۰،۰۰۰ نه زيات دے۔ داسې د سپنسر فېري کوين رزميه نه زيات روماني خدوخال لري۔ خو انګرېزي ادب کښې د ملټن پېراډائيز لاسټ اولنۍ او اخرينۍ لافاني کلاسيکل اپيک ګڼلے شي۔ دا نظم په دولس کتابونو مشتمله ده۔ د کلاسيکل اپيک ټولې خوبيانې دې کښې مونتې شي۔ دا يو پراخ کائناتي پس منظر کښې د انسان نسل تقدير بيانوي۔ مېدان د عمل پکښې کائنات دے۔ وخت دائمي ده۔ د کائنات جنت دوزخ تاريخ پکښې بيان ده۔ کردارونه خدائے تعلی او د ده مخلوق دي، خو د شيطان کردار پکښې ډېر جوت دے۔ ګرچې د شاعر مقصد د انساني مقدمې ښودل او وکالت کول دي۔ مرکزي کردار انسان ده۔ ټول واقعات او حادثات د مرکزي تهيم ګرد ګرځي۔

روماني دور کښې د ټولو نه ستر اپيک د ورډزورت Prelude آغاز، شروع، عنوان دے۔ دولس کتابونو باندې وېړ دې۔ کيسې مرکزي کردار شاعر په خپله دے۔ کيسۍ کښې دا ښائي چه څنګه شاعر ذهن د فطرت د اثر لاندې تربيه او وده و ومونته۔ دا داستان موضوع د جسم

(وجود) اوبېرول په ځانـګې د اندرون او د روح دنیا سره اړه لري۔ د جنګ او جدل کیسې پکښې نشته۔ داسې د دې د کار دائره scope د ملټن نه هم زیات وسعت او ژوروالې لري۔ د روح جنګ، جګړې، او مهمات دي۔ داسې Prelude یو بېل قسم ته ځانته اپیک ده۔

کیټس او بېرن هم اپیک لیکلي دي۔ د کیټس د نظم عنوان دے Hyperion او د بېرن Don Juan Rape of the Lock یو طنزیه اوږد اپیکل طرز کښې لیکلې نظم دے چه د یورپ د بېل بېل ملکونو معاشرتي سیاسي او معاشي حالاتو مزاحیه جائزه پکښې ئې اخستې ده۔

وکټورین دور کښې ټیني سن د Idylls of the King په نوم د یو کلاسیکل او رومانوي اپیک د لیکلو هڅه اوکړه۔

اتلسمې صدۍ منځون نه واخله تر نن دور پورې انګلینډ، سکاټ لینډ، ائرلینډ، سکینډیوینیه ملکونو فن لینډ، بلقان ریاستونو او روس کښې ګڼو شاعرانو زړې اوږدې د بهادري او مهم جوئي کیسې راغونډې کړې دي چه پکښې د اپیک یا د رزمیه او د حماسي شاعري ښې نمونې مونتلې شي۔ د کرغیزستان یو شاعر مناس Manas کال ۱۰۰۰ء هم یو ستر اپیک لیکلې

دے چه یو لک اشعار لري۔ نظم نوم هم مناس ده او داسې د کرغېزستان یو هوائي ډکر هم مناس نامه لري۔ میچل مدهوشودان دتا Michael Madhushudan Datta د ۱۸۵۰ء نه ۱۸۸۰ء مېنځ کښې د ملټن او د هومر په طرز د رامائین د یوې واقعې په بنیاد یو معزي نظم اولیکلو، چه د بنګالي ژبې اولنې اپیک ګڼلے شي۔

اپیک څه ته وائي۔ اپیک او حماسي نظم کښې څه بېلتون شته او کنه؟ پښتو ځنې لیکلي شوي نظمونو ته مونږ اپیک ویلې شو او که نه؟ دې باره کښې اوس د پښتو د حاضر وخت نامتو پوهان محترم ایاز داؤدزي نکته نظر هم وړاندې کوم۔ دوئي د اپیک حاسي نظم بېل بېل تعریفونه د انګرېزۍ د حوالې کتابونو نه په دې ډول کوي:

- د شاعرانه نظم هغه قسم چې په سلسله بیاید کښې په تاریخ یا په روایاتو کښې د راغلي شخصیاتو د کارنامو ستائنه پکښې شوې وي۔
- هغه حماسي لب او لهجه چې یوناني حماسي نظمونه پکښې لیکلي شوي دي۔

- حماسي نظم هغه چې د حماسي نظم سره سمون اوخوري يعنی د حماسي نظم لوازمات ئې خپل کړي وي۔
- داسې موضوعات چې د حماسيت رنګ اخستلې شي۔

د دې څه نور اړخيزه تعريف مقصد و مدعا دا ده چې د حماسي شاعرۍ دائره ارته پيرته کړي۔

د دې تعريف ړومبۍ برخه د هومر او ورجل په حماسي نظمونو منطق کيږي۔ خو د دې نورو دريو برخو اطلاق په هغه نظم يا موضوع کيږي چې يا خو په هغه لب او لهجه کښې ليکلې شوې وي چې يوناني حماسي نظمونه پکښې ليکلي شوي دي، يا يو نظم يا موضوع د اهليت لري چې رنګ او خوند ئې حماسي وي۔ نو که دا څلور اړخيز تعريف اومنلې شي نو درې د ړومبۍ برخې په سانچه کښې ليکلي شوې حماسي نظم په انګريزۍ شاعرۍ کښې زما د وړاندې نه دې راغلې۔ د دې نور دريو برخو په رڼا کښې چې څني نظمونو ته ګورو نو حماسي رنګ او خوند لري۔ دغسې نظم لارډ بائرن د چائلډ هرولډ په مقدس سفرے Childe Herold's Pilgrimage په نامه ليکلې دې چې يو مکمل کتاب دے۔ دغه نظم ته څنې دانشوران

روماني حماسي نظم وائي. لارډ ټېنيسن Lord Tennyson هم د Idyll of the King په نوم يو اوږد نظم ليکلي دے چې په پوره کتاب کښې چاپ شوې دې. په دې کښې د برطانيه د داستاني بادشاه آرتهر و هغه د ګول مېز د شهسوار مېړنو سردارانو د مينې او مړانے يوه Knights of the Round Table مسلسله قيصه بيان شوې ده خو د نظم انعکاس که په بهادرئ او رومان وي نو د کلي والې علاقې د ګڼو کورو څنګلونو تفصيلي منظر نګاري هم پکښې شوې ده څکه نو Idyll نوم ورباندې ايښودلې شوېدے. دغه نظم د حماسي نظم ډېر خواص خپل کړي دي. د دغه څلور اړخيز تعريف د دوېمې، درېمې، او څلورمې برخې په تناظر کښې تقريباً په هره ژبه کښې داسې نظمونه شته چه دغه خواص پکښې عکسېږي. د دې ارت بېرت تعريف په رڼا کښې څنې نظمونو ته چې بيانيه يا داستان نه دي، حماسي نظمونه وئيلې شي. د امير کروړ پهلوان (پلوان يعني هيرو) نظم د ستر خوشحال خان خټک څنې نظمونه په خاص طور هغه قصيده چې د پېښور نه تر دهلي ترلي بوتلې شوے ؤو او داسې شروع کېږي چې:

څه د بد او خوب وو چې مې اوليدو سحر

يا د ايمل خان او دريا خان د مړانـے په حقله نظمونه هم حماسيت لري۔ په فقير اپي، عجب خان، ملتان خان او چمني خان چې کومې چاربيتے او بدلے ليکلي شوي دي هغه هم حماسيت ته ورته دي۔ هم په دې تناظر کښې ما د اجمل خټک کتاب د غېرت چغه ته روماني حماسي وئيلي دي۔

پاتې شوه د ملټن پيراډائيز لاسټ او د ډانټے ډيوائين کامېډي خبره نو دغه نظمونه به کلاسيک وي خو حماسي نه دي۔ ځکه چې د مذهبي احساساتو جذبے او نظر ئې حامل دي۔ ملټن ته د انګرېزۍ د حوالې کتابونه Epic Poet نه، Puritan Poet وائي۔ لکه چه تاسو ته معلومه ده، پيوريټن هغه عيسائي ډله ده چې په پروټيسټنټ Protestant چرچ کښې د ميثاق جديد يا عهدنامه جديد New Testament د حقيقي تعليماتو ا خلاقياتو (مذهبي رسمونو او رواجونو) د رائج کولو په پړه وو۔ په اردو کښې دا د مير انيس د مرثئې ډېره برخه حماسي ده۔ ځکه نو که حماسي ويرنه ورته اووئيلې شي نو ځائې لري۔ دا اپيک دا موضوع ډېر لوئے ميدان غواړي په خط کښې نشي ځائېدے، ځکه ما د اختصار نه کار اخستلې دے، خو ستاسو دا وېنا په ځائے ده چې ورجل او هومر چې کوم حماسي نظمونه ليکلي دي، لکه د يوناني هومر الياډ او اوډيسي او د رومن ورجل اينياډ د هغې په شان

نظمونه چرته بله ژبه کښې زما د وړاندې نه دي راغلي۔ پاتې شوه شاهنامه او جنګ نامه نو د دغه تخلیقاتو غالب رنګ حماسي نه تاریخي دے، خو شېکسپئیر جولئیس سیزر او اینټي کلوپټرا د حماسیت نښې نښانې لري، خو په هم انګرېزی بادشاهانو چې ئې کومے ډرامے لیکلي دي، هغه په کلیات کښې Historical Plays د عنوان لاندې یو ځائې کړې شویدي۔

د هندوانو رامائین او مهابهارت دیومالائي Mythical دي ځکه چې د هند مذهب په دیومالائي قیصو قطارو بنیاد دې، خو حماسي رنګ هم لري۔

د ایاز داؤدزي صېب د دې عالمانه او فاضلانه مفصل خط نه پس مونږ اوس د پښتو حماسي نظم باندې لږ بحث کؤو چې زما په خیال کښې د اپیک یا ملحمه نه بېل یو صنف او ادبي اصطلاح ده۔

حماسه هم د عربي نه اخستې شوې اصطلاح ده۔ او لغوني معنی کښې هغو اشعارو ته وائي چه یو شاعر پکښې د یو جنګ د پاره جذبات لمسه وي۔

راپاروي یا انګیخته کوي۔[34] د عرب نقادانو تزد حماسه کښې چې کوم خصوصي جذبات منعکس وي، هغو کښې یو ذو دا دي:

جنګونو مبارزو کښې زړه ورتیا او توروزني، مصیبتونو او سختیو کښې صبر، زغم، عزت نفس، خود داري او غیرت، بدل، د کمزورو او د ژبلونتلو حفاظت، د زورګیرو مقابله او مزاحمت، او هغه پخه کلکه اراده، د کومې چه نکلسن خپل تاریخ ادب العرب کښې د ټینیسن Tennyson یوه مصرعه کښې داسې تشریح کړې ده:

To strive, To Seek, To find, and To Yield

غرض دا چې د عرب شاعري اهمو خاصیتونو کښې حماسي جذبات د جزو اعظم درجه لري او هر کله چې ابو تمام د عربو د نمائنده شاعري مجموعي له حماسه نوم ورکړو نو بې ځائیه ځکه نه ؤو چې دهغه په نزد هم د عرب شاعري خلاصه حماسي خیالات او جذبات ګڼلے شي۔ نکلسن د

---

34 المورد الکبیر کښې ملحمه ملحیه معنی لیک ده قصیده طویله یعني اوږده قیصه۔ زما په خیال کښې حماسه او ملحمه یو فرق لنډ والې او اوږدوالې (طوالت) هم ده۔ یعني حماسه Ballads داستان وي۔

حماسي شاعري لوئ نمائنده شنغرا ګڼلے دے او د لامیه قصیده کښې ئې د عربو د حقیقي توریالیو او اتلانو یو غوره تصویر پېش کړے دے۔

متبني د سیف الدوله دربار سره تړلے ؤو چا چې د خپل عمر زیاته برخه د خپلو مسلم مخالفانو نه علاوه د رومي عیسائیانو خلاف جهاد کښې تېره کړې وه۔ دې جهاد کښې ورسره متبني هم ملګرے ؤو۔ له دې کبله د ده په قصیدو کښې د حرب او ضرب، جنګ، او جهاد د ټولو لوازماتو وسلو، جنګي ساز و سامان په حلقه ښه ډکې شهپارې موجود دي۔

دا د متبني یو مشهور شعر دے:

السیف اصلاق ابناء مِن الکتب

ترجمه: د تورې ښودلے سبق د کتابونو د دانش مقابله کښې زیات رښتونے دے۔ حماسي نظمونو ملاحم او اېپکس باندې دومره تفصیلاً بحث کولو نه پس مونږ په دے نتیجه رسو چې پښتو کښې تر اوسه داسې نظم نه دې لیکلې شوے چه هغې باندې د ملحمه یا د اېپک اطلاق مکمل طور باندې کېږي۔ د پښتو ادب معلوم تاریخ کښې امیر کروړ اولنی حماسي رنګ لرونکې نظم لیکلې دے۔ روښنائي تحریک د خونړي جنګونو تاریخ لري۔

دے کښې ګڼ شمېر ښه شاعران تېر شوي دي۔ چه خپله ئې هم په دې مبارزو کښې برخه اخستې ده، خو دوئي هم متاسفانه د دے جنګونو منظوم تاريخ نه دے ليکلے۔ اپيک يا ملحمه خو پرېږده، چه حماسي نظمونه ئې هم نه دي ليکلي او خپله ټوله توجه ئې صوفيانه او عرفاني شاعري ته ورکړې ده۔ او د دې وجه هم دا ښکاري چه طبعاً دا خلق مذهبي صوفيانه مزاج لرونکي ؤو۔ ابتداء کښې ئې څه سياسي مقاصد نه لرل۔ دوئي توره هله اوچته کړې ده چې د دوئي صوفيانه اعمالو عقائدو او مقاصدو په لار کښې چا د خنډ اچولو هڅه کړې ده۔ زه د ډاکټر همايون هما دې رائے سره متفق يم چه دا جنګونه په دوئي ورټپل شوي وو يا ئې دوئي په دې مجبوره کړې شوي ؤو۔ د روحانيت کوم تعليم ؤو، او کوم صوفيانه فکر ؤو، په هغې کښې د جنګ هيڅ ګنجائش نه ؤو۔

د پښتنو د آزادئ د دويم تحريک زمانه کښې چه ايمل خان، دريا خان، او خوشحال خان ئې مشران ؤو، صرف د خوشحال خان يو څو حماسي رنګ لرونکي نظمونه يادګار پاتې دي۔ د چاربېتې دور د ګڼو شاعرانو شاعري هم حماسي رنګ لري۔ د مروتو علاقې حماسي اعدي چه د مروتو د کسرونو د صنف په شکل کښې محفوظه ده، په رشتيا سره د ياد لرلو قابله ده۔ دا

زمونږ د پاره نه، صرف د ادبي میراث درجه لري خو ورسره د دې سیمې د خلقو تاریخ یو لیکلې دستاویز هم دے، چه د هغې وخت د مړوتو د معاشي، اقتصادي، او سیاسي حالاتو یه صفا تصویر وړاندې کوي۔ د دوه ګندونو یادولو دې اوږد قبائلوي جنګونو شاعري ته د اپیک نه وي، د ملحمه رنګ ډیر په آساني سره ورکېدې شو خو افسوس دے وختونو کښې یا روستو هم څوک هومر ورجل یا فردوسي پیدا نشو۔ د آزادي د جنګ هم چا ملحمه یا اپیک او نه لیکلو۔ او دا ډیره عجیبه خبره هم ده څکه چه پښتون قوم خو ټول عمر توره په لاس پاتې شوې ده۔ قبیلو خپلو کښې هم ترکالونو خونړي جنګونه او غورځنګونه کړي دي، او نورو قامونو لکه یونانیانو ایرانیانو ترکو، منګولو، انګریزانو او سکهانو سره ټول عمر جنګېدلي او لوغړیدلي دي۔

احمد شاه ابدالي خپله هم حماسي او رزمیه شاعري کړې ده۔ او د ده فتوحات او جنګي کارنامې د دې وخت یو شاعر د مرغذ کلي اوسېدونکي حافظ احمد د شاهنامه ابدالي په نوم نظم کړې دې۔ افسوس ما ته تر دې وخت دا چاپ کتاب په لاس رانغلو، چه د اشعارو تعداد او د معیار پته ورنه اولګي۔

۱۹۸۶ء کښې ملک الشعراء سمندر خان سمندر د کلمه توحید تفسیر په څلور شپېتو زر او اشعار د لس جلدونو کښې د توحید ترنګ په نوم اولیکلو چه یو منظوم، شهکار دے۔ د موضوع مراد، فکر او ترنم لحاظ سره د فردوسي شاهنامے نه زیات د حفیظ جالندهري شاهنامه اسلام ته ورنزدے دې۔ او د اشعارو شمېر ئې د فردوسي شاهنامے نه څلوره زره زیات کړې دے۔ د سمندر صاحب دا زیاتر کړچې یو اوږد بیانیه نظم دے، د زیاتوبونو او د تجاوزاتو باوجود د جوت وحدت او جوړښت لري۔ مافوق الفطرت قوتونو ذکر هم پکښې شته، مرکزي خیال او مقصد مذهبي، اخلاقي، پاک، او مقدس ده، یعني محض د الله تعلی رضا او د هغه خوشنودي ده۔ مضمون منشاء او مدعا هم رفعت او علونیت لري۔ هیرو ئې بالا اعلی او اونی دي۔ قرون اولی او روستو اسلامي تاریخ کښې د مسلمانانو د مصائبو مشکلاتو، قربانیانو او کارنامو ښکلې عکاسي پکښې شوے ده۔ مرکزي پیغام د خیال د رخصتونو لحاظ سره د هر څه نه اوچت او سربالا ده۔ بنده ما سواء د الله تبارک تعلی نه بنده د هر زوره ور او ظالم حاکم او د معبود د غلامي او عبادت نه آزاده وي یعنی لا اله الا الله۔ د کیسې زمانه هم په لوئې اوږدې زمانے ویره ده۔

داسې انفرادیت خصوصیات او مناسب متوازن شاعرانه ترنم اهنګ لرلو باوجود موږ دے شهکار ته اپیک یا ملحمه نشو ویلے، ګرچې ځائے په ځائے حماسي رنګ لرونکې د نظم ټکړے پکښې شته او دې سمندر خان ته د پښتو فردوسي خطاب هم حمزه بابا یو ځل ورکړې ؤو۔

د یوې ژبې ادب کښې د اپیک ډیر قدر قیمت منزلیت مقام اثر او نفوز قد و قامت او همیت وي۔ د دې ادب هله ادب عالیه اوګڼي چه د اپیک یا د ملحمه ملغلره پکښې شامله شي۔ دې لحاظ سره پښتو ادب ناوې نن هم بکره ده او د یو هومر یا ورجل یا د فردوسي په انتظار کښې ده چه دا ستر کمے پوره کړي۔

پښتو کښې د اپیک د نه لیکلو یو څو اهم وجوهات دي۔

- پښتانه خپل Myths یا اساطیري داستانونه نه لري، دومره راسې چه دوئي کښې چا د بنګالیانو، اردوانو یا د عربو په شان د رامائن او د مهابارته د ترجمې کوشش هم نه دے کړے، ځکه ډیرو محققینو دا خیال دے چه دا داستانونه هم په دې علاقو کښې اول ځل لیکلي شوي دي، چه نن ورباندې پښتانه آباد دي۔

- پښتنو تاریخ د اسلام نه مخکښې د ډېرو کوششونو باوجود نشي موندے، د خپل زور تهذیب نښې نه لري، او نه د زړو اتلانو کارنامو زباني داستان ئې هم په لاس رائحي. چه د هغو باندې ویاړ څوک پښتون فردوسي داسې عظیم فنپاره لیکلو ته اولمسوي.

- اېپک خالص یو مغربي صنف ده. عربي ادب کښې هم دا ملحمه په نوم ډېر روستو راغلې دے. اسلام او پښتون لازم او ملزوم دي. د اسلام او د دې نه مخکښې د الهامي مذاهبو تاریخ پښتون خپل تاریخ ګڼي. د متهس یا اساطیري داستانو په ځائے صفا او خالص مذهبي اسلامي قیصو باندې اعتقاد لري. هسې هم زما په خیال کښې د بابل او د سمېر دا متهس یا اساطیري داستانونه الهامي مذهبي عقائدو مسخ، ګډ وډ تخریف او ترمیم کړي یو قسم شاعرانه او ادبیانه تخلیقات او تصورات دي. داسې خالص اېپک د پښتنو روایاتو رسوماتو عقائدو و سماجي تاریخ سره سمون نه خوري.

- پښتانه تر اوسه د قبائلوي دور نه نه دي وتي. دومره راسې چه د خپل کور او خاندان څه چه د ځان نه بغېر د چا صفت هم په ګرانه کوي. د یوې قبیلې مشر د بلې قبیلې د خلقو په نظر کښې سپک،

چالاک، مطلبي، خود غرض، سازشي، انا پرست، او د غېرو په لاس کښې لوبې دونکې دے۔ معیاري او خالص اپیک د خپل قام، د وطن د معاشرت او د پخواني مشرانو اتلانو سره د انتهائي مینې او د عقیدت د جذباتو او احساساتو نه زېږېږي۔ او دلته دا حال دے چه پښتون د تاریخ په هر دور کښې د یو قام او د خپل یو وطن تشخص بائیللې دے۔ پښتو تاریخ کښې احمد شاه ابدالي اولنې بادشاه ؤو، چه دوئي ته ئې د یو ملت کېدو احساس ورکړو۔ او دوئي هم دا ګڼ صفته شخصیت د بابا په لقب اومنځلو۔ او چه کله یو ملي ریاست جوړ شو نو د مرغز حافظ احمد د شاهنامه ابدالي په نوم یو د حماسي شاعري مجموعه پښتو ادب ته ورکړه۔ چه څه نه څه د یوې ملحمې تنده په ماتېږي۔

- اپیک لیکلو د پاره چاربېته، بدله، او خاص کر کسر موزون اصناف ؤو۔ دا اصناف اکثر د پښتنو ډمانو او کسب ګرو لیکلي دي۔ دا خلق بے تعلیمه، بے علمه، او غریبان ؤو۔ پښتنو ثرف د نورو د پاره د تورې وهلو چل زده ؤو۔ د علم او د فن قدردان نه ؤو۔ دوئي مقابله کښې یونانیان تورې وهلو او قلم چلولو دواړو کښبونو کښې وتلي

خلق ؤو۔ د یونانیانو متعلقه خو دومره راسې مشهوره ده چه ړوند خوار سندرغاړې هومر خو څه چه یو کم لوستې پتو کښې ولاړ شپون ئې هم د جبریل د مقام نه خبر ؤو۔ دلته پښتنو کښې اکثر دا اولسي شاعران بے قدره معاشره کښې سپک نظره نالوستي کسان ؤو۔ معاشي فارغ البالي ورته حاصله نه وه۔ تخیل ئې ناقص او ژبه ئې نا مکمله وه۔ داسې حالاتو کښې به پښتو کښې بیا د اپیک په شان ادب عالي څنګه په وجود کښې راتلو۔

وفوق کل ذی علمٍ علیم۔

## د حوالے کتابونه


- Advanced literary Essays
- Dictionary of Literary Terms
- Coliers Encyclopaedia
- Rabindranath Tagore by Krishna Dutta and Andrew Robinson
- Abdur Rahim Majzoob: An appreciation of his poetic elements by Amir Nawaz Marwat
- ادب عالیه مولف ډاکټر نثار احمد قریشي

- المنجدنی الادب اولسم الوسیط
- مندرجات د خط د محترم ایاز داؤدزے صاحب لیکلي ۲۵ دسمبر ۲۰۰۲، سره د منني۔
- ډاکټر ظهور احمد اعوان، ډاکټر یعقوب خان مروت، ډاکټر شبر زمان تاځ زيې، مولانه عمر خان تاجه زئي، حنیف خلیل، محترم پرویش شاهین صاحب نه تپوسونه، او د دوئي جوابونه سره د منني۔
- د توحید ترنګ، لسم جلد، پیش لفظ د محترم محمد نواز طائر صاحب
- الموردالصفیر او الکبیر، انګریزۍ او د عربي لغت مصنف منیر البولبیکي، Munir Baal Baki
- د خوشحال خان په کلام کښې د لرغوني عرب شاعري ځله برېښنا، لیک ډاکټر سید عبدالله (مرحوم) ترجمه م۔ر۔شفق
- مرزا خان انصاري د روښاني مکتب یو اهم شاعر، لیک د ډاکټر محمد همایو هما، جلد الفت دوېم کال، څلورم او پنځم ګڼه، ۱۳۸۱

- د احمد شاه بابا حماسي او رزمي افکار، لیک د ع.ش.قیوم، د الفت رسالې اتم ګڼه.

# پښتو ادب کښې ادبي انځورګري (تصويري ادب)

ځکه ښائسته شوه کښيده زما د شعر

مينې د ګلرخ پکښې انځور ولګاوه (علي خان)

د پښتون تريخ خوئي، د کلک وجود او د نازک زړه امتزاج د ده د روزی امکانات غېر يقيني کړي، خو هم دا امتزاج شاعرۍ او مصوري د پاره مثالي ثابت شي (غني خان)

د نورو مهين فنونو Fine Arts لکه موسيقي، ګډا، مجسمه سازي، او د نقاشي (کشيدې) په شان د مصوري د فن مطلب هم د حقيقت (رښتياؤ) او د ښکلا لټون دے۔ ادب، فلسفه، مصوري، په يورپ کښې څنګ په څنګ او د يو بل نه متاثره سره راروان دي۔ اديب د قلم سره او مصور د برش او رنګونو سره د ژوند د حقيقت د تفسير هڅه کړي۔ ادبي رسالې د اديب او د مصور په مېنځ کښې تخليقي او جمالياتي هم خيالي Understanding د روايت بنياد کېږدي۔ او داسې د يو قام تهذيبي ورثه ورسره د ثقافتي جمالياتو د يو پيړۍ نه بلې ته ورسپاري۔ نو کلاسيکي، رومانيت، حقيقت

نګاري او تاثریت وغېره صرف ادبي او فلسفیانه تحریکونه نه ؤ. دا بېل بېل وخت کښې د مصورئ رجحانات هم پاتې شوي دي.

## د مصوري د تحریکونو تاریخ

د نوالسمې صدۍ عیسوي نه یورپ کښې د مصوري تاریخ څه داسې راروان دے. د دې صدۍ په شروع کښې الګریس او ډیلد ګراځ داسې مصوران ؤ چې څنې یوناني اساطیر او د بائیبل کیسې ئې د عقیدې یا د فېشن په توګه پېنټ کړے.

بالزاک او بودلئیر اصل کښې ادیبان ؤ نه که مصوران، چه په خپل لیکونو کښې به ئې د تاثریت او مابعد تاثریت د نظریو په تناظر کښې د تجدیدي مصوري په لړ کښې نوې نوې خبرې کولے.

### تاثریت Impressionism او مابعد تاثریت Post-Impressionism

د دواړو تحریکونو بنیادي خاصیتونه یو دي. یعنی د رڼړا لمحاتي تغیر پذیري خاص اهمیت لري. یعني د رڼړا په بېلو بېلو څیزونو باندې منعکس کېدل او خورېدل. رنګ خپل پورا تاثر پرېږدي او تصویر لکه چه خبرې کوي. دا مصوران د لکیرې (line) هیت form او آهنګ harmony کښې هم د

فطرت سره تړون لري او د تخیل او د اختراع پرواه نه کوي. ولندیزی مصور وین ګو د دې تحریک د ټولو نه ستر نمائنده ګڼل کیږي او د یو اندازې مطابق د ۱۸۹۰ء نه تر ۱۹۴۲ء راسې تقریباً ٦٧٧ ګتابونه د ده په فن او شخصیت باندې اولیکل شو.

لنډن او پیرس د تهذیب د ده مرکزې دے. د ۱۹۰۰ء پیرس کښې پابلو پکاسو خپلو تصویرونو کښې د نیشتۍ ژپلو فقیرانو، خسته حال بازي ګرو، د بې یارو مددګارو سندرغاړو، او د لاچارو لاوارثه بنځو انځورګري اوکړه. د دوئي د دردناکې تنهائي او د روح د ویرانۍ اظهار ئې اول په هلک نیله رنګ، او روستو ګلابي رنګ کښې شروع کړو. هم دې پیرس کښې هنري ماتیسي د فاؤ ازم د تحریک د یو نمائینده په توګه مخته راغلو.

## فاؤ ازم

فاؤ ازم کښې د تند جذباتو وحشیانه اظهار ته د درندګۍ تر حده تصویر کښې اولیت ورکیږي.

## مکعب یاتي مصوري

د فاؤ ازم په مزاحمت کښې د براق او د پکاسو مکعب یاتي مصوري مخته راغله۔ اپولي نئیر چه یو شاعر ؤو، د دې زبردست ترجمان جوړ شو۔ د مکعب یاتي مصوري کولاژ د رجحان دا مصوري شوخي او چمک لري۔ څلور ګشته (مستطیل او مربع) او د دائرو په شکل کښې وی۔ دا مصوري چه د مکبیت نه ماخوذه وه، روستو ښخي تجدیدي شوه او دې کښې هم ډیرازم راؤوتل۔

## فیوچرزم

د اطالوي انارکسټو او فاشسټو مصورانو د دې ګروپ لاربښود او مبلغ یو شاعر مارینیټي او فلاسفر نقشے ؤو۔ قوت، زور، حرکت، رابښکون او رابښکل او جارهیت د دې تحریک ضروري عناصر ؤو۔

## سر رئیل ازم

د مصوري د دې تحریک رهنمائي نامتو ادیب آندرے پرټین ۱۹۲۴ء کښې کوله، چه غیر منطقي دنیا بے اصل جهانونه شعور او لاشعور د اثر

لاندې خوبونو او د وهمونو د فرائیډ او د صوفیاؤ توجیحات خپل موضوع ګرځوي۔

## داډا ازم

د دې تحریک د عروج باعث فرانسي شاعر او نثرګار ټرسټان زارا ؤ۔ د داډا ازم علمبردار د جمالیاتي عناصرو د فعلیت په ځائې د عدم فعلیت او د عقلیت په ځائې د لایعنیت [35] قائل دي۔

## د کیلي ګرافک اسلوب مصوري

یو امریکی د بهائي مذهب منونکي پینټر مارک ټوبي (۱۹۱۸ء) د دې تحریه امیجري خطاطي او د مصوري باني ؤ، چه جدید مصوري ته ئې د مشرقي فن خطاطي اثرات ورکړه کړل۔

## تحریري مصوري

د شلمې صدئ د منځون پورې ټوله دنیا د تحریري Abstract مصوري په سحر کښې ګېره شوه۔ تحر اصل کښې څه شے دے؟ دا د جسامت، وجود، او د پیکر نه بنجي آزاده د موسیقي په شان خپل وا که فکر ده، چه

35 بے مقصدیت

خاکه نګاري نه کوي، څه کیسه نه بیانوي، د یو دیو مالا نه پرده نه اوچتوي، بلکه د روح د هغې ناقابل د بیان لوئې جهان پته په ګوته کوي، چرته چه خوب یو فکر جوړ شي، او چرته چه محض یوه نخښه یا اشاره یو ذات یا وجود جوړ شي. د دې تحریک علمبردارو دعوی ده، چې د شلمې صدۍ هغه ډکه او جامع خاکه ده چه د انسان هغې عکس ته ئې وجود ور اوبخښلو چه د خپل شتو (ثبات) د پاره لاس پښې وهي، او دا مطلق آزادي د پاره مُصر او په ضد وي.

د نن وخت حاکمانو امریکه او یورپ د مصوري په سفر کښې د پیکر نه د تجر په لور روان دي، خو ذهني او سیاسي لحاظ سره محکوم مشرق د خپل وجود او د پیکر په لټون کښې ده. د امریکې او د یورپ په نزد د دوئې حاکمانه مفادات او صرف مفادات صحیح او جمالي حقیقتونه دي. خو د محکوم مخکښې صرف د ده محرومیانې او مجبوریانې پراتې دي. او د اصل آزادۍ نه زیات بل حقیقت د ده مقصود نه ده. دا د مشرق د پاره د ترقي پسندي لار ده او هم د روشن خیالي فکر.

# ادبي مصوري څانګې

د ادبي مصوري دوه څانګې دي. دې کښې اولنۍ څانګه د کتاب يا د مجلې د سر پاڼې مصوري يا ډيزائننګ ده. دا تخليقي مصوري شمېرلې شي خو اعلی مصوري نشي ګڼلې. خو د اعلی مصوري د پوهې ته لار سمه وي. دويمه څانګه د مصوري د کتاب يا د مجلې دننه مصوري ده چې ايلسټرېشن هم ورته وائي. د دې مقام او مرتبه د دې سره تړون لرونکي ادب ټاکي، که هغه منلې شوې غوره ادب وي، نو د هغې مصوري به هم د اعلی پائې د آرټ درجه لري.

اردو ادب کښې نقوش اولنۍ رساله وه چه خپلې هر ئې خاص ګڼې سر پاڼه به ئې د مشهور مصور عبدالرحمان چغتائي نه جوړه وله او خاص کر د غټو غټو ادبي نمبرونو د سر پاڼې به د چغتائي د فن شه پارې وے. د عام نمبرونو، د رسالو او د کتابونو سر پاڼې به اکثر د مصور جالی تخليقات ؤ. صادقين د خطاطي، د مصوري، او د ميورل پېنټ (په ديوالونو او چتونو نقاشي او خطاطي) يو نامتو وتلي د بين الملي شهرت استاد ؤ. د دوئي نه پرته ځنې نور د مصورانو مثلاً اسلم کمالي، آذر زوبي، جميل نقش، اے

کریم، حنیف رامے، شاکر علي، تنویر مرشد، آغا نثار، او داسې نورو ډېرو د ښه نه ښه د سر پانه تخلیق کولو کښې نوم پېدا کړو۔

چغتائي د غالب، صادقین د اقبال، استاد الله بخش د وارث شاه، دهیرا او اسلم کمالي د فیض احمد فیض د کلامونو مصورانه ایډیشنونه تخلیق کړل۔ داسې رسالو کښې فوټوان، مصورانه خاکې، سکیچونه، مونوګرامونه، خطاطي، کارټونونه، او د مصورانو په شخصیت او فن لیکل کول ټول د ادبي مصوري په صنف کښې راځي۔

## پښتو کښې ادبي مصوري

پښتو ادب کښې د خوشحال بابا او د رحمان بابا وړومبي فرضي تصویرونه د کوم فنکار کارنامه ده؟ چې خوشحال بابا ته ئې د یوناني دیوتا هیرکولیس خود وربه سر کړې دے، او د رحمان بابا د مخ شبیه ئې د ټېکور نه اخستې ده؟ وئېل کېږي چه دغه دواړه افغانستان کښې د چا فنکار کارنامه ده۔ دغه شان د حمید بابا او بایزید روښان تصویرونه هم د کوم افغان تخلیقونه دي؟ مطلب دا دے چه د دې تخلیق کار مصورانو نومونه او د تخلیق کالونه ما ته د ډېر کوښښونو باوجود په لاس رانه غلل۔ زما په خیال صوبه سرحد (پاکستان) کښې چاپ د رحمان بابا په دیوانونو او

کتابونو چه د دوئي کوم تصويرونه ورکړل شوي دي، دا د پښتو ستر ليکوال او اديب سيد عظيم شاه خيال بخاري (۱۹۱۷ء تا ۱۹۹۵ء) د اکبر پورے کارنامه ده.[36] خيال بخاري صيب د ګڼو چاپو او ناچاپو کتابونو مصنف ؤ، چې پکښې ئې يو چاپ اثر رحمان بابا او يو ناچاپ کتاب آرټ په پښتونخواه کښې هم دي. د دوئي وينا ده چې خدائے تعلی مې دې ګناه معاف کړي. نشم وئيلے چې رحمان بابا به داسې ؤو او که نه. لکه چې دا کوم تصوير چې ما جوړ کړو. خيال بخاري مرحوم دا تصوير هغه وخت جوړ کړے ؤو چې لا په کوم سکول کښې ډرائينګ ماسټر ؤو (اندازاً ۱۹۴۰ کال ؤو). هم دغسې د ډاکټر مير ولي الله محسود په مقصود المومنين د پي ايچ ډي د مقالې عربي نه په انګريزۍ ژبه ترجمه شوي چاپ کتاب کښې د بايزيد روښان کوم تصوير چې ورکړے شوے دے، دا بېخي د افغان فنکار د ذکر شوي تصوير نه ځانله دے او د خيال بخاري مرحوم تخليق دے.

36 او د سعد الله دانش ساپي د دانش کتابتون د اندازې مطابق هم دا تخليقات د استاد اروابناد برېښنا کارنامې دي.

د رحمان بابا د دې تصویر د کړو وړو او د منځ د تاثر په باره کښې نامتو افسانه لیکونې محترمه زیتون بانو صاحبه یوه واقعه بینوي چې: د دریم جماعت د کورس په یو کتاب کښې د رحمان بابا هم دا معروف تصویر ؤو. یو ماشوم هلک چه کله کتاب پرانستو او دا هیبت ناک تصویر ئې اولیدو نو د ډیره یره ئې چغه کړه. د دوئي وینا ده چې د رحمان بابا د کلام په رڼا کښې زمونږ ذهن کښې د کوم شبیه او تصویر تاثر جوړیږي، دا موجوده تصویر د هغې سره بیخي سمون نه خوري.

نزدو وخت (اندازاً ۱۹۸۴ء) کښې د خوشحال بابا په یو فرضي تصویري عکس باندې عمومي اتفاق راغلي دے. د دے فرضي شبیه تخلیق کار سعید سلطان خټک دے. کیسه داسې ده چه ۱۹۸۴ء کښې د خوشحال خان خټک د یو تصویر د پاره مقابله شوې وه، چې پکښې سعید سلطان خټک، بیګم نسیم رؤف، ناصر الدین مهمند، نسیم شهزاده، آمنه فرحت جهان، او د ارباب سردار (مجسمې عکس) ساز کړي شوي تصویرونه وړاندې کړې شوی ؤ. د خوشحال نامه کتاب (په خوشحال خان خټک یو تقریب کښې پیش کړې شوې د اردو مقالو چاپ مجموعه، مرتبه خاطر غزنوي) په آخر کښې شائع شوي دي. د دغه مقابلې وړومبي انعام سعید

سلطان اخستې دے، چې اوس د یوناني دیوتا هرکولیس په ځائے په خوشحال بابا ډېرو کتابونو کښې او د ځنو په سر پاڼه چاپ شوې دے، او ډېر مقبول شوې دے۔

پښتو کښې دوه قسمه ادبي شخصیتونه شته: اول هغه چه ادیبان شاعران دي او ورسره ادبي مصوري هم کوي۔ په دې کسانو کښې د سېد عظیم خیال بخاري نوم ډېر جوت دے، چه د ادب سره د تړلیو اتلانو خیالي تصویر کشي هم کړې ده۔ غني خان یو ستر شاعر، ادیب، مصور، او مجسمه ساز ؤ۔ د دوئي د انګرېزۍ د نثر کتاب سکېچ آف پټهان اردو ترجمه دي پټهان په نامه فرنټئیر پوسټ والاؤ د رضا الحق بدخشاني په لاس کړې ده۔ سر ورق د پلس کمیونیکېشن لاهور کمال ده، او کمپوزنګ د مکتبه جدید پرېس لاهور هنرکاري ده۔ د دې کتاب د سر پاڼې په یو کټ باندې د مصوري یوه اعلی فنپاره د غني خان د خپل لاس کرشمه ده۔ د خوشحال او د رحمان دوه تصویرونه چې نن پښتو اکېډمۍ کښې آوېزاں دي، دا د غني خان د لاس شاهکارونه دي۔ داسې د کتاب مېنځ کښې چه کوم تصویرونه ورکړل شوي دي، دا هم شاید د تصور او د فکر ترحه د دې لوئے فنکار ذهني تخلیقات دي چه تزهین ئې ایم الیاس کړې دے۔ داسې

سمندر خان سمندر ته د پښتو نظم فردوسي وائي، د دوئي ځنې قلمي نسخې
چه نن ارکائيوز لائبرېري پېښور کښې پرتې دي، په هغو کښې هم په ځنو
کښې د سمندر صاحب د خپل لاس جوړ تصويرونه شته، مثلاً د يو نصوير
سرنامه ده کوزه کښې سمندر۔

د مجذوب صېب وېنا ده چه خدائے بخښلي عقاب خټک هم د ځنې
مذهبي کيسو د جنسي اړخونو تصوير کشي په تجديدي او تمثيلي رنګ کښې
کړې ده۔ او داسې ئې د مغربي مصورانو انګريس او د ډيلاکرائے ياد ئې
تازه کړے دے۔ ستر حمزه صېب د خپل د سکول د زمانې واقعاتو کښې
ليکلي دي، چه دوئي به هم په دې زمانه کښې په تخته څه تصويرونه او
خاکې جوړه ولې۔ خو ناقدر شناس استاد باندې د هغې وخت د تخليق
جوهر نه ډک يو ورکوټې مصور او د مستقبل د يو نابالغه شاعر دا تخليقي
کار ښه او نه لګېدو او الټا ئې سزا ورله ورکړه۔ داسې د همېش خليل
صېب د خپلې خله وېنا ده، چې دوئي چه کله مچهـ جېل کښې بنديوان ؤ نو
په ديوالونو به ئې ښکلي تصويرونه جوړول۔ نن د دې خبرې ګواه اجمل
خټک صېب دے۔ د دوئي دا تصويرونه د تخليقي نوعيت نه ؤو۔ د نقالي

تر حده ؤو۔ داسې حمزه او د همېش انځور ګري د ادب سره څه تعلق نه لرلو۔ صرف تر شوق تربدیده ؤو۔

ډاکټر اسرار صېب لیکلي دي: زما خو چه یاد شي، نو د کراچۍ نه به چه آباسین رساله وتله نو ډېر اعلی کاغذ او سرورق به ئې ؤو۔ چې کله کله به پرې څه آرټ مارټ هم ؤو، او د فهرست په صفحه به ئې لیکلي ؤو چه په سرورق دا شے ده، اوس نشم وئیلے چه آرټسټ نوم به ئې لیکلو او که نه۔ دویمه خبره دا ده چه په هلکوانه کښې به مې د قیصه خوانی چاپ د قیصو منظوم کتابونه لوستل۔ په هغو کښې به هم د ګوتو جوړ تصویرونه ؤو لکه تصویر به ئې جوړ ؤو چې روان دے شهزاده بهرام په طرف د ګل اندامې، یا په لور د تور زبان دیو، وغېره، دغه څیزونه به هم کټل غواړي چه پښتون اخبار یا رساله باندې به هم یو د غړ مونوګرام ؤو۔ دغه د چا ایجاد ؤو، دا به هم معلومول غواړي۔[37]

37 د "خدائي خدمتګار" د ډرامې په دغه چاپ د ډرامه نګار نوم نشته۔ خو داسې برېښي چې دا د خلیق صاحب هغه ډرامه وه چې لاهور کښې د چاپ نه پس د ګاډي په ټېشن د خلقو لاسونو ته رسېدلو نه وړاندے د هغه وخت حکومت ضبط کړلو۔ د دې ډرامې یو فوټو سټېټ نقل ما د انډیا آفس لائبرېري نه راغوښتے دے۔ دغه شان څلور پینځه د لاس جوړ نور تصویرونه هم لري۔ دا ډرامه د کتاب په شکل چاپ شوې ده۔ او ټول ۱۳۴ مخونه لري۔ د ډرامې پینځم سین یو د ده هغه تصویري صفحې درلېږم (همېش خلیل)

د پښتو اکېډمۍ پېښور مجلې پښتو په روستۍ پاڼه يو مونوګرام دے، چه د قرآن شريف يو آيت شريف، څه ورېښ خاکې، پرانستې کتاب، او د ۱۹۵۵ء ورباندې ليکلي دي۔ د دې تصويراتي خاکه د مولانه عبدالقادر صيب د ذهن کاريګري ښکاري، خو ما د ډېر تپوسونو او هڅو باوجود د دې مونوګرام د تخليق کار مصور نوم معلوم نه کړې شو۔ د پرېشان خټک صاحب وينا ده چه هغه وخت محمد شريف ايس حيدر مشهور آرټسټان ؤ۔ کېدے شي دا مونوګرام دوئي کښې چا جوړ کړې وي۔

## قند کښې ادبي مصوري

د قند د اردو برخې د وړومبي ګڼې د پاره قمر راهي صيب د مجلې ايډيټر تاج سعيد مرحوم ته يو ډيزائين ورکړې ؤ۔ په آبي رنګونو کښې جوړ د ګنو د يو ولاړ ګيډۍ په شا د ګنو د تيار فصل پټے ښودلے شوې دې۔ او لرې په پس منظر کښې د کارخانې عمارت وه۔ دا ډيزائين منظر قرېشي جوړ کړې وه۔ هغه يو ښه فنکار ؤ، خو خلقو ډېر نه پېژندو۔ د نوښار اوسېدونکے يو شوقيه او ذهين فنکار ؤ۔ ده د قند د وړومبو يو څو ګڼو سر پاڼې او د پرچې د ښائست د پاره د ننه ګاڼے بګاڼے د ليکونو قلمي پورټريټ جوړ کړي دي۔ په قند کښې چاپ د ځنې ليکونو مرکزي خيال

د ځرګندونې د پاره ئې تصوير ګړی کړې ده. منظر قرېشي په پښتو پوهېده. د ليکونو مرکزي خيال به ورته قمر راهي صاحب زباني ووې.

د قند د درېمې ګڼې (ورومبي دور جنوري ۱۹۵۸) سر پاڼه هم د آرټ ساده خو ډېره ښکلې نمونه وه. د آفتاب نومي فنکار جوړه کړې وه. په دې لاس جوړ تصوير کښې دوه کلي والې پېغلې منګي په ترخ په داسې درنه جامه کښې رواني ښودلې شوې دي چې زمونږ د ملک د هرې خطې د کلي وال ژوند د نمائندګۍ ګمان پرې کېږي.

د قند درېمې خصوصي ګڼې (افسانه نمبر) پورې چې د قند کوم اشاعتونه دي، د هغې په سر پاڼو د آرټ نمونې نشته. زيات په کښې په کېمره اخستی تصويرونه دي. په يوه پرچه نيمه د رحمان بابا هغه روايتي تصوير هم چاپ ؤو. دغه ذکر شوې خصوصي ګڼه په جنوري ۱۹۵۹ء کښې چاپ شوې ده. د مجلې په سر پاڼه په آرټ پېپر د منظر قرېشي د فنکاري ښکلې نمونه ده، چې په پکښې د ګلاب په يوه سمسوره تنکۍ څانګه يوه مرغۍ په فکرونو کښې ډوبه زوړند سر ناسته ښودلې شوې ده.

د قند په غزل نمبر پښتو مجلو په تاريخ کښې په ورومبي ځل د مجرد آرټ نمونه راښکلې شوه. د قند دا خصوسي نمبر په جولائي اګست ۱۹۵۹

کښې خپور شوې وه. د کتې سر پاڼه د نومورې فنکار "موجد" د فن شهکار دے. په دغې سر پاڼه د آیاز داؤدزیٔ د وینا مطابق د سخن ناوې د نغمې ناوې ته ترغاړه وتې ښودلې شوې ده. او دا هم چې د قند په انقلابي څو کښې یوه کامیابه هڅه دا هم ده. چې په وړومبي وار د پښتو د یوې مجلې په ټائیټل د مجرد آرټ نمونه راغله. د اکبر پورې اېس شاه نومي فنکار هم د قند څنې سر پاڼې جوړے کړې دي. د دې نه پس هم په دویم دور کښې د قند په ټائیټل پیج د آرټ ښائسته نمونې راغلې دي.

## خط د ډاکټر پروفیسر همایون هما لیک د ۶ جون ۲۰۰۵

د همایون صاحب د دې معلوماتو په تسلسل کښې زه د نن وخت د یو ستر عالم آیاز داؤدزیٔ د کتاب ادبي هڅه د دوه مضمونونو ذکر کول هم مناسب گڼم. یو د قند د غزل نمبر په ټائیټل د تجدیدي آرټ په حقله لیک، او دویم مصور تصویر شو دي. خو افسوس چه ما سره دا وخت د دوئي دا معلوماتي کتاب نشته.

پښتو ادب کښې د کتاب کښې دننه مصوري، چه ایلسټریشن ورته وائي، یو روان مستحکم روایت نشته. په روایت د حنیف خلیل، رحمت د اوې چې نن نه قریباً دوه سوه کاله مخکښې یو صاحب دیوان تېر شوې دے.

هغوئي د ليلى مجنون په نوم يوه كيسه هم منظوم كړې ده. د دې چاپ كتاب په مېنځ كښې څه تصويرونه شته. والله علم، نور حقيقت ئې ما ته معلوم نشو. البته همېش صاحب ئې مزيد تفصيل داسې ليكي: د قندهار د رحمت دا وې د ليلى مجنود د قصې يوه قلمي نسخه هم د كوم ښه آرټسټ دلاس مختلف رنګين تصويرونه لري. د دې كتاب يوه قلمي نسخه د كراچۍ په ميوزيم كښې زما له نظره تېره شوې ده. دا كتاب افغانستان كښې چاپ شوے هم دے. خو زما له نظره لا نه دے تېر شوے. په دغه حقله نور څه هم كه لاس ته راغلل، خبر به مو كړم.

د عظيم كلاسيكل شاعرانو مثلاً د خوشحال، رحمان بابا، حميد بابا، علي خان، كاظم خان شېدا، حمزه بابا، يا د غني خان د كلام مصورانه ايډيشنونه رايستلو او د شائع كولو هڅه هم چا تر اوسه نه د كړے. دلته زه د كاظم خان شېدا د محاكاتي شاعرۍ مثالونه وړاندې كوم چې د دوئي انځور كري ډېر په آسانه كېدې شي:

شېدا عكس د نوي ګل په آب كښې ليد شي

كه آغوستې دې ګلفام جامې مهينې

ته با وائي چې غنچه په نمو راغله

پس له خوبه چې غزېږي ګل اندامه

همېش خليل صېب ليکي، ما ته ياد دي، غالباً ۱۹۷۳ء کښې يو طالب علم فنکار په ډېرو ښو ښو تصويرونو د رحمان بابا د ځنو شعرونو انځور ګري کړې وه، اوس ما نه د هغه نوم هېر دے. اګر که د هغه کار مکمل نه وه، خو تکميل ته نزدې وه.

د دې نه د پښتو منظوم اولسي ادب، شفاهي کيسو، او د ځنو ټپو ډېره ښه انځور ګري کېدے شي. په يو ناسته کښې د پښتو ستر عالم، خدائے بخښلي عبدالحليم اثر افغاني صېب، اردو نامتو شاعر حفيظ جالندهري ته پښتو محاکاتي شاعري په مثال کښې يو ټپه ډېر په فخر سره وړاندې کړه.

اشنا په زرين کښښ راته کوږ شو

د بڼړو څوکه لګوم خوله ورکومه

دلته زه هم د مثال په توګه يو څو داسې ټپې ليکم چه سراسر د مصور د فنکارۍ او د منظر نګارۍ نقشه پيش کوي:

د ګودر هر بوټے دارو دے

ګودر په سر مې قبر جوړ کړے

پرے لګېدلي دي د جونو پلوڼه

چه مات منګی پیغلے زما په قبر ږدینه

د جلالا ګودر وران شے

د آباسین د غاړے کله

په جینکو دِ ساه لنډے اولګوونه

چه مړاوے نشے سیند به بیا په چپو شینه

د سپرلي بیا ځنبے ښکاره شوے

نوے شبنم تورے وریځے زیړ ګلونه

## د سرورق مصوري

تر اوسه پښتو رسالو په سر پاڼه باندې د مجلې او د مدیر نوم به په یو رنګ کښې کاتب لیکلې ؤ، او بیا زیات نه زیات یو څلور ګنده یا دائره رنګه ډیزائن کښې به جوت راښکلې شوې ؤ۔ او یو تجربه کار کاتب چه د ډیزائنګ لږ ډېر شدھ بدھ به ئې لرلو، دا کار ځاني کولو۔ یعني کاتب،

ډیزائننګ او مصور به یو ؤو۔ ۱۹۶۰ نه تر ۱۹۷۰ لیسزې کښې د اردو رسالو په سر پاڼو باندې د مصورې د تخلیق کار شروع شو۔ پښتو کښې هم قریباً په دې مودې کښې دا کار پیل کړې شو۔ لاندې د هغو کتابونو او د رسالو ذکر کوم، چه په سر ورقونو یا په مینځ کښې ئې څه نه څه ادبي مصورې شوې ده۔ خو افسوس چه دې روایت لا د اردو په شان پخې جرړې نه دي ښخې کړے۔ د ګڼو کتابونو یا مجلو په سر پاڼو یا مینځ کښې اول خو دا کار وي نه، او که وي هم نو د مصور نوم ئې نه وي ورکړے۔

| رساله کتاب | میاشت کال | مصور یا انځور ګر |
| --- | --- | --- |
| پښتو مجله | نومبر دسمبر ۲۰۰۱ | سرورق تصویر عثمان مردانوي |
| پښتو مجله | ستمبر اکتوبر ۲۰۰۱ | فوټو د راکاپوشي غر، عکس ناصر آباد، د هنزه عثمان مردانوي |
| تماشائے زندگی (اردو) | اګست ۱۹۹۹، مصنف فضل محمود روخان | عطیه شرف التصویر اکیډمي لاهور |

| | | |
|---|---|---|
| جرس مجله | جنوري مارچ ۲۰۰۰ | راشد کنډي |
| اورونه ادویرونه خاکه (عقاب او خرس) | مصنف حبیب الله رفیع، ۱۹۹۴ء | خطاط شاه محمود پتنګ، د ینبنۍ انځور، د روحاني رؤیا، قطبي خرس چې د عقاب په ځاله بلوسي ګمان مه کوۍ چې بېرته به سر یوسي |
| شپې او شوګیري | مصنف مېجر الطاف ختک، ۱۹۹۵ء | په سر پاڼه یو مصورانه شبیه لري خو د مصور نوم نشته |
| پټه خزانه د حقیقت په آئینه کښې | م۔عبدالکریم بریالې، ۲۰۰۳ء | ټائیټل محمد رحیل هزاره، PTV کوئټه |
| اولسي ادبي جرګه | محمد زبیر حسرت، ۱۹۹۸ | ټائیټل حفیظ الله عمري افغاني |
| لنډ روډ افسانې | نور الدین یوسفزی، ۱۹۹۱ء | ټائیټل کرامت الله ثاقب |
| طب نامه | مرتب همېش خلیل، ۱۹۸۴ء | د خوشحال په سر د پټکي شبیه، د مصور نوم نه لري |
| ګوتې قلم ته په ژړا شوې | طاهر افریدي | سر پاڼه راشه کُنډه |

| | | |
|---|---|---|
| وړانګه، شعري مجموعه | ګوهر رحمان ګوهر، ۱۹۸۹ء | سرورق مصور نوم نه لري |
| د تلوسو په غېږ کښې | حامد قرېشي پرهر، ۱۹۹۶ء | سرورق مصور نوم نه لري |
| دریه (افسانې) | فاروق سرور، ۱۹۸۸ء | عکس و سرورق کليم خان |
| سوچونه او کړ لیچونه (شاعري) | عبدالمالک بېکسيار، ۱۹۹۷ء | عبدالحئ پوپلزی |
| سپيدي مجله | ۱۳۶۹، احمد شاه ابدالي د تاج پوشي ساده رسم | انځور ګر اروانښاد استاد برېښنا |
| زړه بخري | ډاکټر فضل دين خټک، ۱۹۸۹ء | سرورق مصوري نمونه لري خو د انځور ګر نوم نشته |
| جرس | اکتوبر دسمبر ۱۹۹۸ء | سرپاڼه راشيد کنډي |
| پېزونو امېل | مياں سعد الله خان نسيم مرتب حنيف خليل، ۱۹۹۹ء | عبدالحئ پوپلزی |
| خالي لاسونه | شيرين زاده خدو | سر پاڼې معنی خېزه عکس |

| | | |
|---|---|---|
| | خپل | لري خو د عکاس نوم ځائې خالي دے |
| درې میاشتنۍ ګلبڼ | تنویر شاه کمال او زبیر حسرت، جنوري مارچ ۱۹۹۸ء | سرپاڼه سید طفیل تاب |
| د کاڼي وښکې افسانې | خورشید اقبال خټک | سورق Buxsons محمد بخش |
| په غزل زیرے | شاعر احمد جان احمد، ۲۰۰۳ء | سرورق باندې جوړه د مصوري نمونه د خپل د دې شعر تفصیر دې، خو مصور نوم نشته: |

زیرے مې درباندے ائې خېره احمد وائې

سور غر د شیخ بدین مې تول غزل کړو د پښتو

| | | |
|---|---|---|
| کټ (افسانې) | جمال رازي، ۲۰۰۳ء | ټائیټل چارې ئې د ځلمو مسعود الرحمان او شاه زمان دي |
| جرس | اپریل ستمبر ۲۰۰۲ء | سر پاڼه اتل د افسر علي |

| | | |
|---|---|---|
| | | افسریو نظم شاعر او مصور پکښې د لوستو ده |
| رڼې اوبه (شاعري) | شهاب بنوڅے، ۲۰۰۳ء | سرپاڼه طارق محمود دانش |
| واده ونه شو (ناول) | شیر زمان طائزے، ۱۹۹۷ء | د سر پاڼې انځورګر، ظهور |
| د سپیدي مجله | ۱۳۲۰ھ ۱۹۹۱ء جنوري فروري | په پرېښي د شاعر پیر محمد کاکړ لاسکښکی انځور، غلام علي |
| پښتو | اکتوبر نومبر ۱۹۹۶ء | سر پاڼه سپین تل د شپې مال، په شکریه د سلیم بنګښ |
| باغ باړی، د علامه اقبال سندرې | ماشومانو سندرې، سلطان فریدي، ۱۹۹۵ء | ماشومانو د پاره ساده خاکي او د لاس جوړ تصویرونه ایلسټریشن لري، خو د انځورګر نوم ندي لیکلے |

| | | |
|---|---|---|
| سیلۍ او باولۍ | مشر علي ګل پیوند، ۱۳۷۶ ه | د پښتۍ طراح او خطاط، استاد حسن پاوند |
| بیا هغه ماښام دے (افسانه) | طاهر افریدي، ۱۹۹۸ء | سرپاڼه (ټائیټل) نادره خاتم او خاکې د راشد کنډي |
| آهونه او سرونه | مرتب زلمي خټک، ۱۹۹۶ء | مخ پاڼه، رفعت خټک |
| لولیه پیغله | پوهاند عبدالشکور رشاد، ۱۹۹۵ء | سر پاڼه محمد اکبر سلام (د لاس تصویر) |
| ګلبڼ | ترتیب تنویر شاه کمال او حضرت زبیر زبیر، اپریل جون ۱۹۹۸ء | سر پاڼه د ناصر سیماب |
| د وینو رنګ په لمبو ښنګه ښکاري | شاعر رحمت شاه سائل ۱۹۹۳ء | ټائیټل ظهره قزلباش |
| د لمبو په سوري | سائل، ۱۹۹۴ء | ټائیټل سعید سلطان |
| سپینے پاڼے (افسانه) | پروین فیض زاده ملال ۱۹۸۶ء | د پښتۍ انځور ګر عبدالله نوابي شادکام |

| | | |
|---|---|---|
| میاشتنۍ لیکوال | فروري ۱۹۹۵ | سرپاڼه اوس به ښه ډېر کوکار کړو، سرورق عبدالحئ پوپلزئ |
| د آزادۍ سحر | غازي سيال ۱۹۹۰ء | سرورق Buxsons |
| شپې | روح الامین نایاب شاعري، ۱۹۹۲ء | سرورق مراد آرټسټ |
| کړکۍ | شاعر صابر شاه صابر، ۱۹۹۹ء | سرپاڼه عبدالحئ پوپلزئ |
| د قطب ستورے (شاعري) | منتظر بېټني ۲۰۰۰ء | مخپاڼه، طارق محمود دانش |
| سپینې سپینې وړومبي برخه | ۲۰۰۰ء | د سر پاڼه مصور Buxsons |
| کلیات خوشحال خان ادبي ټولنه کابل | ۱۳۵۸ یا ۱۳۴۵ ه | په سر پاڼه د خوشحال زړه شبیهه، مصور امید |
| جرس | اپریل ستمبر ۲۰۰۲ء | سر پاڼه اتل |
| دار الاوهام (شاعري) | عبدالرحیم مجذوب، ۱۹۸۰ء | سر پاڼه سعید سلطان |
| جرس مجله | جنوري مارچ ۱۹۹۸ | سرپاڼه عمر، پائیدین |

| | | |
|---|---|---|
| | | ګران |
| جرس مجله | جولائي ستمبر ۱۹۹۷ | سرپانه پائیدین ګران |
| جرس مجله | جنوري مارچ سلسله ٦ | سرپانه زهره قزلباش |
| رباب د لېونتوب (شاعري) | عبدالرحمان باګرام ختک، ۱۹۹۹ء | ډیزائین آسیا سافټ، پېښور |
| جرس مجله | جولائي ستمبر ۱۹۹۹ء | سرپانه، راشد کنډي |
| شعر پېژندنه | صدیق روهي، ۱۹۹٦ء | د پښتي انځور، حامد سحر |
| تماس مجله | ۱۹۹۷ء | سرپانه حبیب صادقي |
| جرس | اپریل جون ۱۹۹۵ء | سرپانه راشد کنډي |
| جرس | جولائي ستمبر ۱۹۹۳ء | سرپانې مصوري او خطاطي، پائیدین ګران |
| جرس | جولائي ستمبر ۱۹۹۴ | سرپانه پائیدین ګران |
| جرس | اپریل جون ۱۹۹۸ء | سر پانه راشد کنډي |
| جرس | جنوري مارچ ۱۹۹۱ء سلسله ۲ | سرپانه د مصوري کرښې لري، خو د مصور نوم نیشته |

| | | |
|---|---|---|
| تنقيدي کرښې | سليم راز ۱۹۹۹ء | ټائيټل او سکيچ محمد کمال او عرفان ستار |
| سترګې د سترګو نه شرمېږي (د نکلونو مجموعه) | عدنان بخاري ۱۹۹۸ء | مصور خالد خټک |
| خرابات | پير ګوهر ۱۹۹۴ء | د سر پاڼي خاکه د ظفر |
| د سندرې روح | غازي سيال ۲۰۰۰ء | سرپاڼه ناصر الدين مهمند |
| هوا او ځرا غون شاعر | درويش دراني ۱۹۹۵ء | سرورق جمال شاه |
| تنده افسانې د فاروق سرور | ۱۹۹۴ء | عکس کليم خان، ټائيټل طارق جميل |
| کنګل ژمي، ګنګل لاسونه (کيسۍ) | عبدالخالق رشيد، ۱۳۷۳ ه | د پښتۍ انځور ګر عبدالله سادګام نوالي |
| راشه زما ويراوه ماتم ته غوږ شه | شاعر انور ۱۹۹۸ء | د پښتۍ طرحه استاد محمد حسن پاوند |
| د رحمان بابا ديوان | پښتو ټولنه کابل ۱۳۵۶ه | د رحمان بابا عکس انځور محمد روحاني رؤيا |
| په خپل شکل ځرګندېږم (مرکې) | همايون هما ۲۰۰۲ء | پير وقار حسين مردان |

| | | |
|---|---|---|
| شین ټاغي (ناول) | سعد الدين شپون ۱۹۹۷ء | د پښتې طرح، د اژګفر |
| سفر مدام سفر | سفرنامه طاهر افريدي ۱۹۹۰ء | سرورق انور انصاري |
| خوشحال خان خټک، چاپ د لوک ورثه | فارغ بخاري، رضا همدالي، ۱۹۸۰ء | سرورک خاکه، نسیم الله راشد |
| پښتو | نومبر دسمبر ۱۹۹۸ء | د سرپاڼي تصوير منته د ښاغلي يونس |
| زنځيرونه | شاعر عبدالخالق بادل، ۱۹۸۵ء | ټائيټل سيد مسرت حسين |
| جرس | اکتوبر دسمبر ۱۹۹۲ء | سرپاڼه راشد کنډي |
| ټاټمول شاعر | شفيق العالم معزوريار ۱۹۹۵ء | سرپاڼه محمود رشي |
| ښکلے دے وطن زما (رپورتاژونه) | سيد صابر شاه صابر ۲۰۰۴ء | ډيزائن جاويد احمد هميم |

# پښتون ناول[38]

د ناول لغوي مطلب Random House Webster Dictionary کښې بطور اسم داسې لیک دی: "A fiction prose narrative of considerable length"، ترجمه : یو مناسب اوږد فرضي نثري بیان.

ناول بطور اسم صفت د یو نوي قسم په مانا رائجې (of a new kind). د اردو نقاد ښاغلي انورجمال هم دا مفهوم داسې ادا کړې دے:

ناول: نیا (نوی) انوکها- عجیب - نمایان (جوت برسېره).

ناول اصل کې د لاطیني (اطالوي) ژبې ټکي Novella نه وتی دی چې لغوي معنا یې ده "عجیبه څیز، کیسه یا یوه تږته خبر". نن سبا انګریزي لغت کې Novella یا Novelette یو ورکوټي یا لنډشانتې ناولګي ته وایي.کولیئرز انسائکلوپیډیا د ناول تعریف داسې کوي:

Novel a work of prose fiction of considerable length in order to distinquish it from the short story and the novelette, it is generally assumed that the novel should contain at least fifty thousand words. It has taken so many shapes,

---

38دا مقاله په ډېره اسماعیل خان کښې په مارچ ۲۰۰۵ کښں لیکل شوې ده۔

particularly in the last hundred years, that any more precise definition eliminate a good proportion of the works called by the name.

ژباړه: ناول: مناسب اوږدوالی لرونکی یو نثري افسانوي اثر، د ورې کیسې یا د ناولیټ نه د فرق کولو دپاره دا اکثره فرض کېږي چې ناول به خامخا پنځوس زره ټکي لري. تېرکم و زيات سلو کالونوکې ناول دومره شکلونه خپل کړي دي چې د دې یو جامع او لنډ تعریف به ګڼ شمېر اثار چې په دې نوم بلل شي، د ناول د قطار نه و باسي.

انکارټا ورلډ انګلش ډکشنري د ناول تعریف په دې ټکو کوي:

یو افسانوي نثري اثر چې پلاټ يې اوږد او عموماً پېچیده وي. عموماً په بابونو کې ویشلی شي چې کیسه پکې په روایتي انداز د کردارونو د کار او خیال په ذریعه په مخ ځي.

د بېلوبېلو نقادانو د تعریفونو خلاصه داده چې ناول کې یوه داسې نثري کیسه پکارده چې د پنځوسو زرو نه زیات توري لري، د ژوند د مسائلو ترجماني په فني چوکاټ کې وکړي،او کردار، سسپنس، نظریه حیات، پلاټ، ماحول وغېره فني لحاظ سره په خپل ځای د توازن سره راشي او ورسره د لیکونکي د نقطۀ نظر وضاحت هم د واضح پیغام په شکل کې

وشي. د ناول لمن لویه ده او په لویه پیمانه د ژوند عکاسي کوي. ناول د انساني ژوند مکمل تفسیر وي چې پکې د انساني ژوند د هر اړخ عکاسي کېدلی شي.

## د ناول تاریخ

اولنۍ افسانوي کیسې چې د ناول نوم ورته ورکړای شو د دیارلسمې پېړۍ په اخر کې په اټلی کې سازې کړې شوے. خو په اولسمه پېړۍ کې یؤ ریښتونی ناول ولیکلی شو. دا ناول د Miquel de Cervantes ( زمانه ۱۵۴۷ تا ۱۶۱۶ ء) لیکلی ناول Don Quixote دے چې نن هم یو شهکار دی۔ اولنۍ او د هرې زمانې دپاره یو ستر ناول شمېرلی شي. د دې نه پس فرانس، انګلینډ، جرمني، روس، ناروی او نورو ګڼو ملکونو کې بې شمېره ښۀ او معیاري ناولونه ولیکلی شول. دومره حده پورې چې په نولسمه پېړۍ کې فرانس کې د ادب غوره او اعلی صنف صرف ناول ګڼلی شو او ادیب به یې صرف هغه مصنف ته ویلو چې د ناول لیکونکی به و. او داسې شاعران او ډرامه نګاران یې روستو پرېښودل. د شلمې پېړۍ منځ کې فرانسوي ناولونو کې د شعور ازادانه بهیر (Stream of Consciousness) او د مکالمه نګارۍ عنصر ګډ شو. او داسې تر نه پورې ناول کې د هیئت او د

موصوع نوې نوې تجربې لګیا دي چې د بدلېدونکو حالاتو، پیچیده ژوند، حساس ماحول او د انساني ذهن د تېزۍ او د تخیل د اوچت پرواز تقاضې دي. پښتو ته ناول د اردو د لوري د ترجمې په شکل کې د نولسمې پېړۍ په اخر کې راغلی دی.

## د ناول فني عناصر

د ناول د فني لوازماتو، عناصرو او اجزاء په باره کې اروپايي ناول نګار سمرسټ ماهم لیکي:"پکار ده چې ناول یو زړه خوښوونکی مرکزي خیال ولري. کیسه تلوسه زیاتونکې وي. شروع، مینځ او خاتمه لري او خاتمه دې یې د شروع منطقي نتیجه وي، واقعه دې امکانیت لري او دا دې صرف مرکزي خیال په وړاندې نهٔ بیایي بلکې د کیسې د مینځه دې سر وباسي".

داسې د ناول بنیادي عناصر دا دي:

- **کیسه**: د ناول  بنیادي، زړهٔ راښکونکی او اهم جزؤ لکه د ملا د هډوکي وي. کیسه د بېلو بېلو واقعاتو او حادثاتو د ربط او جوړښت نه وجود کې راځي. خو د نن سبا ځنې نقادان کیسې ته دومره اهمیت نهٔ ورکوي او د ناول فضا د کیسې نه مقدمه ګڼي. د روسي

ناول نګار ګوګول (Gogol) په مشهور ناول Dead Soul کې دا هډوکی غایب دی.

- **پلاټ:** کیسه کې د بېلو بېلو روانو واقعاتو ای حادثاتو ربط، جوړښت او د ترلو سیکم ته پلاټ ویلای شي. پلاټ د واقعاتو د خام مواد نه جوړېږي. زمونږ نقادان د پلاټ سست والي، ټینګ والي او د بدلون د ګنجائش په باره کې چې څومره حساس دي او دومره ضروري عنصر یې ګڼي. خو د دې باوجود د والټرسکاټ (۱۷۷۱ء ته ۱۸۳۲ء) شهکار ناولونه ښځي پلاټ نۀ لري.

- **کردارنګاری:** د کردارونو معنی ده اشخاص یا وګړي. دا کردارونه کیسه یا پلاټ په مخه بوځي. کردارونه یا جامد وي یا متحرک. لوي، واړۀ یا امدادي وي. جوت یا د مثالي کردار نه ګرده کیسه چورلي راچورلي. ناول نګار په خپل ناول کې کردار په دوه قسمه وړاندې کوي. تشریحي او ډرامائي. تشریحي کې ناول لیکونکی خپل جذبات، احساسات او خیالات بیانوي او ډرامائي کې کردار د خپلو خبرو اترو او حرکات و سکنات په ذریعه خپله پېژندګلو کوي. د ناول نګار دا کمال وي چې د خپل کردار تخلیق په دا رنګ وکړي چې

د لوستونکي په ذهن دايمي نقش او ياد پرېږدي. مثلاً اردو ناول توبة النصوح کښې د ظاهر دار بيګ او کليم او د فرانسي ناول نګار فلوبرټ ناول "ميډم باوری" کې د ډاکټر کردار. جديدو ناولونو کې د کردارونو يا د اشخاصو په ځای انساني جبلتونه، جذبات، نفسيات او د هغۀ د اندرون د دنيا هنګامې متحرکې وي.

- **منظر کشي (فطرت نګاري):** ناول کې ناول نګار د خپل قوت مشاهده او متخيله په زور د خپل چاپېرچل، د قدرت د مناظرو او د سماج نقشه راکاږي.
- **مکالمه:** د کردارونو د خولو نه وتلو خبرو ته مکالمې وايي. دا مکالمې د کيسې په مخ ته تلګ کې ډېراهميت لري. کردار د خپل سماجي، سياسي، ذهني او معاشرتي حيثيت مطابق د مکالمو په ذريعه د خپلو احساساتو او د جذباتو اظهار کوي.
- **د ژوند فلسفه:** کردارونه د ژوند د يوې مسئلې يا ډېرو مسئلو ښۀ او بد اړخونه او د هغې عوامل او نتيجې را وړاندې کوي. دغې ته د ژوند فلسفه وايي.

- **سسپنس:** ناول کې ځای په ځای د حیرت، تلوسې او د نویو نتیجو د اخذکولو مقامات راځي. کامیاب ناول نګار هغه وي چې دا د شک او د حیرت فضا تر اخره قائمه وساتي.

د ناول نور اهم عناصر بیان ، جذبات نګاري، اخري نتیجه یا نکته عروج، زاویه نظر، ادبي انصاف او تصادم وي.

## د ناولو درجه بندي یا قسمونه

ناول تقریباً د ژوند په هره هغه موضوع باندې لیکلی شوی دی چې د انسان د سوچ، فکر او ژوند سره تعلق لري. عموماً د ناول درجه بندي په دوه توګه کېږي.

1. هغه ناولونه چې ټولنیز ژوند سره تعلق لري.
2. هغه ناولونه چې ساینسي غورزو پرزو ( مهم جوړې ) سره تعلق لري.

داسې د ناول نن ډېر قسمونه دي:

1. اصلاحي ناول
2. کرداري ناول
3. روماني ناول

4. جاسوسي ناول

5. ډرامايي ناول

6. واقعاتي ناول

7. تاريخي ناول

8. نفسياتي ناول

9. نظرياتي ناول

10. طبقاتي ناول

11. د ښۀ پلاټ ناول

12. جنسي ناول

13. ساينسي ناول

14. مهماتي ناول

## د پښتو د ناولونو لنډه پېژندګلو، ارتقا او فني جايزه

د نړۍ د ډېرو ژبو په شان پښتو کې هم ناول د کيسې يا د داستان ارتقايي شکل دی چې د يورپي ژبو نه د اردو په لور پښتو ته را ګډ شوی دی. خو

پښتو کې د ناول ابتداء د ترجمې نه شوې ده. او دا اعزاز دوه میاګانو صاحبانو ته حاصل دی چې د اردو دوه اولني لیکلي ناولونه یې په پښتو کې ترجمه کړل. وړومبۍ ترجمه د ډپټي نذیر احمد د معاشرتي ناول مراة العروس ده چې میا حسیب ګل په کال ۱۸۷۶ء کې کړې ده او په کال ۱۹۵۷ء کې چاپ شوه. داسې میا محمد یوسف کاکاخیل د ډپټي نذیراحمد د یو بل ناول توبة النصوح ترجمه په پښتو کې وکړه او په ۱۹۰۵ء کې چاپ شوه. دا ناولونه اګر چې د فن په تله پوره نۀ پرېوځي خو ترجمه یې په خوږه، روانه او معیاري پښتو کې ده. او وروستو لیکلي شوي د پښتو طبع زاد ناولونو دپاره بنیادي محرک ثابت شو. د نقش نګین (اصل توبة النصوح) د لیک نه یو کال پس په کال ۱۸۷۷ء کې قاضي عبدالرحمان او پادري لي مهر د انګرېزۍ یو ناول نما لیک د "سیر السالکین" په نامه ترجمه کړو.

د پښتو د اولني طبع زاد ناول د لیکلو ویاړ سید راحت زاخېلي ته نصیب شو. دا په کال ۱۹۱۲ء کې ولیکلی او خپور شو. نامه یې ده "ماه رخ، نتیجۀ عشق". دا روماني ناول یوه نیمګړې ریښتونې کیسه ده. د کلیوال معاشرت عکاسي او مکالماتي انداز یې د ستایلو وړ دی. د ۲۷ کلونو د انتظار نه پس افغانستان کې په کال ۱۹۳۹ء کې د نور محمد "تره کي" یو

سیاسي او نظریاتي ناول په "کابل" مجله کې د "بې تربیته ځوی" په نوم په ټوکونو کې خپور شو چې د نقادانو په نظر فني او هنري لحاظ سره نیمګړی دی.

د پښتو تر ډېره حده مکمل او د فن او تیکنیک له مخه رهنما اولنی ناول صاحبزاده محمد ادریس د "پېغله" په نامه په کال ۱۹۵۰ء کې ولیکلو. دا روماني ناول دی او د ناول لیکونکي ذاتي جذبات او احساسات پکې ښکاره دي چې نقادان یې یوه فني خامي ګڼي. دې موده کې عبدالله جان اسیر هم یو ناول "درسِ عبرت" ولیکلو چې پکې یې د پښتنو د معاشرې عکاسي په ښهٔ شان کړې ده. د غلام غوث خیبري یو نیم تاریخي ناول "د ابدالي توره" په کال ۱۹۵٦ء کې چاپ شو. د دې نه یو کال پس په ۱۹۵۷ء کې د اشرف دراني یو روماني جنسي چاشني لرونکی ناول "زرکې سترګې" چاپ شو. هم دا کال یو ډېر اهم ناول "نوې چپې" چاپ شو. چې د ستر حمزه بابا د قامي، سیاسي، تعلیمي، تصوفي او فلسفیانه انکارزو یوه هنداره ده. په خپل وخت کې یې د نقادانو نه ښهٔ د تحسین خراج واخستو. خو نن ځنې لکیر کې فقیر نقادان یې د ادبي مرتبې او قدروقیمت د راغورځولو کوشش کوي. رښتیا خبره داده چې زما ځاني علمي او

فلسفيانه موضوعات، کردارونه او مکالمې ډېرې خوښې وي. او دا واحد د پښتو ناول دی چې ما په ډېر شوق او عقيدت سره لوستی دی. هم په دې کلونو کې د رشيد علي دهقان ډرامايي ناول "د سرو تعويذ"، د محمد ابراهيم شبنم "خوابنې انګور" او "اجړه" او د روغ لېوني ناول "چرسي" چاپ شو. خو خوند يې ونۀ کړو او د شوقينو لوستونکو پام يې په خپل لور راونۀ ګرزولو.

د شلمې پېړۍ اوومه لسيزه د معيار او مقدار لحاظ سره د پښتو ناول زرين دور ؤ. خاص کر څلور نومونه داسې دي چې دې ميدان کې يې تر ډېره حده کاميابې، نوې او زړۀ راښکونکې تجربې وکړې. دا څلورکسان دي:

1. ميا سيد رسول رسا
2. ډ- شېرزمان طايزی
3. نورمحمد تره کی
4. غلام حبيب افغاني

## د رسا صاحب ناولونه

رسا صاحب پنځه روماني ناولونه ليکلي دي:

- مفرور
- شمې
- مامونۍ
- خودکشي
- مېخانه

د رسا ناولونو په باره کې د بېلو بېلو نقادانو رايې دا دي:

ميا تقويم الحق صاحب ليکي: "يؤ بسيار نويس اديب په پنځوسو ناولونه په يو ځای پېش کړۀ. خو رشتيا دادي چې دې صنف عوامي مقبوليت ونۀ موندو".

خو يو بل ځای خپلې رايې کې لږ اعتدال راولي او ليکي: " سېد رسول رسا صيب ډېر ناولونه ليکلي دي. روماني ناولونه چې ماحول يې د دې علاقې نه بهر دی او د عامو انسانانو د جذباتو ترجماني کوي. ځنې ناولونه يې يو قسم ته سفرنامې يا رپوتاژونه دي چې يو پلاټ کې پېرلی شوي دي او تحير يا دلچسپي پکې پيدا شوې ده. د داسې ناولونو ځان ته يو خوند دی".

ډاکټر شېرزمان طايزی صاحب چې خپله هم يو معتبر ناول نګار او نقاد دی، د رسا صاحب د ناولونو په باره کې ليکي: "د سيد رسول رسا څلور واړه ناولونه معاشي او معاشرتي خُم کې رنګ دي او د پښتون نفسياتو ته اپيل کوي. بعضې نقادان او پوهان د رسا ناولونه کمزوري ګڼي خو دې کې يوه خوبي ده چې هغه د دې ناولونو ارزښت ساتي. رسا د پاکستان سفارت خانو کې د پريس اتاشي په عهده په کابل، تهران او جکارته کې کار کړی ؤ. هغۀ په خپلو ليکونو کې د هغو حالاتو او د هغې ډپلوميټيک چاپېرچل عکاسي کړې ده. بله دا چې رسا د طالب علمۍ د وخت نه غوښتل چې پښتو د شعر او ادب نوو غوښتنو سره اشنا کړي".

اخر رسا صاحب په خپلو خواريو او کمټمنټ کې فني حوالې سره کامياب شو او ١٩٥٨ء کې يې خپل پنځم ناول د "مېخانه" په نوم وليکلو. داسې يې د پښتو ادب د ناول په تاريخ کې يو اعتباري او بهتر نوم او مقام وګټلو. د دې ناول د فني جايزې په باره کې په قد کمتر خو په قيمت بهتر ځلمي نقاد حنيف خليل دا رايې ډېره درنه ده چې په فني حواله دا ناول ښۀ دی. پلاټ يې چست، منظر کشي ښکلې، کردارونه ژوندي او سسپنس عالي

دی. په مجموعي توګه د ناول په فن د رسا صیب د رسا فکر نشان دهي کوي.

## د ډاکټر شېرزمان طايزي ناول نګاري

کۀ حمزه بابا "بابايې غزل" ؤ نو شېرزمان طايزی د پښتو ناول نګارۍ د فن بابا دی چې پنځۀ ناولې يې ليکلې دي او هغه دا دي:

- ګل خان
- امانت
- رحمان کورونه
- غونډی
- وادۀ ونۀ شو

د تقويم صاحب په شان زيرک او پوه نقاد د دۀ د ناولونو ستاينه په دې ټکو کوي: "شېرزمان په ناول کې ګڼې تجربې کړې دي او کامياب ناولونه يې ليکلي دي. هغۀ خپل ناولونه د پښتنو ماحول کې ايښي دي او نۀ صرف دا چې منظرونه يې خالص پښتانۀ دي دغه ونې، بوټي، کاڼي، مرغان او بنيادم لکه جذبات، خيالات او احساسات يې هم پښتانۀ دي".

ځاني ماته د دوئ په ناولونو کې اخرني ناول "وادهٔ ونهٔ شو" کې ډېر جدت او معيار ښکاري. جاسوسي او مهماتي ناول دی. اصل موضوع يې د جادو ټونې ټوټکې ده. سياسي او تاريخي واقعات هم لري او جغرافيايي منظر کشي يې هم د ستاينې ده.

## د نورمحمد "تره کي" ناول نګاري

د افغانستان پخواني صدر نورمحمد "تره کي" شپږ ناولونه ليکلي دي

- بې تر بيته ځوی
- ځړه
- د بنګ مسافري
- سپين
- سنګسار
- موچي

دا ټولې نظرياتي او طبقاتي ناولې دي. ناول نګار د کميونزم مبلغ، د کارل مارکس مبصر او پښتون ميکسيم ګورکي ؤ. د ترکي صاحب په دې ټولو ناولونو کې "سنګسار" په فني لحاظ سره د ستايلو دی.

## د حبیب افغاني ناول نګاري

د پښتو د ناول نګارۍ په تاریخ کې حبیب افغاني ډېر اهم نوم دی چې نقادانو تر اوسه تر ډېره حده راسې نظرانداز کړی دی. هغوئ تر اوسه څلور ناولونه لیکلي دي:

- ښاپېرۍ
- مینه او فرض
- ناوې
- غشی (ناچاپ)

دې کې اولني درې ناولونه روماني، معاشرتي، مقصدي او د حب الوطنۍ د جذبو نه ډک موضوعات دي او څلورم یو خالص سیاسي ډایري نما ناولګوټی دی. هسې خو د حبیب افغاني اولني درې ناولونه هم فني لحاظ سره ښهٔ او معیاري ناولونه دي. خو د څلورم ناولګوټي پلاټ او تکنیک یې جدت لري. مکالمې یې د مقامي مروتوالې لهجې د ټکو او متلونو په وجه ډېر خوند کوي. مصنف تاریخ باندې پوه، ښهٔ مبصر او د سیاسي حالاتو او واقعاتو ښهٔ نقاد او تجزیه کونکی ښکاري.

د بنو غازي سیال تر اوسه ایکي یو ناول د "بنزي" په نوم ادبي دنیا ته ورکړی دی چې د فن او د موضوع اعتبار سره د خپل وخت په ښهٔ او معیاري ناولونو کې شمیرېدو او اکثر د پښتو د اعلی درجې د تدریس په کورس کې به شامل ؤ.[39]

## تاریخي ناولونه

پښتو کې د تاریخي ناولونو ابتدا د ټولو نه مخکې غوث خیبري د "ابدالي توره" نه وکړه او روستو د سوات رحیم شاه رحیم ددې بنسټ کلک کړو. رحیم شاه تر اوسه دا ناولونه لیکلي دي:

- راجکڼه
- بي بي مبارکه
- سکندر اعظم چې د فن لحاظ سره د صفت وړ دي

ددې سیمې یو بل تاریخي ناول نګار د "دشت لوط مسافر" مصنف پاینده محمد خان دی چې نقادانو یې فن ستایلی دی.[40] ښاغلي شیرین زاده

39 غازي صاحب دویم ناول منګرے لیکلي دے۔

40 پائنده محمد خان دویم ناول بهګوان آباسین آرټ کاؤنسل انعام هم ګټلي دے۔ زما په خیال آرټ کاؤنسل والو ته به پخوا د ده اولنی ناول دشتِ لوط مسافر ستائل او د انعام حق

خدوخېل هم د "غازيان" په نوم يو تاريخي ناول ليکلی دی. بايد چې د خپلو افسانو په شان يې ښهٔ او معياري ليکلی وای.

## جنسي ناولونه

د پښتو جنسي ناول نګارانو کې د ماهو خان نوم نقادان اخلي. او د پښتو د اقدارو د خيال نهٔ ساتلو په وجه يې ستاينې ته غاړه نهٔ ږدي. خو کهٔ ناول نګار په خپلو ناولونو کې د علامتي انداز نه پرته د فن د لوازماتو خيال هم ساتلی وی نو دا ناولونه به د پښتو د جنسي ناول نګارۍ په مخ تګ کې يقيناً يو قابل قدر اضافه وه.

دلته د محمد حسن خليل د نهه ناولونو ذکر کول به بېځايه نهٔ وي چې نهٔ صرف روماني او معاشرتي ناولونه دي، بلکې د فن لحاظ سره هم د ستاينې جوګه دي.

## ترجمه شوي ناولونه

لکه چې مخکې ذکر وشو د پښتو ناول ابتداء د ترجمې نه شوې ده. د دې نه پس تر اوسه د ډېرشو نه زيات ناولونه په پښتو کې ترجمه شوي دي چې

---

دار ګرزول پکار ؤو چې اوس ئې انګرېزۍ او اردو ترجمې هم شوي دي۔

دي کې اکثریت د افغانستان د لیکوالو دی. چې ګڼ روسي ناولونه یې ترجمه کړي دي. حنیف خلیل یې وضاحت سره ذکر کړی دی.

ما ځاني صرف یو ترجمه کړی ناول "فردوس یا بله نشته" لوستی دی چې د شاه جهان وګړپال زیار دی. د اصل ناول لیکونکي نوم السداوي دی. ناول عرب ملکونو (خاص کر مصر) کې د یوې ښځې د استحصال او بیا د دې زړورې ښځې د هغه سماج خلاف د یو جدوجهد او بغاوت داستان دی. ترجمه کوونکي د ترجمې حق ادا کړی دی.

ګڼو پښتنو ښځو هم ناولونه لیکلي دي. خو ما تر اوسه صرف د سلمی شاهین ناول "کڼ رڼا شوه" لوستی دی چې د ښځو د حقوقو په باره کې دی. د افغانستان په ناول نګارانو کې ما صرف د محترم سعد الدین شپون ناول "شین ټاغی" لوستی دی چې د فن، ژبې او د موضوع په اعتبار سره یؤ ښهٔ کوشش دی. د نامتو افسانه نګار طاهر اپریدي ناول "کاڼو کې رګونه" هم زما د نظره تېر شوی دی چې د قبایلي ژوند او دود دستور ښه هینداره پېش کوي. وایي چې اسیر منګل هم یو ناول د "ترله" په نامهٔ لیکلی دی خو ارمان چې لوستل څهٔ چې ما تر اوسه لیدلی هم نهٔ دی. داسې ګڼو کسانو سره ناچاپه لیکلي ناولونه پراتهٔ دي چې د پښتو ادیبانو ډایریکټري

مرتبه همېش خلیل کې یې ذکر راغلی دی. پښتو کې د سراغ رسانۍ واحد ناول عقاب خټک مرحوم "لوي بوټان" لیکلی دی چې ماته یې تر اوسه د مطالعې شرف حاصل شوی نۀ دی.

د ډاکټر شېرزمان طایزي وینا ده چې د پښتو دا دوه ناولونه پروسږکال شایع شوي دي:

1. دا خو مینه نۀ وه، د ډاکټر عبدالخالق چې یو روماني ناول دی او
2. قوماندان، د عبدالباري جهاني زیار چې د شپون د ناول "شین ټاغی" په رنګ د ثور د انقلاب او افغانستان باندې د روسیانو د یرغل په تناظر کې لیکلی شوی دی.

ډاکټر صاحب د دې ناولونو نه علاوه د ګڼو نورو ناولونو ذکر هم کړی دی. مثلاً نوی ژوند د شېرمحمد شېر، نوی کول د ساغر افریدي، وره بي بي د عبدالبصیر زخمي، توده بکره د پرویز شیخ، "ترله" د اسیر منګل، د مینې ډالۍ د بشیردودیال، ژوندۍ مینه د میا مکمل شاه، د تخت غمی د مصطفی بهار، مزل او منزل د محمد ظریف خان، پاتې شه باران دی د مصطفی سالک، شاهین د محمد اعظم ملازو، د سیند په غاړه تږی د

خیرالحکیم حکیمزي، ګل خوبانه دا یم، د دلسوز خټک، کډه په سر او پیټی د تاج سعید خټک، مینه د زړۀ په وینه د مجاوراحمد زیار، سپوږمۍ د کبرا مظهري، زبېښناک د صفیه حلیم، سکندر اعظم د رحیم شاه رحیم، الله او بهګوان د پاینده محمد خان او منګرے د غازي سیال چاپ ناولونه دي چې د کال ۲۰۰۵ء ادبي سوغاتونه دي او تا حال د نقادانو د څېړنې پامته داره دي.

زما د معلوماتو مطابق د بلوچستان سیمې یو ناول نګار هم تراوسه نۀ دی پیدا کړی.

## د پښتو ناکامه ناول نګاران

د پښتو ځینو ډېرو سترو او همه جهته لیکوالو د ناول لیکلو هڅه کړې ده خو پکې ناکامه شوي دي. ایوب صابر مرحوم د عجب خان اپریدي په موضوع د یو ناول لیکلو کوشش کړی خو کامیابه نۀ شو. داسې محترم پرېشان خټک سره هم ددوه ناولونو مسودې د ډېرې مودې نه تیارې پرتې وې خو تراوسه میدان ته راونۀ وتې. داسې دې بې هنره خاکسار هم د پښتو په یو معاشرتي کمزورتیا باندې د ناول لیکلو برید کړی ؤ. اول باب یې ولیکلو خو د طاهر اپریدي او د عبدالفتح پښتون د قدغن په زد کې راغلو. خبر کۀ یو

ناکامه شاعر یو ښهٔ نقاد جوړېدای شي نو یو ناکامه ناول نګار ته هم د ناول په تاریخ او هنر د مقالې لیکلو بلنه ورکېدای شي. ګران اسیر منګل او سلیم بنګش ډېر زورور خلق دي، څهٔ به وایې.

## د پښتو ناول ښهٔ نقادان

تقویم الحق کاکاخېل مرحوم، افضل رضا مرحوم، پرېشان خټک، ایاز داودزی، همېش خلیل، ډاکټر شېرزمان طایزی، ډ- اقبال نسیم خټک، رحیم شاه، پروفیسر رب نواز مایل، حمزه بابا، حبیب الله رفیع ، ګل باچا الفت، ابراهیم عطایي، دوست محمد شینواری، ډاکټر احمد زیار، خالد خان خټک، ډاکټر اعظم، ډ- بي بي مریم د پښتو ناول ښهٔ لوستي، زیرک ، پوه او استادان هنري نقادان دي.

## حرف اخر

پښتو کې تر اوسه د عالمي معیار او د خوښې ناول ونهٔ لیکلے شو. د دې اهمه وجه داده چې: ناول د ځنې نورو اصنافو په شان د یورپ په ځمکه زیرېدلی، پاللی او په مخ تلې باندې روان شوی دی او پښتو کې د ناول لیکل د پردي وطن ګل لاله Daffodil په خپلې ځمکې کې کرل دي. او چې وکرل

شي نو ددې د ودې دپاره سره (کهاد) هم د مقامي په ځای د یورپ پکار ده. داسې د اب وهوا او د ماحول خبره ده. د پښتونخوا اهم اقدار او موضوعات، د پښتونولۍ رواجونه دي. دلته نقادان وايي چې ناول هر حال کې د یوې معاشرې او قوم د ژوند ژواک او معاشرت ترجمان وي. نن د ګلو بلائیزېشن، شخصي ازادۍ، روښن خیالۍ، د تحریر او د تقریر د ازادۍ، د ساینس اؤ ټیکنالوجۍ او د همه ګیر انساني اقدارو زمانه ده. د یورپ په خاوره نولسمې او شملې پېړۍ کې د بیلو بیلو فلسفو او نظریاتو تودې او سړې مبارزې تېرې شوې. کله چې د جمهوریت، ازادۍ او د انساني حقوقو نظرېې، کله د فاشزم، سوشلزم، کمیونزم، کیپټلزم او داسې نور تحریکونه او کله د تشکیک، اظهاریت، عینیت او د وجودیت فلسفې پښتو ناولونو کې کۀ څوک ډېر جدت هم پیدا کړي نو د رومان، قام پرستۍ او زیات نه زیات طبقاتي کشمکش نه مخکې نشي تللای. د عالمي معیار ناول لیکلو دپاره موضوع او هیئت دواړه بدلول غواړي. د زړو اقدارو نه کۀ مکمل بغاوت نۀ وي نو دې کې زیات وسعت او ژورتیا پیداکول پکار دي. هیئت کې د ناول فني لوازماتو باندې په ټینګه زور ورکولو په ځای باید چې ناول نګار د (Free flow of the Stream of Consciousness) فضا قایمه کړي.

د انګریزی، جرمني، فرانسې، روسي او د نورو یورپي ژبو شهکار ناولونه دې په پښتو کې ترجمه کړای شي. د انساني نفسیاتو، پیراسائیکالوجي، د دنیا ګې دغویمو او د هنګامو، جدید ساینس او د ټیکنالوجی د کمالاتو او د عجایباتو زیاته نه زیاته مطالعه او مشاهده کول پکار دي. او د دې علمونو د تاثیر لاندې دې ناول ولیکلی شي. ولې چې د نن ناول ګار خو ځان د ولي، ساینسدان، فلسفي او د شاعر نه اوچت ګڼي چې د انسان د سالم ژوند مکمل ادراک لرلو دعوی لري. لنډه دا چې:

نیت پیغمبر دے دارد کتاب

## حواله جات


- Random House Webster Dictionary
- Colliers Encyclopaedia
- ناول میں کهانی کا عنصر: انتظار حسین
- خورے پاڼړے: عبدالکافي ادیب
- ناول، هنر او سفر: ډاکټر شیر زمان طائزے
- پښتو ناول، تحقیق او تنقیدي جائزه: حنیف خلیل

- پښتو ناول، پي ايچ ډي مقاله د بی بی مریم باندې يو سرسري نظر

# انډو افغان سکول اف آرټ

نامتو چیني سېلاني فائیان د کشان بادشاهانو په وخت کښې ټېکسلا ته راغلے وو او هغه د ۴۰۰ء زمانې بدهـ مندرونه په خپلو سترګو لیدلي وو۔ د کشان بادشاهانو په وخت کښې بدهـ مذهب ښه په زور کښې وو۔ د دوئي په عهد کښې چې کوم مندرونه تعمیر شوی دي، هغه اعلی فني ملغلرې وې۔ دوئي کښې ډېره ښکلې نقاشي شوې ده۔ د کالاوان ګرې، جولیان، لود مورا مور وو په مقامات عالیشان بدهـ مذهبي عمارتونه ساز شو۔ دې عمارتونو کښې د وړو کاڼو په ځائې لوئې کاڼي استعمال شول او د لوئې سائز سلے (خښتې) په کار راوستلې شوې۔ د دوئي استعمال د اولنۍ صدۍ عیسوي په روستون کښې شروع شوے وو۔ د کاڼي د بتانو او نور سنګي څیزونو د ګڼ استعمال سره دې زمانه کښې د بدهـ مت د منونکو د مهایان فوقي د خلقو په شمېر کښې لویه اضافه اوشوه، څوک چې بدهـ مت کښې د بتونو د جوړولو او د بت پرستۍ قائل وو، اول کښې به دا کاڼي د اباسین دریاب د ساحلي علاقو نه راوړلے شو او دا به پرت هار (تهه دار) کاڼي وو۔ روستو د کاڼو جوړولو (پتهر سازي) یو نوے فن معوض وجود

کښې راغے چې هغه د اندهو افغان سکول په نام بللے شی۔ دې سکول نه د کانړو آرائشي آرټ اوزيږېدو۔ د کانړو صنعت ګري دا آرټ ټېکسلې او د دې خوا و شا کښې تر ۴۶۰ ء راسې رائج وو۔ هم دا کال هن قام په دې علاقه حمله اوکړه او ټېکسلا ئې تهس نهس کړه۔ دا پوره دور مونږ په دوه برخو وېشلے شو۔ ابتدائي کشان ثقافت او ثانوي کشان ثقافت۔ د دې دور د کاڼي په نقاشي او مصوري باندې د يوناني اثراتو ژور چاپ څرګند دے۔ د دې مثال د بدهواستا ګوتها مجسمې چې د هر مارجېکي د سټوپے نه په لاس راغلي ده، د بدهه ستامبشر يا د مجسمې ته چې د جوليان نومې ځائې کښې مونتلي شوې ده، او د کالاوان [41] د بدهه د سر مجسمه چې دې ښار کښې د کنستلو په وخت برآمد شوې ده، انګريزی کښې دا نومونه داسې ورکړل شوی دي:

(1) Bodhisttva Mait Bodhisttvagautama

(2) Reva

(3) Terracotta Hood

---

41 دا درې واړه ځايونه د ټېکسلا سره نزدې زاړه تاريخي مقامات دي۔

د دې دوه سکولونو نه وروستو د کانی د نقاشي يو دریم سکول هم دې زمانې کښې په دې معاشرې او کلچر کښې ځائې جوړول شروع کړل چې ناساپه سپین پوستکي هن قوم حمله وکړه۔ ټوله علاقه ئې لاندې باندې کړه او د سنګ تراشي او د نقاشي سکول په خپل ابتدائي مرحلو کښې برباد شو۔

واسوديو اول Vusudevo د کشان خاندان آخري فرمان روا وو، چا چې د ۲۰۲ء نه تر ۲۳۰ء پورې حکومت اوکړو۔ هم دې کال د ایران د ساساني سلطنت بادشاه اُرد شیر د افغانستان یوناني ښار بیکټریا (باختر) او پکتیا ختم کړل۔ د دې بادشاه فوځونه مشرق کښې تر سر هند اورسيدل۔ د دې نه پس شاه پور ثاني هم په دې علاقې حملې اوکړه۔ د دې بادشاه د بادشاهي دور د ۳۵۰ء تر ۳۵۸ء راسې خور وو۔ د دې حملې ثبوت د هغو ایراني سِکو نه په لاس راځي چې په دې علاقې کښې مونتلې شوې دي۔ خو د هنون د حملې نه مخکښې پیروني حمله کؤنکو کښې د ایرانیانو نه سیوا د باختر د کشان قبیلې خلق هم وو۔ دوئې کښې کادارا کشان په ۳۴۰ء کښې په ساسانیانو حمله اوکړه، او د مغربي پنجاب علاقه ئې آزاده کړه او دا علاقه ئې د سپین هنون د حملې راسې د بهرني قبضې نه آزاده اوساتله۔ دا کشان حکمران د نیم یوناني ثقافت علمبردار وو۔ د دې وجه دا

وه چې دا خلق د ډېرې مودې نه بېکټريا (باختر) کښې مېشت پاتې وو۔ دا خلق د انډو افغان سکول آف آرټ سر پرست هم وو۔ دوئي دې علاقې ته د سياسي استحکام د بخښلو سره د آرټ دې مخصوص څانګې د ودې د پاره هم صحيح فضا فراهمه کړه او دې د سکون نه ډکې فضا کښې د سنګ تراشي او نقاشي فن خپل انتهائي عروج ته اورسېدو۔ دا د ماضي ټول د سنګ تراشي او د نقاشي فن روستو واچولو۔

د کشان خاندان دې طويل دورِ حکومت کښې انډو افغان سکول آف آرټ نه صرف پيدا شو او د کمال معراج ته اورسېدو بلکې کشان دورِ حکومت کښې لوئې لوئې عالمان او فاضلان پيدا شو۔ دې کښې عظيم ادبي شخصيت سواګهوش هم وو، چې شاعر، ډرامه نګار، او فلسفي وو۔ ده بدھ چريتا کتاب هم ليکے وو چې د جنوبي ايشيا په ادبياتو کښې لوړ مقام لري۔

دا پاسنے اقتباس د نامتو صحافي او سياسي کارکن مولانه اسماعيل ذبيح د کتاب اسلام آباد منزل مراد د پاڼو ۳۱۶ تا ۳۱۸ نه اخستلے شوے او ترجمه شوے دے۔ د فاضل ليکوال د ليک ماخذ جوت معلوم نه دے خو داسې ښکاري چې د انډو افغان سکول آف آرټ د اصطلاح د آثار

قدیمه د یونوي محقق آغا عبدالغفور لیکے کتاب (د ټیکسلا تهذیبي سفرنامې) نه اخستې شوې ده۔ او د کتاب د عبارت د سیاق او سباق نه معلومیږي چې دا آرټ د مشهور د زمانې د ګندهارا آرټ نه بنئېل وو۔ اوس سوال دا دے چې آیا دې آرټ ته اندو افغان آرټ وئېل صحیح دي او که نه؟ آیا د افغان په نوم یو قام دا وخت دلته آباد وو او که نه؟ دې قام د باختر سره څه تعلق وو؟

د افغان ذکر اول ځل د سپږمې صدئ عیسوي منجم ورها مهیره خپل کتاب (بهرت سمتیا) کښې کړے دے۔ نامتو چیني سیلاني هیون سانګ ۶۳۲ تا ۶۴۴ء د اے پې کان په نوم د دې قام ذکر کړے دے او د دوئي وطن ئې د سلیمان غر په خوا او شا کښې ښودلے دے۔ دا نوم دوئي ته عربو، ایرانیانو، یا ارمینیانو ورکړے دے خو یوه خبره ضرور ده چې د اسلام او د عربو راتلو سره دې نوم زیات رواج اخستے دے۔ داسې اوسني افغانستان ځنې برخو ته به ئې دوه زره کاله مخکښې نجد (باختر) او د دوې اوسېدونکی ته به ئې نجدي وې۔

نامتو مؤرخ او محقق عقاب خپل کتاب تاریخ خټک کښې لیکي: د کشان حکومت نېټه ۶۰ تا ۲۲۵ء ده۔ د دې خاندان راجه کنشک شمالي

راجدهاني پېښور به چې د بده مذهب مرکز وو، د دې بادشاه په وخت کښې پښتون تهذيب او هنر تمامې ايشيا کښې وير شو، داسې دوئي د هنو زمانه د ۴۴۵ء نه تر ۵۵۰ء راسې ټاکي۔ او دا انکشاف هم ورسره کوي چې د خان ټکے پښتنو د هنو د ژبې نه اخذ کړے دے۔

مطلب دا شو چې د کشان دور کښې چې کوم هنر او تهذيب ښه په سر کښې وو، هغه ته دے پښتون تهذيب وائي۔ د هنو خاتمه ايراني بادشاه خسرو نوشېروان په ۵۶۸ء کښې اوکړه، چې روستو د دې حکومت د عربو د لاسه ۶۵۲ء کښې آخري ماتے اوخوړو۔

رِګ وېد اوستا، او د يوناني مورخ هېرودوټس د پکهت، نجد، پخت، پکتوېس، او د پکتوان توري استعمال کړی دي چې د نن مؤرخين ئې د فيلالوجي په زور د نن پښتون ويخ ګڼي۔

دا د ۱۲۰۰ ق م ته ۵۰۰ ق م زمانه وه۔ د ۵۰۰ ق م تا ۶۰۰ء دے زر دولس سوه کلونو کښې د دې خطي تاريخ د دې قام په باره کښې غلے دے، او د تاريخ دانانو دا خيال دے چې دا وخت د موريانو، سيهين، او د پارتهين دلته قبضه وه او روستو سپين هنون دا علاقه تالا والا کړه۔ ۶۳۰ کښې هيون سانګ دلته راځي نو دا علاقه شاړه وه، او د کشميري

راجګانو د باچاهي لاندې وه. دې کشميري راجګانو په وخت کښې دا علاقه سر دوباره آباده شوه او هغه خلق چې د دې علاقې نه ئې جنوبي وسط ايشيا ته نقل مکاني کړې وه، خپل وطن ته دوباره راغلل (خيال دا دے چې دې کښې زړه پکتوس هم شامل وو چې اوس د ايراني، عربي، يا ارميني اثر لاندې ورته مورخينو ابګان يا افغان اووې، خو دې دعوې کښې اعوان قوم هم د برابر شريک دے). د دې نوی آباد کارانو مذهب اسلام وو او د ګندهارا جغرافيائي نوم په ظاهره دوئي ته قبول نه وو چې د هندوانو او د بدهوانو سره تړلے وو. د فرشته د بيان نه خو دا جوتيږي چې افغان کال ۱۴۳ هـ ۷۶۰ ء راسې د کوهِ سليمان په علاقه کښې پراته وو. دې کال دوئي د لاهور (صوابئ) هندو راجه يو سردار ته شکست ورکړو او ډير هندوان ئې اووژل او داسې د پيښور وادي (ګندهاره) په لور خوريدل شروع شول)

نهمې صدئ عيسوي کښې د کشمير راجګانو زور مات شه او د کابل ترک بادشاهانو دا علاقه قبضه کړه، او دا دعوی ئې لرله چې دوئي د کنشک بادشاه اولاد دے. ۸۸۰ء کښې د ترک شاهي ځائې هندو شاهي اونيوه. مطلب دا دے چې د کشان بادشاهانو په وخت کښې نه

دلته پښتون وو، او نه افغان، ځکه دې ته د پښتون یا افغان آرټ او تهذیب په ځائې ګندهارا آرټ او تهذیب وائي۔ د کشان تهذیب ژبه Lingua Franca هم د پښتو یا د افغاني په ځائې پراکرت وه چې خروشتي رسم الخط کښې به لیکے شوه او نن ئې وارثه هندکو ژبه ده۔ زما په خیال کښې دې آرټ ته اندو افغان آرټ په دؤو وجوهاتو وئېل شوی دی۔ د کشان ثقافت د باختر سره تعلق او دوېم دا چې دې آرټ د پاره کاڼي د اباسین دریاب د غاړې نه راوړلي شوی وو۔

ډېر روستو چې مونږ د هندوستان کښې دهلي مالوه، او رهتاس کښې د خلجیانو، لودهیانو، او سوریانو افغانانو دلاسه ساز شوي د فن تعمیر نمونې ګورو، نو د کشان دور نوم ورک کړي۔ اندو افغان آرټ او دې اصل اندو افغان آرټ کښې جوت فرق وینو۔ د کشان دور آرټ هم وصف نقاشي او مصوري ده۔ خو اصل اندو افغان آرټ امتیازي خاصیتونه، سادګي، مضبوطوالے، او پراخوالے دې۔ اولف کېرو د پښتنو د ساده آرټ مقابله د مغلیه دور منقش آرټ سره کوي او لیکي چې دهلي کښې د شېر شاه د قلعې عظیم الشان دروازو او د فصیل په مقابله کښې د شاه جهلن لال قلعه د وړو وړو خښتو کوټنۍ ښکاري۔ قلعه کښې چې کوم

جومات دے، هغه هم سادګۍ او ښکلا کښې خپل مثال پخپله دے۔ د اسلام روح ورنه برېښي۔ دې مقابله کښې د مغلو جوړ کړې ټول جوماتونه لعل و ګوهر پکښې شندلي منقش صدوقچې معلومېږي۔ د لودهیانو او د سوریانو زمانه د ترتیب سره دا ده ۱۴۵۱ء ته ۱۵۶۲ء، او ۱۵۳۹ء یا ۱۵۵۴ء۔

نن چې موږ د پشکلاوتي (چارسدې) د شهباز ګړهۍ، تخت بهائي، او جمال ګړهۍ آثار قدیمه ګورو نو د تعمیر فن دې اعلی فنپارو ته ځیر شو او دا ګمان کؤو چې شاید د دې زړو فنپارو جوړونکي څوک د بل قام خلق وو؟ دا ځایونه د پېریانو ټاټوبې یا د دېوانو استوګنې ځایونه وو؟ د نن پښتون یا افغان نه وو، دا ساده باده د ترېګنۍ ښکار خلق خو نن صرف دوه کارونه کولے شي، د تمباکو نه د نسوار جوړول، او ټکول، او د ګنې نه د رس ایستل او ګوړه سازول۔ فن کار، هنر مند، د ثقافت او د آرټ سازه نکوته خو دوئي په سپک نظر سره ګوري، مذهب خو صرف د آرټ مظهرونه بدلوي۔ د سټوپا یا د مندرونو په ځائې جوماتونه، باغونه، او مقبرې راشي۔ د بتونو او د انساني تصویرونو په ځائې د فطرت د نظارو نقاشي او ګلکاري اونیسي، د مهاتمه بدھ او د شوکه د کنده فرمانونه (edices) اوستې او

لاتونه (stucco) په دیوالونو او چتونو نقش په قرآني آیتونو خوش خطي او ښکلې خطاطي کښې بدل شي۔ مذهب د فن لطیفه کمال، حِس، نزاکت، او لطافت ته نوره ښکلا، پاکیزګي، تقدس، او ځلاور اوبخښي۔ پښتون او افغان آرټ د ارتقاء او د عروج په ځائې د تنزل او د بربادۍ ژورې کندې ته ولې پرېوتو؟ نو Ancient history کتاب مصنف البرټ هیما دې د پاره یو تاریخي، عقلي، او منطقي جواز پیدا کوي او د مېسوپوټېمیا (د دجله او د فرات د دریابونو مېنځ علاقه) او د مصر د زړو تهذیبونو مثال ورکوي، چرته چې انسان د ۴۰۰۰ ق م نه تر ۲۲۰۰ ق م د تمدن، د سائنس، او د فن د ترقۍ یو غېر معمولي درجې ته رسېدلے وو، خو روستنۍ زمانه کښې دا ترقي دې ملکونو کښې په مخ د تلو په ځائې یا خو په ځائې پاتې شوه، او لا د روستو په لار روانه شوه۔ دا حقیقتونه د انسان د ارتقاء نظریه رد کوي۔ دې لړ کښې د تواریخ پوهان د عروج او د زوال قوانین د تاریخ د تشریح زیاته محفوظه لار ګڼي۔

# پښتو شاعرۍ کښې غلوونکے متکلمانه عنصر

انګرېزۍ لغت یو تورے دے demagogue چې مطلب ئې دا لیک دے A ring leader of the rabble اردو کښې د rabble ترجمه ده، گنواروں کی بھیڑ، ھجوم، دھنئے، جولاھے، عوام۔ د demagogue دوئیم مطلب هم تقریباً د دې هم منعنی دے: A popular and fractious orator یعني غلوونکے، متکلم، سرغنه، داسې د fractious معنی ده ساه تنګے، چیچړ، زودرنجه، جګړالو، ترش خو۔

د ځنې شاعرانو شاعرۍ په اورېدو کښې یو شان وي، او لوستو کښې بل شان (حمزه بابا رح)

د بر صغیر هندو پاک نامتو خطیب او مقرر حضرت عطاء الله شاه بخاري رح په باره کښې مشهوره ده چې د شپې په وخت به ده چې کوم تقریر کولو نو اورېدونکو ژړول، خنده ول، او په جذباتو کښې راوستل به د ده په اختیار کښې وو۔ خو چې سحر به هغه تقریر په اخبارونو کښې شائع شو نو هغه اثر او تاثیر به پکښې نه وو۔ داسې حفیظ جالندهري اردو شاعرۍ کښې د ترنم او د موسیقۍ بادشاه وو۔ د ده یو نظم ابھی تو میں جوان

هون د اردو شاعرۍ په یادګاري کلاسیکي نظمونو کښې شامل دے۔ حفیظ صاحب اګرچې په خپله هم خوښ آوازه وو، او اکثر به ئې خپل کلام په مشاعرو کښې په خوش الحانۍ سره لوستو، او د اورېدونکو نه به ئې ډېر بلا داد اخستو، خو د ده دا شاهکار نظم د ملکه پکهراج په آواز کښې ریکارډ شوے دے۔ اوس ځنې ناقدین د فن او د ادب دا سوال کوي چې آیا دا د حفیظ صاحب د شاعرانه فن عظمت دے، او که د ملکه پکهراج خوښ اوازي چې اورېدونکے مسحور کړي، او د حفیظ جالندهري دې نظم ته ئې دائمي شهرت وربخښلے دے۔

ن۔م۔ راشد د اردو د آزاد نظم باني شاعرانو کښې یو دے۔ حسن کوزه ګر، د ده یو مشهور نظم دے۔ د دې نظم د اورېدو فرمائش کله راشد پخپله د ضیاء محي الدین نه کړے وو۔ او وئېلي ئې وو چې صرف ضیاء د ده نظمونه ډراماټائیز کولے شي۔ ضیاء د ده یو نظم ګمان کا ممکن په دا رنګ لهجې کښې پېش کوي چې د زړونو د درد درمان او د جفا روزګار علاج اوګرزي۔ داسې چې کله ضیاء په خپل شو کښې د راشد یو بل نظم سمندر کی تہہ میں واورولو نو خاص د سمندر او د دې د لهرونو او د چپو آواز نقشه ئې د نظر مخکښې راکښله او د ده د آواز زېر او بم داسې ؤ

څنګه د مانګي د چپو ؤ آواز راځي۔ تماش بينو به داسې محسوس کوله لکه چې د دوئي نظر په سمندر لګيدلے وي، او په دې انتظار کښې ډوب وي چې کله د لرې وطن نه د دوئي د اميدونو جهاز راځي۔

د اردو د نظم دا صدي د اقبال رح په نوم ليکلې شوې ده خو چې کله د ده نظمونو د زيډ اے بخاري په آواز څوک اوري نو د دې خوند او تاثير يو په دوه شي۔

حبيب جالب د اردو انقلابي او مزاحمتي شاعرۍ کښې د ميل د کاڼي حېثيت لري۔ او د سياسي او د مزدورانو مزدورکارو د جلسو او د جلوسونو د کاميابۍ ضامن ګڼلے شو۔ د خپل آواز په برکت به ئې يو ټکي ته څو معني ورکړې او مصرعو کښې به ئې با معني ذو معنويت پيدا کړو۔

پښتو شاعرانو کښې سمندر خان سمندر يو معتبر ناظم شاعر ؤ۔ چې استادانو شاعرانو ورته د پښتو فردوسي وئيلي دي۔ پښتو عروض ئې اول ځل متعارف کړي دي، د الفاظو، د قافيو، او د مترنم بحرونو يو چپې وهونکے سمندر ؤ۔ دوئي يو نظم دروند پښتون د سر خط لاندې تخليق کړے دے۔ چې د فوځي بينډ د سرونو غوندې زير او بم لري۔ د دې ډرامائي اثرات د پښتونوالي، د ننګ، د پت جذبه به دسر شيندني او وسرځنډنے

ولوله راوېښه وي. داسې ده يو بل نظم د انګرېزۍ شاعر سودي او د اردو نذير اکبر آبادي په طرز پښتو کښې ليکلےدے، چې د رواني، زېر او بم د الفاظو ټول موزون استعمال او صوتي اثراتو لحاظ سره د منظر کشي او د ډرامائي انداز يو غوره مثال دے، چې غوږونه، سترګې، او ذهن يو شان په وجد کښې راولي.

غني خان د پلوشو او د رڼاګانو شاعر ؤ. د حد نه زياته ذهينه بنيادم ؤ. د نوي نوي خيالاتو، تفکراتو، ښکلاؤ، احساساتو، او تجرباتو يو سمندر به ئې هر خت په ذهن کښې به خورځنګونو وو د اساليبو او د عروضو پابندياني ئې نه شوې زغملے. د دې لوګاره د شعر يوه مصرعه به ئې چابکه او دوئمه سسته وه. حمزه بابا د ده د لوړې شاعرۍ تجزيه څنګه به لنډو خو جامع ټکو کښې کوي:

غني خان د ځلانده خيالاتو خاوند دے. په عوامي ژبه کښې ليکل کوي. د عروض څه خاص خيال نه ساتي. خو ورسره د ټانک د سيمې يو ترقي پسند کلک مسلمان قام پرست شاعر منتظر بېټني په باره کښې د ده رائې ده: منتظر صاحب هم لوئے شاعر دے، کلام ئې موذون او د عروضو په تله پوره وي.

خو د غني خان دغه شاعري چې د سردار علي ټکر په آواز کښې بنده اوري نو د عروضو د وزن او د چپو دا لوړې ژورې او شاعرانې سکتې د بوږ دروند ناشناسي مترنم آواز د تکنیک او د ترک سره همواري څه چې خوش ګوارې شي. او د اورېدونکي د جذباتو، د جوش و خروش باګې د سندر غاړي په لاس کښې وي.

پښتو شاعرۍ کښې د متکلمانه غوله ولو demagoguery یو ښه غوره مثال د وجودي شاعر هاشم بابر کلام دے. د ده د کلام درې مجموعې سوري، د میلې هلک، او ورک مونتلي، تر اوسه چاپ دي. د ده په کلام کښې خیال او فکر خو بې شکه د اعلی درجې دے، او یو د نزدې وخت تړي وال شهرت لرونکي فلاسفر جان پال سارتر د افکارو لاشعوري او هم عصري عکس دے. خو شاعري ئې د هر قسمه پابندیانو نه خلاصه ده. د ده په خپل آواز کښې ریکارډ شوے کېسټ چې اول ځل مجذوب صاحب واورېدو نو سمدستي تاثر ئې دا وو چې دا لا کوم قسم شاعري ده، خو چې یو څو ځله ئې د ځان سره په غور او فکر سره واورېدو نو د ده درې نظمونه ئې انګرېزۍ کښې ژباړه کړل او دا رائې ئې وه چې په دې شاعرۍ بنده هله ښه پوهېدے شي چې انګرېزۍ کښې ترجمه شي. خو د

هاشم شاعري داسې آهنګ او وزن لري چې صرف دے ئې په خپل خطيبانه مهارت سره لوړې ژورې سموے شي. او دا لا څه، چې د ده په خپله وينا د ده د شاعرۍ تاثير او اعجاز نور سوا او ځلند شي چې ګجراتي موسيقۍ سره ئې سندر غاړے وائي.

مجذوب په خپله هم شاعرۍ کښې د سوبلي سيمې ټکي او محاورې ډېرې په کار راولي. د مصرعو جوړښت او د اوزانو ترکيب ئې هم خالص مروت وال وي. دې د پاره ځنې د قطبي سيمې نقادان خاص کر د يوسف زي لوستونکي ئې روانۍ سره په وئېلو کښې دشواري محسوس کوي او په کښې انښلي. خو چې کله دا اشعار دے په خپله يا د سوبلي سيمې استاد فنکاران سندر غاړي ئې وائي نو بيا سخن فهمه خلق ئې د يو يو ټکي مصرې او شعر نه زارېږي.

اجمل خټک په پښتو شاعرۍ کښې يو لوئے نوم دے. شاعري ئې روماني، قامي، انقلابي، سياسي، او طبقاتي شعور لري. اثر، تاثير، او سياسي غونډه رالمبه کولو لحاظ سره لاجوابه ده. خو کله کله مشاعرو کښې نقادان شاعران د ده په ځنې پکار راوستي روماني ترکيبونو باندې يو بل ته په معترضانه مسکا سره اوګوري.

داسې حمزه بابا د خپل اسلوب، معنویت، الفاظ، ترنم، شخصیت او تفکر لحاظ سره د پښتو د غزل پلار بللے شي۔ خوشحال او رحمان نه پس پستو ادب کښې دریم لوئے ادبي قهرمن ؤ۔ په شاعرۍ کښې ئې سیاسي او قومي دواړه اشارات هم شته۔ د ده په لوړې شاعرۍ باندې د ګتو کېږدولو ځائے ډېر کم دے۔ خو بیا هم نقادان د ده په لوړې شاعرۍ کښې د ترقي پسند خیالاتو او د عصري فکري شعور د کمې تنده محسوس کوي۔ حمزه بابا سره په خپله هم دا کلک احساس ؤ چې نوے کول غزل کښې تازه وینه لګیا دے ورکړه وي۔ دې مقابله کښې اوس دوئي ته نوي خیالات، او مضامین راپیدا کول ګران شو۔ خېر، بهر حال، د ده غزل دے او که نظم، وجد افرین، او تنویمي اثر هغه وخت شي چې د رفیق شنواري موسیقي او ترنم ورسره مله شي۔

رحمت شاه سائل یو اور ژبے قام پرست شاعر دے۔ او د قطبي سیمې په قام پرست زلمي کول کښې ډېر مقبول دے۔ شاعري ئې مقصدي سیاسي قامي طبقاتي او رماني ده۔ رنګیني جواني او سنګیني درې واړه لري۔ نوي نوي الفاظ او ترکیبونه په نؤو نؤو معنو او انداز سره پکار راولي۔ خو تکرار، ترنم، او کله کله د مزدور کارو او د دهقانانو د لمبه کولو په خاطر کله کله

د روایاتو او د قافیو لحاظ نه ساتلو په وجه د ډیما ګاکوي ښکار شي۔ دلته دا یاد ساتل پکار دي چې شاعرئ کښې د ډیما ګاکړي د خوښه ولو تعلق د اوربېدونکو د ذوق نظرئې فطري او موروثي رجحان، سماجي حېثیت، او جغرافیه تعلق سره هم ده۔ پښتو شاعرئ کښې دوه قسمه شاعران دي چې زه به ورته د جدا جدا مکتب د فکر نوم ورکړم۔ د خیبر سکول او د مردان سکول۔ خیبر کښې شعري محاسنو، اسلوب فن تکنیک، سنجیدګي، او بحر ته زیات اهمیت ورکیږي۔ مقصد د فن او رومانیت د کلاسیک تابع زیات خوښه وے شي۔ خو د مردان سکول کښې مقصدیت، قومیت، رومانیت، او لفاظیت ته په محدود معنو کښې اهمیت ورکوے شي۔ د مردان او د سوات د سیمې ادیبان، شاعران، او د سخن قدردان، د خانئ، د نوابئ، د جاګیردارئ، او عن چې د کارخانه دار نظام د سیوري لاندې ستر شوي دي۔ دلته سماجي، او معاشرتي حالات څه بل شان دي، او طبقاتي شعور په ځائے ئې د ملکي لنګئ او پر متي شعور ئې بیدار دے۔ دې د پاره ترقي پسند انقلابي او مزاحمتي ادب ته د ودې د پاره هغه شان ماحول په لاس ورنغلو، څنګه چې پېښور، مردان، چارسدې، او سوات کښې وو۔ هم دغسې قبائیلو، د پښتون قام پرستئ په

لړ کښې هم جذبات، احساسات، او تاریخي تصوفي، پس منظر او شعور د بندوبستي علاقې نه بېل ځانته وده اوکړه.

ډېموګاګري او مبالغه د هغو شاعرانو خاص ضرورت او عادت هم دے، چې مونږ ورته په عرفِ عام کښې قام پرست، ترقي پسند، آزاد خیاله، او انقلاب خوښونکي باغیانه خیالات لرونکي شاعران وایو. شاعر عوامي خو اورېدونکي عامي وي. دا شاعر جلسو جلوسونو کښې د ناخوانده او جذباتي خلقو نه د واه واه او آه آه د نعرو د داد اخستو کوښښ کوي. دے واه واه او آه آه کښې د شاعري فني محاسن او تکنیکي جوهر پاره پاره شي. د جذباتو په تاؤ کښې کله کله فن ژوبل شي. د مکمل ابلاغ په کوښښ کښې د ګرائمر ریز مریز جائز شي. د ځان او د جهان نه مرور خلق کله کله د نظام خرابي خپل خالق ته منسوب کړي. جنس یو تجارت او پېښه ګڼي. دا رجحان د ترقي پسند ادب د آغاز په وخت ډېر زیات ؤ. دې شاعرانو به په توڼ د فېشن ببر وېښتو خشخشي بږیره، او ګنده جامې اغوستې. حمزه بابا د خپلې شاعرۍ د شروع نه د اخلاقي او د خالق د تصور نه عاري د اشتراکي فېشني شاعرۍ برخلاف ؤ. داسې جارحانه قومیت او نسل پرستي هم ده یو حېواني سفلي، او انسانیت دښمنه جذبه

ګڼله. خو د ژوند حامله د ادب هغه تحریرونه چې د پښتون ولي او د اسلامي اصولو منافي نه وو، ښه وګڼل. د دوئي نه ئې استفاده ضروري ګڼله. ددې خيالاتو اظهار دوئي د ايوب صابر مرحوم په نوم خطونو کښې برملا کړے دے. داسې بابا به آزاد نظم ته تن آساني وے.

ژوندي خطونه ما چاپ کړل. دې کښې د چا ذکر په کوم رنګ کښې شوے دے، دې سره د چا ادبي مقام اوچت شوے دے او که غورزېدلے دے، هغه د حمزه بابا خپله رائې ده. ما دې کښې څه قسم ترميم او اضافه کول يو اخلاقي او ادبي بد دیانتي ګڼله. عن چې هغه عبارت مې هم خذف کړے نه دے چې حمزه بابا د غلط فهمۍ په بنا زما عقيده او ايمان په باره کښې تپوس دے (استغفر الله) زه د خدائے پاک په فضل کلک سني حنفي مسلمان يم). اصل خبره دا وه چې ما يو ځل ښاغلي رحت شاه سائل ته د پښتو فېض احمد فېض وئيلي وو او د دې ګواه مياشتيزه ليکوال کښې زما يو چاپ خط هم دے. ما موصوف پخپله لا پورې مخ په مخ نه دے ليدلے. صرف پښتو اکېډمي پېښور کښې مې د ختې د لوري ليدلے دے. هغه وخت د ده د زوره ورې شاعرۍ آوازه په پښتونخواه کښې اول ځل خورېده شائد اولنۍ مجموعه ئې چاپ شوې

وه۔ د دې یوه کاپي اکیډمۍ ته د سوغات کولو د پاره اکیډمۍ ته ئې تشریف راوړے ؤ۔ زه محترم سلمی شاهین سره د طائر صیب په دفتر کښې ناست وم۔ یو سړے دروازې نه راګډ شو یو کتاب ئې په مېز کېښودو او نیغ بغېر د دعا سلام نه تعدي سره باهر اووتو۔ سلمی شاهین د کتاب ټائټل او وربانديې د شاعر نوم اوکتو۔ نو سمدستي ورپسې باهر په دا ټکو سره اووته او دا خو رحمت شاه سائل ؤ۔ ما هم روستو اوکتل خو صرف د شټ زیارت مې نصیب شو۔ داسې ښکاریده چې سلمی شاهین د ده د کلام د مخکښې نه فېن وه۔

د پښتو او د اردو پیاوړي شاعر او ادیب قیوم مروت وینا ده چې سائل اول ځل د ادب دنیا ته په توګه د یو خوش نوا نعت ګو شاعر راغلے ؤ۔ او د هغه مبارک وخت او د صنف برکت او فیض دے چې نن د سائل مقام قام پرست nationalist شاعرانو کښې د اجمل او قلندر نه پس راځي، ګر چې دې دوران کښې ګڼ د پښتو نیشنلسټ ښه شاعران پیدا شو، خو د عام قبولیت پټکے وخت د سائل په سر کېښودو۔

نن چې ما د سائل د کلام لږ ډېره مطالعه اوکړه، نو د ځني لغوي فني او تکنيکي لغزشونو باوجود دا رنګ انقلابي اوريجنل، سهين، او نازک خيال اشعار مې د نظر لاندې راغلل، مثلاً:

د وينو رنګ په لمبو څنګه ښکاري

تاله تصوير په ګلاب جوړ کړم که نه؟

ژوند ئې څه نادان ؤ قتلېدو هم ئې خندل

وخت د ډېره ظلمه ژړېدو هم ئې خندل

ګل به دې ځواني کړمه سپرلے يمه

ولې دې په سترګو کښې ازغے يمه

نو په دے نتيجې اورسېدم چې شاعر کښې د ژوندي پاتې کېدو صلاحيت او جوهر شته. شاعری ئې فطرتي، او انقلابي ده، باريک بيني ئې د ستائنې ده. د خپل وطن او د قام د تفخر جذبات ئې جانانه دي، او هم مجنونانه. تشبيهات، ټکي، او د بيان اندازي نوے والے لري. د خپل تخليقاتو ته د نوم خوښه ولو په لږ کښې ئې د بې پناه انفراديت نه کار اخستے دے. خو د دې باوجود دا پيشن ګوئي کول به لږ د وخت نه مخکښې وي چې د سائل شاعري د هر دور د پاره نوې ده. ده ته د خپلې

شاعرۍ فکر او مقصد لړ نور ارفع او اعلی sublime تماکل پکار دے۔ مطالعه نوره پراخه ول غواړي۔ د جذباتو حدت او شدت کښې اعتدال او توازن راوستل غواړي۔ فن نور تراشل پالش کول او توجه غواړي۔ او خاص کر دیما کاکړي ته واکي اچول غواړي۔ زما په خیال کښې د ښې سدا بهار شاعرۍ دا خاصیت وي چې په غوږو ښه لګي۔ سترګو ته طراوت او تازګي بخي، ذهن کښې نوي تازه خیالات اچوي۔ او زړه د تازه ولو او نا اشنا جذبو سره بلده وي۔ خو د هر څه نه ضروري دي چې ذوق سلیم ته زک اونه رسوي۔ او د ذوق سلیم معاملې کښې لړ د رعایت نه کار واخلي، نو مجموعي لحاظ سره د سائل په کلام کښې کم زیات دا ټول صفتونه شته۔

څو پورې د حمزه بابا د تجزیې خبره ده، نو د دوئي هره وینا د سند او د تاریخ درجه لري۔ حمزه بابا د پښتو ادب یوه لویه آستانه وه۔ او سائل صاحب یوه آشیانه او هغه ئې هم په بلې ونې جوړه کړه۔ د آشیانې د سازولو د پاره د آستانې د هدایت، د تربیت، شفقت، او دعا ضرورت وي، خو سائل د سعد الله جان برق، شمس القمر اندیش، اکرام الله ګران، قمر راهي، سیف الرحمان سلیم، م۔ر۔شفق او د نور البشر نوید له لاسه د

فضیلت پگړۍ په سر کېښودو اکتفا اوکړه، او د حمزه بابا په شعر ئې عمل اوکړو:

هسې نه چې تندر ګنے ماسره اشنا نه دے

څه که ما په بله دنه جوړه اشیانه کړه

شکه نشته چې دې قسم شاعرۍ کښې حرکت او توانائي وي خو د برکت نه محرومه وي چې د سدا بهار او د دائمي شهرت ضمانت ګڼلے شي۔

مولوي هرګز نشد مولاۓ روم

تا غلام شمس تبریزي نشد

د شاعرۍ درې اقسام دي (۱) مقبوله شاعري (۲) کمرشل شاعري (۳) سنجیده شاعري۔ زمونږ ممدوم شاعر شاعري مقبول هم ده، او کمرشل هم، خو د سنجیدګۍ، متانت، او د رفعت په کښې لږ کمے محسوسیږي، او ذوق سلیم ته کله کله زک رسوي۔ د مثال په طور دا سعر واخلئ:

جماعت د ملاؤ حجره دے هم ور اوسپارله

پښتونه ښه شوه څه چې د ملک نه ئې ملنګ کړې

دا شعر نه خو ترقي پسند خیالات لري، نه د جدیدیت بوئین لري، او نه د مزاحمتي ادب په تعریف کښې راځي. ملا ناصح شیخ او زاهد پورې توقي ملنډې کول او د دوئي ریاکاري او د منافقت غندنه شاعرۍ کښې یو عام روایت دے. خو داسې اشعار د قام پرستۍ جذبې ته نقصان رسوي. پښتنو کښې طبقاتي منافرت سېوا کوي. د بانبړ او د کشتري تفریق پېدا کوي او د ګوانډي ملک موجوده نازک صورت حال کښې داسې وینا نور هم د اشتعال پورته کؤنکې ده. مسلمان اسلام پسند خو څه، چې یو مترقي کمیونسټ شاعر هم داسې غېر ذمه داره خبره نه کوي ځکه چې د هغه په نزد خو ملک ملا او پیر درې واړه په استحصالي طبقو کښې راځي. او قام پرست هغه خو لګیا دي د پښتون او د کمیاګر فرق هم ورکه ول غواړي. صحیح ملا خو د پښتون معاشرې یو معزز وګړے وي. جماعت او حجره لازم ملزوم دي. قام پسند پښتنو کښې صرف استحصالي طبقه ختمول غواړي. داسې طبقې کښې ملا هم کېدے شي او ملک هم. ملنګ پښتون او مغل کوم یو چې وي:

چې نشه د استبداد لري په سر کښې

ما ته یو دے که مغل دے که افغان

نن زه په خپلې پخوانۍ رائې کښې لږ ترمیم کوم۔ چې سائل صاحب د پښتو فیض احمد فیض خو نه دے، خو د ده مقام د اردو د حبیب جالب او د سحر لدهیانوي مېنځ کښې دے، دوئي ته د تاج محل او د پرچهائیاں په شان آفاقي نظمونه په پښتو کښې لیکل لا پاتې دي۔ نن حمزه بابا نشته چې زما دې رائې باندې تبصره اوکړي او د ده معتقد شاګرد او نیاز مند راج ولي شاه خټک دې خپله رائې فی الحال په دې حقله محفوظه اوساتي۔ نن مونږ ته پکار دي چې هغه فضا بیا راپیدا کړو چې حمزه بابا صنوبر حسېن کاکا جي، دوست محمد خان کامل، او داسې نورو نظریاتي لحاظ سره بېل بېل مشرانو به د یو پلیټ فارم نه د پښتو خدمت کولو۔

## راغلي لیکونه [42]

ګرانه وروره

اسلام علیکم۔ پاک الله دې روغ جوړ او خوشحاله لره۔ د نومبر دسمبر د پښتو میاشتیزه د ګران ورور هېوادمل نه په لاس راغله۔ یو وخت ؤو چې د دې مجلې یوه اعزازي کاپي به ماته هم راتله۔ خو داسې ښکاري چې

42 دا لیکونه په پښتو مجله، مارچ اپریل ۱۹۹۹ء کښې خپاره شوي دي۔

هغه دور اوس تېر شو، او زما دا اعزازي کاپي د اکېډمۍ د نوي واکدارانو د ډاؤن سائزنګ د پالیسي ښکار شوه۔ زه غوارم چې دې خط کښې د ګرانو مهربانو لوستونکو د غلط فهمۍ د لرې کولو د پاره د ډیما ګاګ او ډیما ګاګري په باره کښې نور وضاحت اولیکم چې دوئي کښې د ځنو غصه او اضطراب په مینه او تسلۍ بدل شي۔ د انګریزۍ ژبې د استعمل تورے اصل کښې د یو نامتو افاقي شهرت لرونکي یوناني خطیب Demosthenes سره نسبت او تړون لري۔ دے د ایتھنز Athens په مقام ۳۸۴ ق۔م کښې زیږیدلے ؤو۔ د ده د ټولو نه لویه کارنامه دا وه چې ده د مقدونیه د بادشاه فیلقوس برخلافه مسلسل خطبې ورکړې۔ د فیلقوس د مرګ نه پس ده د سکندر اعظم خلاف هم تقریرونه کول۔ د ایتھنز خلقو یو د سرو زرو تاج ده ته ورپه سرکړو چې هغه وخت یونان کښې د خطیب د پاره دا ډېر لوئے اعزاز ګڼلے شو۔ د ده د مقبولیت دا حال ؤو چې سکندر اعظم به هم د ځان سره د ده د تقریرونو ټوټې د ګوښیدو په انداز کښې تېره ولې۔ ډیماستھینیز د جمهوریت خوښونکے ؤ۔ د ده مجسمې نن هم په ایتھنز او ویټي کن ښارونو کښې پرتې دي۔شاعر ملټن د ده د خطبات قدردان ؤو۔ د خیالاتو او د ستائل لوړوالے او ساده بیاني د ده

د خطابت جوت خصوصیات دي. دے د خپلو پُرجوشه خیالاتو اظهار په بېل بېل طرزونو سره کوي. کله غصه، کله لعن، کله طعن، کله مزاح، کله تشنیع، کله زړه سوزي. د ده د دلائلو ارتقاء او د موضوعاتو ترتیب او انتخاب اکثر پېچیده وي خو د فصاحت او د بلاغت اعلی فني او هنري نمونې وي. د ډیما ګا ګري اطلاق د فنون لطیفه په هرې هغې څانګې باندې اصلي اصطلاحي او تمثیلي رنګ کښې کېدے شي چې د انسان نازک جذباتو، خیالاتو، او احساساتو ته اپیل کوي. خواه که هغه خطابت وي، لیډري وي، شاعري وي، موسیقي وي، رقص وي. دا قسم فنکار د خپلو پرجوشه جذباتو د اظهار د پاره د قسما قسم حربو نه کار اخلي، خواه هغه د الفاظو تروړل وي، او مروړل وي، او که د آوازونو زیر او بم وي، د جسم ذومعني حرکات وي، او که د موسیقۍ سرونه. رفیق شنواري د موسیقۍ په دنیا کښې یو لوئے نوم دے. خو د ده په باره کښې یو بل نامتو عوامي شاعر، موسیقار، او سندرغاړي سید حسن استاذ د ګران ورور زلمي خټک سره په خپلې یوې مرکې کښې وائي چې رفیق شنواري داسې موسیقار ؤو چې یو ساز غږول هم نه ورتلل. د لاسونو او اوازونو په ذریعه به ئې نورو ته هدایات کول. او دا لا څه، چه د رفیق شنواري د

کمپوزنګ او د موسیقۍ سوچه انداز ته هم سید حسن استاذ د ده مجبوري وائي- دا قسم مجبوري او کمي وي چې مشاق ماهر فن ئې د ډیما ګا ګري په هنر او چل سره په ښائست او کمال کښې بدل کړي- داسې شاعرۍ کښې هم دا څه عیب نه دے یو هنر دے- او د مبالغې په شان د ښه شعر ګاڼه او حسن اوګرځي- ولې بیا هم اعتدال غوره وي-

بهرحال، غرض دا چې ډیما ګا ګري یو د صفت او د قدر وړ هنر او استاذ کاري ده- داسې د ځان سره مشاعرو له د داد د پاره ملګرو د بوتلو خبره ده، نو دا هم پښتو شاعرۍ کښې یو زوړ او مقبول روایت دے- پخوانو چاربیتي استاذانو شاعرانو به دا قسم ډلې ګرځولې- اګرچې هغه وخت د نن ورځې په شان sophisticated مشاعرې به نه وې- بهر حال، میدان به هم د غسې ګرمېدو- اوس که چا دا زوړ روایت په یو بل طرز کښې راژوندے کړو نو د دې تجدید او د اجتهاد قدر پکار دے- د دهلي او د لکهنو مشاعرو او د پښتونخواه په مشاعرو کښې څه فرق خو پکار دے-

د قلم قبیلې هر وګړے چې څوک هم وي، او هر چرته چې وي، زما د سترګو تور دے- زما ورباندې نظر دے- حفظ د مراتب خیال ئې ساتم- دعا ورته کوم- دعا دې راته کوي-

دردست ما نه سمرقند و نه بخارا ایست

دعا بگوزِ فقیران به ترکِ شیرازي

وسلام، ډ۔ سید چراغ حسېن شاه، کرک، ۲۳ فروري ۱۹۹۹ء